لَنْ يَنَالَ اللهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلٰكِنْ يَنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ

مُدَلَّل
د قُربانۍ مسائل

احکام، فضائل او مسائل

لیکوال
مفتي محمد انعام الحق قاسمي
دارالافتاء جامعه العلوم الاسلامیه
علامه بنوري ټاون کراچی

ژباړن
مفتي محمد یعقوب نائل

جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل
0782690850 | 0775681606

لَنۡ یَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوۡمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنۡ یَّنَالُهُ التَّقۡوٰی مِنۡكُمۡ

مدلل او مکمل

دقربانی مسائل

احکام، فضائل او مسائل

لیکوال

مفتي محمد انعام الحق قاسمي صاحب

دارالافتاء جامعة العلوم الاسلاميه علامه بنوري تاون کراچي

ژباړن

مفتي محمد يعقوب نائل

جدید مکتبہ رشیدیہ

محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور 091-2580074

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : مدلل او مکمل د قرباني مسائل

لیکوال : مفتي محمد انعام الحق (قاسمی)

ژباړن : مفتي محمد یعقوب نائل

تحصیح کوونکی: ډاکټر محمد قاسم (نائل)

کمپوزر : حسين احمد (نائل)

د چاپ زيار : مولانا سيد احمد (پرواني)

مخونه : ۱۹۲

د چاپ کال : ۲۰۱۷ مۍ (۱۴۳۶ هـ)

ناشر: جدید مکتبه رشیدیه

بربښنايي کوونکی: عزت الله سلطانزي

اړيکه: 0093706912702

د قاري صاحب عبد الحق مصباح څخه مننه کووم چي د دي کتاب په بربښنايي کولو کی راسره مرسته وکړه

فهرست

مضمون **صفحه**

د ژباړن خبرې

ټولې ستاينې هغه لوی الله ﷻ لره دي چې په مسلمان امت يې دده د ځان قرباني کولو پرځای د يو څاروي قرباني کول واجب کړي دي؛ نو د همدې شکرانې د ادا کولو په موخه بايد ښتمن مسلمانان د څاروي قرباني کولو څخه دريغ ونه کړي.

ددې لپاره چې مسلمان امت د قربانۍ د شاليد، فضيلت او حکمونو څخه ځان خبر کړي؛ نو بايد دا کتاب وګوري تر څو خپله علمي تنده پرې ماته کړي. ما هم د خپلو پښتنو وروڼو د خدمت په موخه دا کتاب چې لومړی په اردو ژبه د علامه بنوري ټاون د مدرسې ستر مفتي محمد انعام الحق له لورې ليکل شوی ؤ د خپل مشر ورور انجينر جمعه خان (نائل) په مشوره مې اسانه پښتو ته راوژباړلو.

وړاندې له دې چې د کتاب په ژباړلو پيل وکړم، لومړی مې د ليکوال څخه اجازت وغوښت، تر څو په هر اړخيزه توګه د کتاب ژباړلو ته ځان چمتو کړم او دغه دی د الله تعالی په فضل دا کتاب ستاسو لاس ته ورسيد.

په لاس کې مو شته کتاب د محتوی يعنې د حروفو او جملو له مخې لنډ مګر د معنی او مفهوم له مخې ډېر لوی دی، الله ﷻ دې وکړي چې د لوستونکو لپاره د خوښې وړ او د عمل لپاره يې همدا اوس لاس په کار شي، د مهربان او بخښونکي

ښښتن په دربار کې لاسونه لپه کوم چې په راتلونکي کې هم راته د نوري ليکنې او ژباړې توان راکړي ترڅو د خپل ګران او مظلوم ولس اوښکې د خپل قلم په څوکه پاکې کړم.

ددې کتاب د تصحيح چاري مې ګران ورور ډاکټر محمد قاسم (نائل) (په کابل کې د معالجوي طب زده کړيال) سر ته رسولې، دغه راز د خپل ګران وراره حسين احمد (نائل) څخه هم زياته منته کوم چې ددې کتاب د کمپوز چاري يې په غاړه واخيستې او اوسمهال دغه دی ستاسو په لاسونو کې شته کتاب څخه ګټه پورته کوئ:

الله تعالى دې په خپل دربار کې راته قبول کړي.

ژباړن:

محمد يعقوب (نايل)

د جامعه دارالعلوم حقانيې فاضل او متخصص

د ليکوال سريزه

په هر شتمن باندې قرباني واجب ده، د واجب او فرضو ادا کول لازم دي، د شتمنی سره- سره قرباني نه کول لويه ګناه ده، په چا چې قرباني واجب وي هغه به د قربانۍ په ورځو کې څاروی حلالوي. د قربانۍ د قيمت په ادا کولو سره يې ذمه واري نه پوره کيږي او قرباني نه کوونکي لپاره سخته زورنه ښودل ښودل شوې.د قربانۍ لړی د ابراهيم ﷺ او اسماعيل ﷺ له دوره پيل او تر قيامته پورې به روانه وي، قرباني کوونکي ته د څاروي د هر وېښته په بدل کې يوه- يوه نيکي ملاويږي او د صراط په پله به ورته مزل اسانه وي.د قربانۍ د مشروعيت حکمت دا دی چې قرباني کوونکی د يو کال ژوندي پاتې کېدو د شکرانې په ډول په ده باندې قرباني واجب ده. هغه څوک چې قرباني کوي هغه شکرانه ادا کړه. هغه څوک چې شکر ادا کوي الله به ورته نعمتونه زيات کړي او هغه څوک چې شکر نه ادا کوي، الله به پرې د نعمتونو کمی راولي.د قربانۍ ډيرې مسئلې دي، د قربانۍ د مسئلو زده کولو پرته په قربانۍ کې خامخا څه کمی راځي، ددې له امله مې د قربانۍ اړينې مسئلې د هجاء تورو په ترتيب وليکلې تر څو کتونکو ته اسانه وي.خپل لوی څښتن ته لاسونه لپه کوو چې دې کتاب ته ترقي او د قبوليت ستر مقام ورپه برخه کړي. (آمين)

محمد انعام الحق قاسمي

د جامعة العلوم الإسلامية علامة بنوري تاون کراچی (۵)

ښوونکی او ستر مفتي

تقريظ

مولانا مفتي عبد المجيد دين پوري مدظله

د جامعة العلوم الإسلامية علامة بنوري ټاون (کراچي) د حديثو ښوونکی او د دارالإفتاء مرستيال

د ترمذي شريف روايت دی: "مَثَلُ أُمَّتِي مَثَلُ الْمَطَرِ لَا يُدْرَى أَوَّلُهُ خَيْرٌ أَمْ آخِرُهُ"

يعني زما امت د باران په څېر دی، دا نه ده معلومه چې لومړی يې غوره دي او که اخري

لکه څرنګه چې د وچکالۍ پرمهال د باران هر څاڅکی خمکې ته ګټور دی دغه راز د دين او شريعت په حساب سره ددې امت هر وګړی ورروستی او مخکينی ټول غوره دي، ددې وجې دا مرحومه امت دی، ددې امت يوه پېړی هم د خير څخه خالي نه ده.

که د لومړۍ پېړۍ خلکو ته د ملګرتيا، مرستې، تبليغ، دعوت او قوت شرف په برخه دی، دغه راز ورروستيو امتونو نبوت او رسالت منلی، دين ته يې پرمختګ ورکړی او په ټوله نړۍ کې يې خپور کړی دی.

مجتهدينو ته د شريعت د ترتيب کولو او کلکولو شرف په برخه دی؛ نو دغې د ورروستي دور پوهګړو (عالمانو) ته د ديني مسئلو د اسانه کولو، واضحه کولو او لنډولو شرف په برخه دی؛ خو دا ده چې مجموعي غوره والی مخکنيو ته په برخه دی، د هغوی علمونه د پوهې او رڼا څخه ډک دي.

په موجوده امت باندې ددې دور د عالمانو لوی احسان دا دی چې د اړتيا پرمهال يې ورته علمي ملغلرې شيندلي، زموږ ګران ملګري او د قدر وړ مفتي محمد انعام الحق قاسمي صاحب هم د څه وخت

ځخه دا لړی پیل کړي او ځینې دیني کتابونه یې د هجاء توروپه ترتیب لیکلي، ددې وړاندې یې د روژې د مسئلو اړوند کتاب د هجاء تورو په ترتیب لیکلی و چې الله تعالی ښه قبول کړ، اوس یې ځینو تورو بابونو ته همدا ډول ترتیب ورکړی دی چې همدا اوسمهال ستاسو په لاس کې کتاب "د قربانۍ د مسئلو پوهنغونډ" ولیکل شو، امید لرم چې الله تعالی دې کتاب ته ښه قبولیت ورکړي او زموږ ټولو لپاره یې د نجات ذریعه جوړه کړي. (آمین)

مفتي محمد عبد المجید دین پوري

د جامعة العلوم الإسلامية علامة بنوري ټاون (کراچی) د حدیثو ښوونکی او د دارالإفتاء مرستیال

۱۴۲۷/۲/۵هـ/۲۰۰۶ء/۴/۷/

(الف)

اجازه

که څوک د بل کس لپاره واجبه قرباني کوي؛ نو د هغه کس څخه دې اجازه واخلي او د هغه له اجازې پرته قرباني د هغه کس له غاړې نه اوړي.[۱]

که په کومه سیمه کې دا دود وي چې مېړه د ښځې مېرمنې او یا پلار

(۱) : وَلَوْ ضَحَّى عَنْ أَوْلَادِهِ الْكِبَارِ وَزَوْجَتِهِ لَا يَجُوزُ إِلَّا بِإِذْنِهِمْ. (بدائع ج: ۵ ص: ۶۷، فصل وأما كيفية الوجوب، ط: سعيد،) وَلَوْ ضَحَّى بِبَدَنَةٍ عَنْ نَفْسِهِ وَعِرْسِهِ وَأَوْلَادِهِ لَيْسَ هَذَا فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَقَالَ الْحَسَنُ بْنُ زِيَادٍ فِي كِتَابِ الْأُضْحِيَّةِ إِنْ كَانَ أَوْلَادُهُ صِغَارًا جَازَ عَنْهُ وَعَنْهُمْ جَمِيعًا فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى وَإِنْ كَانُوا كِبَارًا إِنْ فَعَلَ بِغَيْرِ أَمْرِهِمْ أَوْ بِغَيْرِ أَمْرِ بَعْضِهِمْ لَا تَجُوزُ عَنْهُ وَلَا عَنْهُمْ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا لِأَنَّ نَصِيبَ مَنْ لَمْ يَأْمُرْ صَارَ لَحْمًا فَصَارَ الْكُلُّ لَحْمًا، كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۲، فصل في الأضحية عن الغير ، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۳۵، ط: سعید.

د خپلو بالغو اولادونو لپاره قرباني کوي او دا خبره يې مېرمنې او اولادونو ته هم معلومه وي؛ نو که له هغوی څخه ښکاره اجازه ونه غوښتل شي، قرباني د هغوی لپاره صحيح کېږي، دغسې سيمو کې د دود او عرف له مخې عمل کېږي [۲] او په کومو سيمو کې چې دغه دود نه وي؛ نو هلته دې ښکاره اجازه واخيستل شي، که نه د هغوی لپاره قرباني نه صحيح کېږي. [۳]

اسلامي ياد

په نړۍ کې اوس دا دود جوړ شوی دی، چې د سترو کارونو د ترسره کوونکي د کار د خوندیتوب او تلپاد په موخه د هغه څېره، څلی او يا کومه ځانګړې ودانۍ جوړوي، که څه هم له دې څخه د نوموړي روح ته کومه ګټه نه رسېږي، دا د هغه د لوی کار استازيتوب کوي، څلی او ودانۍ که هر څومره کلک او ټينګه وي څه وخت وروسته د پېښو ښکاربدلای او ړنګېدلای شي

خو اسلام د پخوا سرچپه د ياد څلو او څېرو جوړولو پر ځای د داسې کارونو د ژوندي ساتلو لپاره د همدغو سترو کارونو ترسره کول اړين کړي دي، په دې سره يوازې دا نه چې د ترسره کوونکي ياد ژوندی وي، بلکې د دې کار ولوله په زړونو کې هم ژوندۍ وي او دا

---

(۲) : قَالَ فِي الذَّخِيرَةِ: وَلَعَلَّهُ ذَهَبَ إِلَى أَنَّ الْعَادَةَ إِذَا جَرَتْ مِنْ الْأَبِ فِي كُلِّ سَنَةٍ صَارَ كَالْإِذْنِ مِنْهُمْ، فَإِنْ كَانَ عَلَى هَذَا الْوَجْهِ فَمَا اسْتَحْسَنَهُ أَبُو يُوسُفَ مُسْتَحْسَنٌ . (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۱۵، كتاب الأضحية ، ط: سعيد.)،

(۳) : ضحى بقرة عن نفسه وعن ستة من أولاده إن صغاراً جاز و إن كباراً جاز بأمرهم وإلا لا. (هندية ج: ۵ ص: ۳۰۲ ط: رشيدية، الباب السابع : الأضحية عن الغير ، فتاوىٰ بزازية علىٰ هامش الهندية ج: ۶ ص: ۲۹۵ البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸ ، بدائع ج: ۵ ص: ۶۷، فصلٌ و أما كيفية الوجوب)

به تر قيامته همداسې روان وي.[۱]

اضحی

"اضحی" د قرباني په معنا ده، "يوم الاضحی" معنا د قرباني ورځ ده.[2]

د "الله اکبر" ويلو سره حلاله کول

که د څاروي د حلالولو پر مهال يوازې "الله اکبر" وويل شي، څاروی حلال دی او غوښه خوړل يې روا دي: خو د سنتو مخالف کار دی. د څاروي د حلالولو پر مهال دې "بسم الله الله اکبر" وويل شي.[۱]

"الله اکبر" ويل اړين نه دي

د حلالې پر مهال يوازې "بسم الله" ويل بسنه کوي، "الله اکبر" ويل اړين نه

(۱) : إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ {۸۰} أي مثلما جازيناك بالعفو عن الذبح، والتخلص من الشدة والمحنة، نجزي كل محسن على طاعته، ونثيبه على فعله، وهو تعليل لما أنعم الله على إبراهيم وابنه من الفرج بعد الشدة والسلامة من المحنة، وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ (۱۰۸) أي أبقينا له في الأمم القادمة ثناء حسنا وذكرا جميلا، فأحبه أتباع الملل كلها، اليهودية والنصرانية والإسلام، وكذا أهل الشرك. التفسير المنير في العقيدة والشريعة والمنهج، الدكتور وهبة الزحيلي ج: ۲۳ ص: ۱۲۲، سورة الصافات آيت: ۱۰۸، ط: دار الفكر.

(۲) : أَضْحَى جمعه أضحية هي اسْمٌ لِمَا يُذْبَحُ أَيَّامَ الْأَضْحَى. (الدر مع الرد ج: ۶ص: ۳۱۱، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۳، كتاب الأضحية، طة سعيد، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۴، كتاب الأضحية، ط: رشيدية، قال الطيبي: الأضحيةُ ما يذبح يوم النحر علىٰ وجه القربة، وبه سمى يوم الأضحىٰ، مرقاة المفاتيح ج: ۳ ص: ۳۰۲، كتاب الأضحية، ط: امدادية.)

(۱) : لَوْ اقْتَصَرَ عَلَى قَوْلِهِ اللَّهُ أَكْبَرُ قَاصِدًا بِهِ التَّسْمِيَةَ يَكْفِي، (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۰۱، كتاب الذبائح ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۴۸، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۶، و ذكر الحلواني أنّ المستحب أن يقول "بسم الله الله أكبر" ثلاثاً، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۶۹، كتاب المذبائح، ط: سعيد).

دي؛ خو "بسم الله الله اکبر" دواړه ويل سنت دي.[۲]

اس

د اس قرباني نه صحيح کيږي، ځکه چې د نبي کريم ﷺ څخه قولا يا فعلا دده د قربانۍ هيڅ ثبوت نشته.[۳]

اصلي اړتيا

د اصلي اړتيا نه مراد هغه اړتيا ده چې د ځان او عزت سره تړلې وي، د هغې په نه پوره کولو سره د ځان او عزت وېره وي، د بېلګې په ډول: خوراک، څښاک، د اغوستلو جامې، د اوسېدو ځای او د کاريګرو خلکو د کار اړين توکي په اصلي اړتيا کې شامل دي؛ خو لوی - لوی دېګونه، لوی - لوی فرشونه، شاميانې، رادو، ټيپ، ټي وي او وي سي آر په اړين توکو کې شامل نه دي، که ددغو توکو قيمت د نصاب حد ته ورسيږي؛ نو په داسې سړي باندې قرباني واجب ده.[۱]

---

[۲] : منها التسمية حالة الزكوة عندنا أىّ اسم كان ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۵، كتاب الذبائح ، الباب الأول ، ط: رشيدية ، والمستحب أنّ يقول "بسم الله ألله أكبر" بلا واو ، الدر المختار مع الرد المحتار ، كتاب الذبائح ، ج: ۶ ص: ۳۰۱ ط: سعيد .

[۳] : (أمّا جِنْسُهُ) : فَهُوَ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْأَجْنَاسِ الثلاثة: الغنمُ أوِ الْإِبِلُ أَوِ الْبَقَرُ فِي كُلِّ جِنْسٍ نَوْعُهُ، وَالذَّكَرُ وَالْأُنْثَى مِنْه الخ.... (الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۷ الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۷ ، كتاب الأضحية، ط: سعيد، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۲ ، كتاب الأضحية ، ط: سعيد، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۹ ، فصل في محل إقامة الواجب، ط: سعيد.)

[۱] : قال المحقق: (قوله وفسره ابن ملك) أي فسر المشغول بالحاجة الأصلية والأولى فسرها، وذلك حيث قال: وهي ما يدفع الهلاك عن الإنسان تحقيقا كالنفقة ودور السكنى وآلات الحرب والثياب المحتاج إليها لدفع الحر أو البرد أو تقديرا كالدين، فإن المديون محتاج إلى قضائه بما في يده من النصاب دفعا عن نفسه الحبس الذي هو كالهلاك وكآلات الحرفة وأثاث المنزل ودواب الركوب وكتب العلم

يادہ دي وي چې د وي سي آر او ټي وي ساتل د ګناه توکي دي، له ځانه سره يې کېښودل او کتل دواړه ګناه ده.[۲]

امانت پيسې

که له امانت ورکوونکي څخه اجازه وانخيستل او له اجازې پرته په امانت پيسو د قرباني څاروی وپېرل شي، قرباني يې روا نه ده. او که اجازه واخيستل شي او څاروی ورباندې وپېرل شي، قرباني يې صحيح کېږي. امانت ورکوونکي ته دي خپلې پيسې بېرته وسپارل شي.[۳]

اولاد

که د چا اولاد د نصاب خښتنان وي، پر هغوی قرباني کول واجب ده او که هغوی د نصاب خښتنان نه وي؛ نو پر پلار يې دا اړينه نه ده چې د هغوی لخوا قرباني وکړي، او که پلار يې وغواړي چې د

لأهلها ، شامي ج: ۶ ص: ۲۶۲، البحر ج: ۲ ص: ۲۰۶، ط: سعيد، هندية ج: ۱ ص: ۱۷۳، ط: رشيدية.

(۲) : وفي السراج ودلت المسألة أن الملاهي كلها حرام ويدخل عليهم بلا إذنهم لإنكار المنكر قال ابن مسعود صوت اللهو والغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء النبات. قلت: وفي البزازية استماع صوت الملاهي كضرب قصب ونحوه حرام لقوله – عليه الصلاة والسلام – «استماع الملاهي معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها كفر» شامي ج: ۶ ص: ۳۴۸، ۳۴۹.

(۳) : قلتُ ويظهر أنّ العارية كالوديعة الخ.. وفي البدائع: وَكُلُّ جَوَابٍ عَرَفْتَهُ فِي الْوَدِيعَةِ فَهُوَ الْجَوَابُ فِي الْعَارِيَةِ بِأَنْ اسْتَعَارَ نَاقَةً أَوْ ثَوْرًا أَوْ بعيرًا فضحى به أنّه لايجزيه عن الأضحية سواءً أخذها المالكُ أوْ ضمنه القيمةَ لأنها أمانةٌ في يده وإنما يضمنها بالذبح فصارَ كالوديعة ، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۳۱ ، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۳، الباب السابع ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۷ ، اما الذي يرجع إلىٰ محل التضحية .

نابالغ اولاد لخوا قرباني وکړي ثواب ورته ورکول کېږي.[۱]

د اولاد لخوا قرباني کول

پر مور او پلار دا واجب نه دي چې د اولاد لخوا قرباني وکړي، د بېلګې په توګه د چا لس اولادونه دي او ټول په ګډ کور کې اوسېږي، د پلار په ژوند یوازي په پلار قرباني واجب ده، پلار به په خپل نوم قرباني کوي.[۲] که چېرې اولادونه یې بالغان او د نصاب څښتنان وي؛ نو په دې حالت کې په هر یو یې قرباني کېږي، که پلار د اولادونو په اجازه د هغوی لخوا قرباني کوي، د دوی له غاړې قرباني اوړي او پلار ته یې هم ثواب رسېږي، که پلار یې د دوی لخوا قرباني نه کوي؛ نو پر دوی هر یو یې قرباني لازمه ده، که قرباني ونه کړي ګناهګار بېږي.[۳]

---

(۱): كتاب الأضحية .... تجب علىٰ حر مسلم موسرٍ مقيمٍ عنْ نفسه ، وليسَ على الرجل أنْ يضحي عنْ أولاده الكبار وامرءته إلا بإذنه ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۳، ۱۷۸، بدائع ج: ۵ ص: ۶۴، ۶۷ ، فصلٌ أما كيفية الوجوب ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۳، الباب الأول ، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۵ ، لا عن طفله أىْ من مال الأب قال في الخانية أنه يستحب ولا يجب ، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۱۵ ، ط: سعيد .

(۲): وليس على الرجلِ أنْ يضحى عنْ أولاده الكبار إلا بإذنه ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۳ ، كتاب الأضحية ، الباب الأول في تفسيرها.

(۳): وَلَوْ ضَحّٰى بِبَدَنَةٍ عَنْ نَفْسِهِ وَعَنْ أَوْلَادِهِ فَإِنْ كَانُوا صِغَارًا أَجْزَأَهُ وَأَجْزَأَهُمْ وَإِنْ كَانُوا كِبَارًا فَإِنْ فَعَلَ ذٰلِكَ بِأَمْرِهِمْ فَكَذٰلِكَ، وَإِنْ كَانَ بِغَيْرِ أَمْرِهِمْ لَمْ يَجْزِ عَلَى قَوْلِهِمْ، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۸ ، ط: سعيد ، بدائع ج: ۵ ص: ۶۷ ، فصل اما كيفية الوجوب ، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۵ ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ – صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – قَالَ: "مَنْ كَانَ لَهُ سَعَةٌ، وَلَمْ يُضَحِّ، فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا" البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۳ ، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۷، ابن ماجة ص: ۲۲۶ ، باب الأضاحي واجبة هي أمْ لا ، ط: قديمي كتب خانه

که اولادونه یې نابالغه وي، پر هغوی قرباني واجب نه ده.[1]

اوښ

د احنافو په نزد په اوښ کې اووه کسان د قربانۍ لپاره شریکېدلای شي، په اوښ کې د اوو کسانو د شراکت په اړه ټول عالمان په یوه خوله دي او له دې څخه د ډېرو یعنې لسو کسانو د شراکت په اړه په یوه خوله نه دي؛ نو دا چې د اوو کسانو په شراکت کې ټول په یوه خوله دي، پر دې عمل کول له اختلافي حالت څخه چې د لسو کسانو شراکت دی، ډېر د احتیاط پر بنسټ دی. (کفایت المفتي ۸ ټوک، ۱۸۸ مخ).[2]

د اختر د لمانځه وړاندې قرباني کول

په ښارونو کې چې کوم ځای لمونځ کېږي، هلته د اختر د لمانځه وړاندې د څاروي حلالول صحیح نه دي، که چا د اختر د لمانځه وړاندې قرباني وکړه؛ نو دوباره به قرباني کوي او په

---

(۱): وَقَوْلُهُ: لَا عَنْ طِفْلِهِ يَعْنِي لَا يَجِبُ عَلَيْهِ عَنْ أَوْلَادِهِ الصِّغَارِ لِأَنَّهَا عِبَادَةٌ مَحْضَةٌ بِخِلَافِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ، (شامي ج: ۶ ص: ۳۱۵، ط: سعيد، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۳، ط: سعيد).

(۲): وَمِنْهُمْ مَنْ فَصَلَ بَيْنَ الْبَعِيرِ وَالْبَقَرَةِ فَقَالَ الْبَقَرَةُ لَا تَجُوزُ عَنْ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعَةٍ فَأَمَّا الْبَعِيرُ فَإِنَّهُ يَجُوزُ عَنْ عَشَرَةٍ (وَلَنَا) أَنَّ الْأَخْبَارَ إِذَا اخْتَلَفَتْ فِي الظَّاهِرِ يَجِبُ الْأَخْذُ بِالِاحْتِيَاطِ وَذَلِكَ فِيمَا قُلْنَا، لِأَنَّ جَوَازَهُ عَنْ سَبْعَةٍ ثَابِتٌ بِالِاتِّفَاقِ وَفِي الزِّيَادَةِ اخْتِلَافٌ فَكَانَ الْأَخْذُ بِالْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ أَخْذًا بِالْمُتَيَقَّنِ، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۷۱، ط: سعيد، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، سعيد، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۹، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴، فَاشْتَرَكْنَا فِي الْجَزُورِ عَنْ عَشَرَةٍ، قال الجمهورُ إنه منسوخ بالحديث الآتي عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: نَحَرْنَا بِالْحُدَيْبِيَةِ، مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ، وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ، وبالجملة العملُ على حديثِ جابرٍ أولىٰ و احوطُ، حاشية ابن ماجة ص: ۲۲۰، ط: قديمي كتب خانه.

کومو لرې پرتو سيمو کې چې د اختر لمونځ نه کيږي هلته مخکې څاروی حلالولی شي.(۱)

د اختر لمونځ وړاندې دی

نبي کريم ﷺ د اختر لمونځ وړاندې کړی دی او قرباني يې وروسته کړې ده، برابره خبره ده چې هغه په مکه کې وي يا په مدينه کې او يا دا چې د نړۍ په کوم کونج کې وي.(۲)

د اختر په ورځ کال پوره شو

کوم څاروی چې پروسږ کال د لوی اختر په لومړۍ ورځ پيدا شوی وي د هغه قرباني سږ کال د اختر په دويمه ورځ روا ده، ځکه چې کال به يې پوره شي.(۳)

---

(۱): قَالَ – رَحِمَهُ اللَّهُ –: (وَلَا يَذْبَحُ مِصْرِيٌّ قَبْلَ الصَّلَاةِ وَذَبَحَ غَيْرُهُ) يَعْنِي لَا يَجُوزُ لِأَهْلِ الْمِصْرِ أَنْ يَذْبَحُوا الْأُضْحِيَّةَ قَبْلَ أَنْ يُصَلُّوا صَلَاةَ الْعِيدِ وَيَجُوزُ لِأَهْلِ الْقُرَى وَالْبَادِيَةِ أَنْ يَذْبَحُوا بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ الْإِمَامُ صَلَاةَ الْعِيدِ وَالْأَصْلُ فِي ذَلِكَ قَوْلُهُ: – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – «مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ صَلَاةِ الْإِمَامِ فَلْيُعِدْ ذَبِيحَتَهُ وَمَنْ ذَبَحَ بَعْدَ صَلَاةِ الْإِمَامِ فَقَدْ تَمَّ نُسُكُهُ وَأَصَابَ سُنَّةَ الْمُسْلِمِينَ» قَالَ صَاحِبُ النِّهَايَةِ هَذَا يُشِيرُ إلَى مَا ذَكَرَ فِي الْمَبْسُوطِ حَيْثُ قَالَ: لَا يَجْزِيه لِعَدَمِ الشَّرْطِ لَا لِعَدَمِ الْوَقْتِ وَقَالَ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ –: «أَوَّلُ نُسُكِنَا فِي هَذَا الْيَوْمِ الصَّلَاةُ، ثُمَّ الْأُضْحِيَّةُ» الخ... البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۷۳، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۰، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۵، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۸.

(۲): فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ أَوْ نُصَلِّيَ فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرَى» . وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ خَطَبَ ثُمَّ ذَبَحَ وَقَالَ: «مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ فَلْيَذْبَحْ أُخْرَى مَكَانَهَا وَمَنْ لَمْ يَذْبَحْ فليذبح باسم الله» متفق عليه ، (مشكاة المصابيح ج: ۱ ص: ۱۲۹، ط: قديمي كتب خانه.)

(۳): ذَكَرَ الْفُقَهَاءُ قَالُوا: الْجَذَعُ مِنَ الْغَنَمِ ابْنُ سِتَّةِ أَشْهُرٍ وَالثَّنِيُّ مِنْهُ ابْنُ سَنَةٍ، وذكر القاضي في شرحه مختصر الطحاوي..... في الثني من الشاة والمعز ماتم له حولٌ وطعنٌ في السنة الثانية، بدائع ج: ۵

د اختر په ورځو (ایام النحر) کې شک

که چیرې د اختر په ورځو کې شک و چې پر دوولسمه یا دیارلسمه د ذوالحجې ده؛ نو قرباني دریيمې ورځې نه مه ځنډوئ، د ځنډېدو په حالت کې د قربانۍ ټوله غوښه صدقه کول مستحب دي.[۱]

په اټکل د غوښې وېش

د اټکل له مخې د قربانۍ د څاروي غوښه وېشل روا نه دي، په تول برابرول يې اړین دي. که په کومه برخه کې لږوالی او ډېروالی راشي؛ نو سود کيږي. سود اخيستل، ورکول او خوړل ټول حرام دي.[۲]

د اوسپنې داغ ورکول

کوم څاروي ته چې په ورون یا د بدن په بل غړي باندې د اوسپنې داغ ورکول شوی وي د هغه قرباني صحیح ده؛[۳] خو غوره دا ده چې

ص: ۷۰، فصلٌ أما محل إقامة الواجب، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، الباب الخامس، ط: رشيدية ، البحر الرائق ج : ۸ ص: ۱۷۷، ط سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۲، ط: سعيد.

(۱) : وَإِذَا شَكَّ فِي يَوْمِ الْأَضْحَى فَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ لَا يُؤَخِّرَ إِلَى الْيَوْمِ الثَّالِثِ، فَإِنْ أَخَّرَ يُسْتَحَبُّ أَنْ لَا يَأْكُلَ مِنْهُ، وَيَتَصَدَّقَ بِالْكُلِّ ، الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۵ ، كتاب الأضحية الباب الثالث .

(۲) : وَإِذَا جَازَ عَنِ الشَّرِكَةِ يُقْسَمُ اللَّحْمُ بِالْوَزْنِ لِأَنَّهُ مَوْزُونٌ، وَإِذَا قَسَمُوا جُزَافًا لَا يَجُوزُ إِلَّا إِذَا كَانَ مَعَهُ شَيْءٌ آخَرُ مِنَ الْأَكَارِعِ وَالْجِلْدِ ، (البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۴ ، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۶۷ ، فصلٌ أما كيفية الوجوب، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۰ ، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۷ ، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۶) ويقسم اللحم وزنا لا جزافا ، اما عدم جواز القسمة مجازفة فلأنّ فيها معنى التمليك واللحم من أموال الربا فلا يجوز تمليكه مجازفةً، وأما عدم جواز التحليل فلأنّ الربا لا يحتمل الحل بالتحليل ، (شامي ج: ۶ ص: ۳۱۷ ، بدائع ج: ۵ ص: ۶۷، فصلٌ أما كيفية الوجوب).

(۳) : ويجوز التي لها كيٌّ. فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، ط: رشيدية، الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۵، ط: سعيد.

د قربانۍ په څاروي کې څه عیب نه وي.[۱]

د يوې پر ځای د اوو وزو حلالول

پر يو کس قرباني واجب ده، هغه د يوې وزې پر ځای اووه وزې حلالوي، وجوب يې د يوې په حلالولو سره له غاړې اوړي. پاتې شپږ په نفلو کې شمېرل کېږي. که لوی څاروی د اوومې برخې پر ځای ټول يوازې قرباني کوي بيا يې هم واجبه قرباني له غاړې اوړي.[۲]

(ب)

د بيمې کمپنۍ کارکوونکی

د بيمې "انشورنس" کمپنۍ راکړه ورکړه ټول د سود او قيمار پر بنسټ وي. د سود او قيمار لاس ته راوړنه حرامه ده، په حرامو پيسو قرباني کول روا نه ده؛ نو له دې کبله د هغه کس سره په قربانۍ کې يوازې او يا د ټوليزې قربانۍ له لارې شراکت صحيح نه دی چې ټوله لاس ته راوړنه او يا يې ډېره برخه د بيمې له کمپنۍ څخه وي.

که له داسې خلکو سره حلاله لاس ته راوړنه وي او له حرامو څخه بېله وي او يا له چا څخه حلالې پيسې قرض کړي؛ نو يوازې او يا د

---

(۱) : والمستحبُ أنْ يكونَ سليما من العيوب الظاهرة، ردّ المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۳، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۷۵، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷.

(۲) : ولَوْ ضَحّى بأكثرَ مِنْ واحدَة فالْواحدَةُ فريضَةٌ والزّيادَةُ تَطَوُّعٌ عنْدَ عامَّـةِ الْعُلَمَـاء.(خلاصة الفتاوی) ج: ۴ ص: ۳۱۵ ، ولَوْ أنّ رَجُلًا مُوسِرًا ضَحّى ببَدَنَة عنْ نَفْسه خاصّةً كانَ الْكُـلُّ أضْـحيَّةً واجبَةً عنْدَ عامّة الْعُلَماء وعَلَيْه الْفَتْوى اهـ ، شامي ج: ۶ ص: ۳۳۳، كتاب الأضحية ، ط: سعيد ، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۷۱ ، فصلٌ محل إقامة الواجب ، ط: سعيد .

تو ليزي قرباني له لاري شراكت ورسره روا دى.[۱]

د بل كار په موخه راوستل شوي څاروي

كه څوک د بل كار په موخه له چا څخه څاروي راولي؛ قرباني كول يې روا نه دي؛ ځكه چې دا د بل چا مال دى، اصلي څښتن يې دى نه دى.

بډاى په اخري وخت كې شتمن شو

كه كوم غريب سړي په لومړي وخت كې په خپله خوښه قرباني وكړه. بيا په اخري وخت كې شتمن شو؛ نو په هغه باندې دويمه قرباني لازم ده.[۲]

---

(۱): والحاصلُ أنه إنْ علم أرباب الأموال وجب رده عليهم و إلا فإنْ علمَ عينَ الحرام لا يحلُّ له ويتصدق به بنية صاحبه ، شامي ج: ۶ ص: ۳۸۵ ، ط: سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۳۴۹ ، (وإنْ) (مَاتَ أحدُ السَّبْعَة) الْمُشْتَرِكِينَ فِي الْبَدَنَة (وَقَالَ الْوَرَثَةُ اذْبَحُوا عَنْهُ وَعَنْكُمْ) (صَحَّ) عَنْ الْكُلِّ اسْتِحْسَانًا لِقَصْد الْقُرْبَة مِنْ الْكُلِّ، وَلَوْ ذَبَحُوهَا بِلَا إذْن الْوَرَثَةِ لَمْ يُجْزِهِمْ لِأَنَّ بَعْضَهَا لَمْ يَقَعْ قُرْبَةً (وَإِنْ) (كَانَ شَرِيكُ السِّتَّة نَصْرَانِيًّا أَوْ مُرِيدًا اللَّحْمِ) (لَمْ يُجْزِ عَنْ وَاحِدٍ) مِنْهُمْ لِأَنَّ الْإِرَاقَةَ لَا تَتَجَزَّأُ ، الدر المختار مع الرد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶ ، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۵ ، ط: رشيدية كتاب الأضحية، عن سعد قال قال النبيُّ ﷺ : إنّ الله طيبٌ يحبُّ الطيب نظيفٌ يحبُّ النظافةَ كريمٌ يحبُّ الكرمَ الخ.. ، رواه الترمذي ، جمع الجوامع للإمام السيوطي ج: ۲ ص: ۲۲۸، رقم الحديث : ۵۳۸۰، ط: دار الكتب العلمية بيروت ، عن أبي هريرة يقولُ أنّ رسولَ الله – صلى الله عليه وسلم – إن الله –عز وجل– يقبل الصدقة ولا يقبل منها إلا الطيب ، فيقبلها بيمينه تبارک وتعالى ويربيها لعبده المسلم اللقمة كما يربي أحدكم مهرة أوْ فصيله حتى يوافي بها يوم القيامة مثل أحدٍ ، مسند أحمد ، ج: ۹ ص: ۱۵۰ ، رقم الحديث : ۹۲۱۷ ، ط: دار الحديث ، القاهرة.

(۲): ولو ضحى في أول الوقت وهو فقيرٌ ثم أيسر في آخر الوقت فعليه أن يعيد الأضحية عندنا، بدائع ج: ۵ ص: ۶۵، كتاب الأضحية ، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۹، كتاب الأضحية ، ط: سعيد.

بدای د قربانۍ په نیت خاروی واخیست

که کوم غریب د قربانۍ په نیت خاروی واخلي؛ نو د اخیستلو په وجه قرباني پرې واجبه شوه.[۱]

بل ځای قرباني کول

که د یو هېواد خلک په بل هېواد کې قرباني کوي: نو قرباني یې صحیح ده، په دیکښې هیڅ خبره نشته؛ خو غوره دا ده چې د قربانۍ خاروی خپله خوبس کړي. د هغه خدمت وکړي چې مینه یې ورسره پیدا شي. څکه چې دا د ثواب ګټلو لویه وسیله ده، بلکې په حقیقت کې د اولاد د قربنې کولو ځای نیسي.[۲] مستحب دا ده چې د قربانۍ خاروی په خپل لاس حلال کړي. که خپله یې نه شي حلالولی: نو د حلالولو په وخت دې خپله حاضر وي،[۳] مستحبه دا ده چې د قربانۍ د غوښې څخه خوراک وکړي. که شوني وي: نو د

---

(۱): فَلَوْ قَالَ كَلَامًا نَفْسِيًّا: لِلَّهِ عَلَيَّ أَنْ يُضَحِّيَ بِهَذِهِ الشَّاةِ وَلَمْ يَذْكُرْ بِلِسَانِهِ شَيْئًا فَاشْتَرَى شَاةً بِنِيَّةِ الْأُضْحِيَّةِ إِنْ كَانَ الْمُشْتَرِي غَنِيًّا لَا تَصِيرُ وَاجِبَةً ..... وَإِنْ كَانَ فَقِيرًا .... فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ تَصِيرُ وَاجِبَةً بِنَفْسِ الشِّرَاءِ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۴، ط: رشدية، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۰، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۵، ط: سعيد.

(۲): أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا كَانَ فِي مِصْرٍ وَأَهْلُهُ فِي مِصْرٍ آخَرَ فَكَتَبَ إِلَيْهِمْ لِيُضَحُّوا عَنْهُ، فَإِنَّهُ يُعْتَبَرُ مَكَانُ التَّضْحِيَةِ فَيَنْبَغِي أَنْ يُضَحُّوا عَنْهُ بَعْدَ فَرَاغِ الْإِمَامِ مِنْ صَلَاتِهِ فِي الْمِصْرِ الَّذِي يُضَحَّى عَنْهُ فِيهِ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۶، الباب الرابع، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵، بدائع ج: ۵ ص: ۷۴، فصل أما شرائط جواز إقامة الواجب.

(۳): وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَذْبَحَ أُضْحِيَّتَهُ بِيَدِهِ إِنْ كَانَ يُحْسِنُ الذَّبْحَ، لِأَنَّ الْأَوْلَى فِي الْقُرُبَاتِ أَنْ يَتَوَلَّى بِنَفْسِهِ، وَإِنْ كَانَ لَا يُحْسِنُهُ فَالْأَفْضَلُ أَنْ يَسْتَعِينَ بِغَيْرِهِ وَلَكِنْ يَنْبَغِي أَنْ يَشْهَدَهَا بِنَفْسِهِ، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، الباب الخامس، بدائع ج: ۵ ص: ۷۹، فصل أما بيان ما يستحب قبل التضحية، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۹، ط: سعيد.

قرباني په لومړۍ ورځ دي خوراک د خپلې قرباني د څاروي څخه وکړي، غریبانو، ترېورانو او ګاونډیو ته دي هم ورکړي، په بل ځای کې د قرباني کولو له وجې به ددې ټولو برکتونو څخه بې برخې وي؛ خو که د عذر یا شرعي حکمت له مخې په بل ځای یا بل هېواد کې قرباني کوي؛ نو نه یوازې دا چې ثواب به ورته رسیږي، بلکې زیات ثواب به ورته رسیږي، د بېلګې په ډول: په بل هېواد کې د خپلوانو د حق ادا کولو لپاره قرباني کول یا د هغه هېواد خلک غریبان وي او زیات اړ وي، لکه څرنګه چې نن سبا په افغانستان او افریقه یا ځینې نورو هېوادونو کې دي؛ نو هلته د قرباني کولو لپاره پیسې لېږل روا دي.[1]

بالغېدل (مړاني وهل)

که نابالغه د ذوالحجې په لسمه، یوولسمه یا دوولسمه د لمر د پرېوتلو څخه وړاندې بالغ شو او مالداره یعنې د نصاب څښتن و، پر هغه قرباني کول لازم دي.[2]

---

(۱): ويستحب أن يأكل من أضحيته ويطعم منها غيره، والأفضل أن يتصدق بالثلث ويتخذ الثلث ضيافة لأقاربه وأصدقائه، ويدخر الثلث، ويطعم الغني والفقير جميعا، فتاوي هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب، ط: رشيدية، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۶، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، بدائع ج: ۵ ص: ۸۱، فصل أما بيان ما يستحب قبل التضحية.

(۲): من بلغ من الصغار في أيام النحر وهو موسر يجب عليه بإجماع بين أصحابنا، لأن الأهلية من النحر في آخر الوقت لا في أوله، بدائع ج: ۵ ص: ۶۴، كتاب التضحية، فصل أما شرائط الوجوب، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۶، كتاب الأضحية، ط: سعيد.

د بالغه اولادونو لخوا قرباني کول

د بالغه اولادونو لخوا پر پلار قرباني کول اړين نه دي.[۳] که بالغ اولادونه په خپله د نصاب څښتنان وي؛ نو پخپله دي قرباني وکړي او يا دي پلار اجازه ورکړي. د بالغو اولادونو په اجازه پلار د دوی لخوا قرباني کولای شي[۱]

د حلالې پر مهال د بسم الله هېرېدل

که د حلالې پر مهال د چا څخه "بسم الله الله اکبر" ويل هېر شي. د ځاروي غوښه حلاله ده. خوړل يې روا دي. شونې ده چې مسلمان به د الله له نامه پرته د بل چا په نوم حلاله نه وي کړې.[۲]

د بسم الله توري

د حلالې (ذبح) لپاره "بسم الله والله اکبر" د "و" سره او له "و" پرته "بسم الله الله اکبر" راغلي دي؛ خو د "و" پرته "بسم الله الله اکبر" ويل ډېر غوره دي. کله "الله اکبر" تر "بسم الله" وړاندې او کله وروسته

---

(۳): وليس على الرّجل أنْ يضحّي عنْ أولاده الكبار وامرأته إلّا بإذنه، (الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۳، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۵، بدائع ج: ۵ ص: ۶۴، فصل أما شرائط الوجوب، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، ط: سعيد)

(۱): ولو ضحى بدنة عن نفسه و عن أولاده فان كانوا صغارا أجزاه و اجزاهم وان كانوا كبارا فان فعل ذلک بامرهم فكذلک وان كان بغير أمرهم لم يجز على قولهم، بدائع ج: ۵ ص: ۶۷، فصل أما كيفية الوجوب، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۵، ط: سعيد.

(۲): قيدنا بقوله عمدا لأنه لو ترک التسمية ناسيا يحل أكلها وهو مذهب على وابن عباس، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۶۸، الهندية ج: ۵ ص: ۲۸۸، شامي ج: ۶ ص: ۲۹۹.

راغلی دی، پورته ټول حالتونه صحیح دي.[۳]

بسم الله کوم حالت کې ووېل شي؟

په اختیاري حلاله کې "بسم الله" د حلالي سره یو ځای وېل شرط دي. یعني "بسم الله" وایئ او حلاله وکړئ. د "بسم الله" له وېلو وروسته او د حلالي وړاندې بل کار مه کوئ. که چا څاروی څملولی وي "بسم الله" ووایي، پرته له دې چې دغه څاروی حلال کړي. بل څاروی څملوي او په همغه "بسم الله" وېلو بسنه وکړي او دغه څاروی حلال کړي. غوښه خوړل یې ناروا ده.[۱]

د بلاربې قرباني کول

که د قرباني کولو په نیت یې څاروی واخیست، خو هغه بلارب و. که قرباني کوونکی شتمن او د نصاب څښتن وي؛ نو هغه ددې څاروي په ځای بل څاروی قرباني کولای شي او بلارب څاروی دې خیله پالي او که خرڅوي یې نو خرڅولای یې هم شي

که د څاروي اخیستونکی شتمن نه وي؛ نو په هغه باندې د همدې

---

(۳) : (والمستحب) «أن تقول بسم الله الله أكبر بلا واو، وكره بها» لأنه يقطع فور التسمية، وفي الجوهرة أنه لو قال " بسم الله الرحمن الرحيم " فهو حسن. (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۰۱ ، ط: سعيد ، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۶۹ ، ط: سعيد. (الهندية ج: ۵ ص: ۲۸۴ ، كتاب الذبائح، الباب الأول .

(۱) : رجل ذبح شاة فسمى وتركها ومال إلى الأخرى و ذبحها بتلك التسمية لم يحل. (فتاوى سراجية ، باب التسمية على الذبيحة ، ص: ۳۰۹) ولو أضجع شاة وأخذ السكين وسمى، ثم تركها وذبح شاة أخرى وترك التسمية عامدا عليها، لا تحل (الهندية ج: ۵ ص: ۲۸۸ ، كتاب الذبائح، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۶۹ ، كتاب الذبائح، ط: سعيد، لأن إيقاع الذبح متصل بالتسمية بحيث لا يتخلل بينهما شئ ، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۶۸، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۰۲ ، كتاب الذبائح ، ط: سعيد .

څاروي قرباني واجب ده، د زيات تفصيل لپاره "د بلارب څاروي" تر عنوان لاندې ليک وګورئ؛[۲]

بلارب څاروی

د کوم څاروي په خېټه کې چې بچی وي، قرباني کول یې صحیح دي، هغه څاروی چې د زوکړې وخت یې نږدې وي، قصداً حلالول یې مکروه دي، که د بلارب څاروي له حلالولو وروسته بچی ژوندی وي، هغه دې هم حلال کړي، د دغه حلال کړل شوي بچي غوښه حلاله ده او که بچی مړ وي او یا له حلالولو وړاندې ومري غوښه خوړل یې حرام دي.[۱]

که د حلال شوي څاروي بچی ژوندی پیدا شي او د قربانۍ ورځې ووځي؛ خو حلال یې نه کړي؛ نو دغه ژوندی بچی دې خیرات کړي او که د قربانۍ ورځې تېرې شي او څاروی حلال کړي بیا یې قیمت خیراتول واجب دي.

که دغه بچی یې له ځان سره وساتلو او تر لویېدو وروسته یې قرباني کړ، واجبه قرباني یې نه صحیح کیږي بلکې ټوله غوښه به یې صدقه کوي، که په حلالونکي باندې بله قرباني واجب

---

(۲): كفايت المفتي مع تغير ج: ۸ ص: ۱۸۹، كتاب الأضحية والذبيحة، دار الإشاعت.

(۱): شَاةٌ أَوْ بَقَرَةٌ أَشْرَفَتْ عَلَى الْوِلَادَةِ قَالُوا يُكْرَهُ ذَبْحُهَا؛ لِأَنَّ فِيهِ تَضْيِيعَ الْوَلَدِ. وَهَذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – لِأَنَّ عِنْدَهُ الْجَنِينَ لَا يَتَذَكَّى بِذَكَاةِ الْأُمِّ. هندية ج. ۵ ص: ۲۸۷، كتاب الذبائح، الباب الأول، ط: رشيدية، وَلَدَتْ الْأُضْحِيَّةُ وَلَدًا قَبْلَ الذَّبْحِ يُذْبَحُ الْوَلَدُ مَعَهَا فَإِنْ خَرَجَ مِنْ بَطْنِهَا حَيًّا فَالْعَامَّةُ أَنَّهُ يَفْعَلُ بِهِ مَا يَفْعَلُ بِالْأُمِّ. (شامي ج: ۶ ص: ۳۲۲، ط: سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۱، الباب السادس.)

وي؛ نو هغه به دويمه قرباني کوي.[۲]

(پ)

پوزه

د کوم څاروي پوزه چې نه وي د هغه قرباني نه صحيح کيږي.[۳]

د پوستکي ناروغي

که کوم څاروی چې د پوستکي ناروغي ولري؛ خو پر غوښې يې کومه اغېزه نه وي کړې قرباني کول يې صحيح دي او که د ناروغۍ اغېزه يې غوښې ته رسېدلې وي. قرباني کول يې صحيح نه دي[۱]

(ت)

له تکبير وروسته تعوذ ووايئ

د اخترونو په لمونځونو کې دي امام "تعوذ" له زياتو (زوايدو) تکبيرونو وروسته ووايي. ځکه چې قرائت له زياتو تکبيرونو وروسته ويل کېږي، د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په

---

(۲) : وَلَدَتْ الْأُضْحِيَّةُ وَلَدًا قَبْلَ الذَّبْحِ يُذْبَحُ الْوَلَدُ مَعَهَا (قوله قبل الذبح) فَإِنْ خَرَجَ مِنْ بَطْنِهَا حَيًّا فَالْعَامَّةُ أَنَّهُ يَفْعَلُ بِهِ مَا يَفْعَلُ بِالْأُمِّ فَإِنْ لَمْ يَذْبَحْهُ حَتَّى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ يَتَصَدَّقُ بِهِ حَيًّا، فَإِنْ ضَاعَ أَوْ ذَبَحَهُ وَأَكَلَهُ يَتَصَدَّقُ بِقِيمَتِهِ. فَإِنْ بَقِيَ عِنْدَهُ وَذَبَحَهُ لِلْعَامِ الْقَابِلِ أُضْحِيَّةً لَا يَجُوزُ، وَعَلَيْهِ أُخْرَى لِعَامِهِ الَّذِي ضَحَّى وَيَتَصَدَّقُ بِهِ مَذْبُوحًا مَعَ قِيمَةِ مَا نَقَصَ بِالذَّبْحِ، وَالْفَتْوَى عَلَى هَذَا. (شامي ج: ۶ ص: ۳۲۲، ط: سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۲، الباب السادس.)

(۳) : وَلَا تُجْزِئُ الْجَذْعَاءُ وَهِيَ مَقْطُوعَةُ الْأَنْفِ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۸. ط: رشيدية، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۴، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۷۵، ط: سعيد.

(۱) : ويُضَحِّي...... (و الجرباء السمينة) فَلَوْ مَهْزُولَةً لَمْ يَجُزْ، لِأَنَّ الْجَرَبَ فِي اللَّحْمِ نَقْصٌ (الدر المختار مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۳، ط: سعيد، فَإِنْ كَانَتْ سَمِينَةً وَلَمْ يَتْلَفْ جِلْدُهَا جَازَ لِأَنَّهُ لَا يُخِلُّ بِالْمَقْصُودِ)، (البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۶، كتاب الأضحية، ط: سعيد.)

نزد "تعوذ" د قرائت تابع دی، یاده دي وي چې له زیاتو تکبیرونو وړاندې او د تحریم د تکبیر وروسته "ثناء" ویل کېږي.[۲]

په توپک حلاله

که ښکاري په توپک ښکار کړل شي، وړاندې له دې چې حلال شي ښکاري ومړ، د دغه ښکاري غوښه خوړل روا نه دي، ښکاري مردار او حرام دی،[۳] که د توپک د وار پر مهال "بسم الله الله کبر" وویل شي او ښکار ژوندی لاس ته راوړل شي، د حلالېدو پر مهال "بسم الله الله اکبر" ورباندې وویل شي، غوښه یې حلاله ده او که نه حرامه ده.[۱]

د تشریق د نومونې لامل

د تشریق د ورځو په (ایام التشریق) د نومونې لامل دا دی چې خلک د اختر په ورځو کې د قرباني غوښه په لمر وچوي، له دې کبله دغو

---

(۲) : (ویؤخر) الإمام التعوذ (عن تکبیرات العید) لقراءته بعدها (الدر مع الرد، ج: ۱ ص: ۴۸۹ ط: سعید)

(۳) : ولایؤکل ما أصابته البندقة، فتاوی سراجیة، ص: ۳۰۷، ط: مدرسة فاطمة الزهراء.

(۱) : (فإن ترکها) أي الذکاة (عمدًا) مع القدرة علیها (فمات) حرم، وکذا یحرم لو عجز عن التذکیة بأن لم یجد آلة أصلا أو یجد لکن لا یبقی من الوقت ما یمکن تحصیل الآلة والاستعداد للذابح، (رد المختار ج: ۶ ص: ۴۷۰، کتاب الصید، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۲۲۳، کتاب الصید. ولابد من التسمیة عندالإرسال ..... وان أدرکه حیاً ذکاه، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۲۲۱، ۲۲۳، شامي ج: ۶ ص: ۴۶۸، کتاب الصید، ط: سعید.)

ورځو ته "ایام التشریق" ویل کېږي.(۲)

ځیني عالمان په دې اند دي چې د اختر ورځو او لمانځه ته له دې کبله "تشریق" ویل کېږي چې خلک د اختر لمونځ تر هغه مهاله نه کوي تر څو لمر نه وي راختلی، لمونځ کوونکي ته مشرق ویل کېږي.(۳)

د تشریق په ورځو کې روژه مه نیسئ!

د تشریق په ورځو کې روژه نیول مکروه ده، ځکه چې په دې ورځو کې د کعبې زیارت کوونکي د الله ﷻ مېلمانه وي؛ نو مېلمه ته دا نه ښایي چې ځوک بلنه ورکړي. د هغه کور ته لاړ شي او هلته روژه ونیسي.(۱)

د تشریق تکبیرونه

الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله والله اکبر الله اکبر ولله الحمد.(۲)

---

(۲) : فَبَانَ لِلْوَاقِعِ مِنْ أَفْعَالِ النَّاسِ مِنْ أَنَّهُمْ يُشَرِّقُونَ اللَّحْمَ فِي أَيَّامٍ مَخْصُوصَةٍ... بِأَنَّ التَّشْرِيقَ فِي اللُّغَةِ كَمَا يُطْلَقُ عَلَى إِلْقَاءِ لُحُومِ الْأَضَاحِيِّ بِالْمُشَرَّقَةِ يُطْلَقُ عَلَى رَفْعِ الصَّوْتِ بِالتَّكْبِيرِ ... البحر ج: ۲ ص: ۴۸ ، ط: رشيدية .

(۳) : قال في الفتح: فَإِنَّ التَّشْرِيقَ فِي أَيَّامِ التَّشْرِيقِ يَجِبُ أَنْ يُحْمَلَ عَلَى التَّكْبِيرِ أَوْ الذَّبْحِ، أَوْ تَشْرِيقِ اللَّحْمِ بِإِظْهَارِهِ لِلشَّمْسِ بَعْدَ تَقْطِيعِهِ لِيَتَقَدَّدَ، وَعَلَى كِلَيْهِمَا يَدْخُلُ يَوْمُ النَّحْرِ فِيهَا. (فتح القدير ج: ۲ ص: ۴۸ ، فصلٌ في تكبيرات التشريق ، ط: رشيدية)

(۱) : أَمَّا الصِّيَامُ فِي الْأَيَّامِ الْمَكْرُوهَةِ فَمِنْهَا: صَوْمُ يَوْمَيْ الْعِيدِ، وَأَيَّامِ التَّشْرِيقِ... وَعِنْدَنَا يُكْرَهُ الصَّوْمُ فِي هَذِهِ الْأَيَّامِ، وَالْمُسْتَحَبُّ هُوَ الْإِفْطَارُ. (بدائع ج: ۲ ص: ۷۸ ، كتاب الصوم، ط: سعيد ، البحر ج: ۲ ص: ۱۵۷، ۲۵۸ ، ط: سعيد ، شامي ج: ۲ ص: ۳۷۵، ط: سعيد.)

(۲) : وَأَمَّا عَدَدُهُ وَمَاهِيَّتُهُ فَهُوَ أَنْ يَقُولَ مَرَّةً وَاحِدَةً: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ وَلِلَّهِ الْحَمْدُ. (هندية ج: ۱ ص: ۱۵۲ ط: رشيدية ، البحر ج: ۲ ص: ۱۶۵ ، ط: سعيد)

له نهمي ذوالحجې څخه د دیارلسمې تر مازدیګره له هر لمانځه وروسته یو ځل د تشریق تکبیرونه ویل واجب دي.[۳]

نارینه دې په لوړ او ښځینه دې په ټیټ غږ ووایي.[۴]

د تشریق تکبیرونه له سلام اړولو سره متصل باید وویل شي، که څوک له سلام اړولو وروسته خبرې وکړي او یا قصدا اودس مات کړي، د تشریق تکبیرونه وربانديې نشته.[۱]

که د تشریق په ورځو کې له چا څخه کوم لمونځ پاتې شو بیا یې د همدې کال د تشریق په ورځو کې لمونځ راګرځولو؛ نو له سلام وروسته د تشریق تکبیرونه ویل وربانديې لازم دي.[۲]

---

(۳) : وأما صفته فهو واجبٌ. (هندية ج: ۱ ص: ۱۵۲ ط: رشيدية ، البحر ج: ۲ ص: ۱۶۵ ، بدائع ج: ۱ ص: ۱۹۵، ط: سعيد وَأَمَّا وَقْتُهُ فَأَوَّلُهُ عَقِيبَ صَلَاةِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ وَآخِرُهُ فِي قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ - رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى - عَقِيبَ صَلَاةِ الْعَصْرِ مِنْ آخِرِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ، هَكَذَا فِي التَّبْيِينِ، وَالْفَتْوَى وَالْعَمَلُ فِي عَامَّةِ الْأَمْصَارِ وَكَافَّةِ الْأَعْصَارِ عَلَى قَوْلِهِمَا، كَذَا فِي الزَّاهِدِيِّ. هندية ج: ۱ ص: ۱۵۲، البحر ج: ۲ ص: ۱۶۵ ، بدائع ج: ۱ ص: ۱۹۵، فصلٌ أما محل أدائه ، ط: سعيد، شامي ج: ۲ ص: ۱۷۸، ط: سعيد.)

(۴) : (وَقَالَا بِوُجُوبِهِ فَوْرَ كُلِّ فَرْضٍ مُطْلَقًا) وَلَوْ مُنْفَرِدًا أَوْ مُسَافِرًا أَوْ امْرَأَةً لِأَنَّهُ تَبَعٌ لِلْمَكْتُوبَةِ (إلَى) عَصْرِ الْيَوْمِ الْخَامِسِ (آخِرِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ وَعَلَيْهِ الِاعْتِمَادُ) وَالْعَمَلُ وَالْفَتْوَى فِي عَامَّةِ الْأَمْصَارِ وَكَافَّةِ الْأَعْصَارِ. (الدر المختار مع الرد المحتار ج: ۲ ص: ۱۷۹، ۱۸۰، لكنّ المرأة تخافت . الدر المختار مع الرد المحتار ج: ۲ ص: ۱۸۰ ، ط: سعيد.)

(۱) : وَيَنْبَغِي أَنْ يُكَبِّرَ مُتَّصِلًا بِالسَّلَامِ حَتَّى لَوْ تَكَلَّمَ أَوْ أَحْدَثَ مُتَعَمِّدًا سَقَطَ، كَذَا فِي التَّهْذِيبِ. (هندية ج: ۱ ص: ۱۵۲، ط: رشيدية ، البحر ج: ۲ ص: ۱۶۵، بدائع ج: ۱ ص: ۱۹۶ ، فصلٌ أما محل أدائه، ط: سعيد.)

(۲) : وَمَنْ نَسِيَ صَلَاةً مِنْ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ،فَذَكَرَهَا فِي أَيَّامِ التَّشْرِيقِ مِنْ تِلْكَ السَّنَةِ قَضَاهَا وَكَبَّرَ، كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ. (هندية ج: ۱ ص: ۱۵۲، ط: رشيدية: ، البحر ج: ۲ ص: ۱۶۶، ط: سعيد، بدائع ج: ۱ ص: ۱۹۸ ، فصلٌ في بيان حكم التعبير. ط: سعيد.)

د تشریق تکبیرونه پر ځایي (مقیم) لازم دي، که لاروی (مسافر) د ځایي امام پسې اقتداء وکړي؛ نو پر ده هم د تشریق تکبیرونه ویل لازم دي.[۳]

که څوک په جماعت او یا یوازې لمونځ کوي، نر او که ښځه وي، د تشریق تکبیرونه ویل وربانديې واجب دي.[۴]

د تشریق تکبیرونه یو ځل ویل

د تشریق تکبیرونه یو ځل ویل واجب دي.[۱]

د تشریق د تکبیرونو پیل

کله چې ابراهیم علیه السلام خپل خوږ زوی اسماعیل علیه السلام د الله جل جلاله د امر د پر ځای کولو لپاره حلالولو؛ نو جبرائیل علیه السلام له جنت څخه فدیه ورته راوړه، دا چې جبرائیل علیه السلام ودار شو چې ابراهیم علیه السلام په بیړه خپل زوی حلال نه کړي، دغه کلمات یې وویل "الله أکبر، الله أکبر"، ابراهیم علیه السلام چې جبرائیل علیه السلام ولید، ده وویل: "لا

---

(۳) : ووجوبه (على إمام مقيم) بمصر (و) على مقتد (مسافر أو قروي أو امرأة) بالتبعية، الرد مع الدر ج: ۲ ص: ۱۷۹، ط: سعيد، البحر ج: ۲ ص: ۱۶۶، بدائع ج: ۱ ص: ۱۹۷، ويجب على مقيم اقتدى بمسافر لأنه صار تبعا لإمامه، شامي ج: ص: ۱۸۰، البحر ج: ۲ ص: ۱۶۶، بدائع ج: ۱ ص: ۱۹۸، هندية ج: ۱ ص: ۱۵۲)

(۴) (وقالا بوجوبه فور كل فرض مطلقا) ولو منفردا أو مسافرا أو امرأة لأنه تبع للمكتوبة، (الدر المختار مع الرد المحتار ج: ۲ ص: ۱۸۰، ط: سعيد، بدائع ج: ۱ ص: ۱۹۷، ط: سعيد، هندية ج: ۱ ص: ۱۵۲)

(۱) : (ويجب تكبير التشريق) في الأصح للأمر به (مرة) وإن زاد عليها يكون فضلا (رد المحتار على الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۷۷، ط: سعيد، هندية ج: ۱ ص: ۱۵۲ ط: رشيدية، البحر ج: ۲ ص: ۱۶۴، ط: سعيد)

اله‌الاالله‌والله‌اکبر"، کله چې اسماعیل علیه‌السلام د فدیې په راوړلو خبر شو هغه وویل: "الله‌اکبرولله‌الحمد". (۲)

د تشریق د تکبیرونو پاتېدل (قضايي)

که د تشریق تکبیرونه د چا له هېره ووتل بیا راګرځول یې نشته. توبه دي وباسي چې ګناه یې وبخښل شي. (۳)

په تشریق تکبیرونو کې د غږ لوړوالی

د تشریق تکبیرونه په لوړ غږ ویل ارین دي، ډېری خلک په دې کې بې پروایي کوي، په ټیټ غږ یې وایي، د دغو خلکو سمونه (اصلاح) اړینه ده. (۱)

حلاله کې تکلیف ورکول

د حلالې پرمهال باید څاروی ونه زوروول شي، بلکې پکار ده چې

---

(۲) : قال في البحر : وَقَدْ ذَكَرَ الْفُقَهَاءُ أَنَّهُ مَأْثُورٌ عَنْ الْخَلِيلِ – عَلَيْهِ السَّلَامُ – وَأَصْلُهُ أَنَّ جِبْرِيلَ – عَلَيْهِ السَّلَامُ – لَمَّا جَاءَ بِالْفِدَاءِ خَافَ الْعَجَلَةَ عَلَى إبْرَاهِيمَ فَقَالَ اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ فَلَمَّا رَآهُ إبْرَاهِيمُ – عَلَيْهِ السَّلَامُ – قَالَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ فَلَمَّا عَلِمَ إسْمَاعِيلُ الْفِدَاءَ قَالَ إسْمَاعِيلُ اللَّهُ أَكْبَرُ وَلِلَّهِ الْحَمْدُ ، كذا في غاية البيان (البحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۶۵ ، باب العيدين، ط: سعيد)

(۳) : قال في البحر : وَأَمَّا مَحَلُّ أَدَائِهِ فَدُبُرُ الصَّلَاةِ وَفَوْرُهَا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَتَخَلَّلَ مَا يَقْطَعُ حُرْمَةَ الصَّلَاةِ حَتَّى لَوْ ضَحِكَ.. أَوْ تَكَلَّمَ عَامِدًا أَوْ سَاهِيًا أَوْ خَرَجَ مِنْ الْمَسْجِدِ أَوْ جَاوَزَ الصُّفُوفَ فِي الصَّحْرَاءِ لَا يُكَبِّرُ، لِأَنَّ التَّكْبِيرَ مِنْ خَصَائِصِ الصَّلَاةِ حَيْثُ لَا يُؤْتَى بِهِ إلَّا عَقِبَ الصَّلَاةِ فَيُرَاعَى لِإِتْيَانِهِ حُرْمَتُهَا وَهَذِهِ الْعَوَارِضُ تَقْطَعُ حُرْمَتَهَا . (البحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۶۵ ، بدائع ج: ۱ ص: ۱۹۶، فصل أما محل أدائه ، ط: سعيد)

(۱) : لكن المرأة تخافت ، الدر مع الرد ج: ۲ ص: ۱۷۹، هندية ج: ۱ ص: ۱۵۲، د دې نه څرګندېږي چې سړیو ته ښايي په لوړ اواز تکبیرونه ووايي. (د قربانۍ احکام او شاليد يې مفتي محمد شفيع رحمه الله ط: ادارة المعارف ص ۳۴)

چاړه ښه تېره کړي او ځاروی حلال کړي، کله چې ځاروی حلال شي؛ نو بیا ددې نه وړاندې چاړه چلول منع دي، ددې لپاره چې ځاروي ته بې ځایه تکلیف ونه رسیږي.[۲]

تېره ګناه معاف

ابو سعید ﷛ روایت کوي چې رسول الله ﷺ فاطمې ﷞ ته وویل: پورته شه او د خپلې قربانۍ د ځاروي سره (د حلالې پرمهال) ودرېږه! ځکه چې د ځاروي د وینې په لومړني څاڅکي تویېدلو سره ستا ټول تېر شوي ګناهونه معاف کیږي.

فاطمې ﷞ پوښتنه وکړه چې اې د الله تعالی رسوله! دا ځانګړتیا یوازې زموږ ترخاندان (نبوي کورنۍ) پورې تړلې ده او که موږ او ټول مسلمان په دې کې یو شان یو؟

رسول الله ﷺ ورته وویل: دا ځانګړتیا زموږ لپاره هم ده او د ټولو مسلمانانو لپاره ده (الترغیب والترهیب، ټوک: ۲ مخ ۳۹۳)[۱]

د تېر شوي کال د قربانۍ حکم

د قربانۍ په اوه شریکانو کې یو شریک د پروسږ کال د قربانۍ کولو نیت وکړو، د ټولو شریکانو قرباني صحیح ده؛ خو کوم شریک

(۲) (۲) : وکره کل تعذیب بلا فائدة ، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۲۹۶، ط: سعید. وجاء في الحدیث: ولیحد احدکم شفرته ولیرح ذبیحته ، ابوداؤد ج: ۲ ص: ۳۳ ط: امدادیة ملتان.

(۱) : عن علي یا فاطمة، قومي واشهدي أضحیتك، أما إن لك بأول قطرة تقطر من دمها مغفرة لکل ذنب، أما إنه یجاء بها یوم القیامة بلحومها ودمائها سبعین ضعفا حتی توضع في میزانك هي لآل محمد [illegible] عامة. رقم الحدیث: ۱۲۲۳۷ ، ط: مؤسسة الرسالة، بدائع ج: ۵ ص: ۷۹، فصلٌ أما بیان ما [illegible] قبل التضحیة، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۹، شامي ج: ۶، ۳۲۸.

چي د قضا نیت کړی دی د هغه قرباني به نفلي ګرځي قضاء به نه ګڼل کیږي، د ټول څاروي صدقه کول لازمي دي او د قضاء قرباني د برخې په ځای دي درمیانه درجه بزه یا وری خیرات کړي. (۲)

تی

که دمېږي او وزې له یو تي څخه شیدې نه راتلې قرباني یې صحیح نه کیږي؛ ځکه چې دغه څاروی عیب لري، د عیب لرونکي څاروي قرباني نه صحیح کیږي. (۱)

که دغوا، مېښې او اوښې له دوو تیو شیدې نه راتلې قرباني یې نه صحیح کیږي. (۲)

د کوم څاروي تیان چې پرې شوي دي او یا داسې خوږ شوي وي چې بچي ته شیدې نه شي ورکولای. د دغه څاروي قرباني هم نه صحیح کیږي.

---

(۲) : ومنها أنها تُقضى إذا فاتت عن وقتها، ثم قضاؤها قد يكون بالتصدق بعين الشاة حية، وقد يكون بالتصدق بقيمة الشاة. فتاوى هنديه ج: ۵ ص: ۲۹۴، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۶۶، فصل أما كيفية الوجوب، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۲، ط: سعيد، وإن نوى بعض الشركاء التطوع وبعضهم يريد الأضحية للعام الذي صار دينا عليه وبعضهم الأضحية الواجبة عن عامه ذلك جاز الكل، وتكون عن الواجب عمن نوى الواجب عن عامه ذلك، وتكون تطوعا عمن نوى القضاء عن العام الماضي، ولا تكون عن قضائه بل يتصدق بقيمة شاة وسط لما مضى، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۵، الباب الثامن، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص ۱۷۸، ط: سعيد.

(۱)(۲)(۱) : وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تحت قوله. (وهي التي عوجت الخ...) وفي التاترخانية وهي من الشاة ما قطع اللبن عن إحدى ضرعيها، ومن الإبل والبقر ما قطع من ضرعيها لأن لكل واحد منهما أربع أضرع. (شامي ج: ۶ ص: ۳۲۴، ۳۲۵، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۹، الباب الخامس.)

که د غوا . مېښې او اوښې يو تې وچ شوی وي، قرباني يې صحيح ده او که دوه تيونه يې وچ شوي وي او يا پرې شوي وي قرباني يې نه صحيح کيږي [۳]

د کوم څاروي تيان چې وچ شوي وي، قرباني کول يې صحيح نه دي [۴] د کوم څاروي تيان چې نه وي، قرباني يې نه صحيح کيږي. [۵]

(ټ)

تو له مرۍ غوڅول

که د مرغۍ يا بل څاروي د حلالولو پرمهال تو له مرۍ غوڅه کړي؛ نو د هغې خوړل صحيح دي؛ خو له قصده زياته حلالول مکروه دي؛ خو څاروی پرې نه مکروه کيږي. [۱]

ټوليزي قرباني

نن سبا د ټوليزو (اجتماعي) قربانيو دود عام شوی دی، ډېرې اداري دغه خدمت ترسره کوي، کومه شرعي ستونزه نه لري او روا دي. که څوک په دې ډاربږي چې يوازې قرباني وکړي. د قربانۍ د څرمنې د ترلاسه کولو لپاره به څوک ده ته زيان ورسوي؛ نو په داسې حالت

(۴) : ولا تجوز الخذاء وهي المقطوعة ضرعها، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۴، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۸.

(۵) : ولا تجوز الجداء وهي التي يبس ضرعها، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۸،الباب الخامس، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۴، ط: سعيد ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶. كتاب الأضحية، ط: سعيد) ولا تجوز الحذاء وهي المقطوعة ضرعها، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۴، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۸.

(۱) : وَيُسْتَحَبُّ الاكْتِفَاءُ بِقَطْعِ الْأَوْدَاجِ وَلَا يُبَايِنُ الرَّأْسَ وَلَوْ فَعَلَ يُكْرَهُ . فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۳، ط: رشدية، كتاب الذبائح، ط: رشدية، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۰، قبل فصل أما بيان مايحرم أكله من أجزاء الحيوان. البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰.

کې په ټولیزو قربانیو کې برخه اخیستل غوره دي، یو دا چې قرباني به یې وشي او بله دا چې د قربانۍ ځرمن به ور خلکو ته ورسېږي.[۲]

په ټولیزو قربانیو کې د برخې اخیستلو پر مهال باید دې خبرې ته کلکه پاملرنه وشي چې له حرامو لارو د پیسو لاس ته راوړونکو سره شراکت ونه شي او که له حرامو لاس ته راوړونکو سره شراکت وشي قرباني یې نه صحیح کېږي؛ نو د داسې خلکو د خبردارۍ لپاره باید د ټولیزو قربانیو اړوندې ادارې د خلکو څخه د پیسې اخیستلو په ځایونو کې دا خبرتیا ولیکي چې "له حرامو لارو د پیسو لاس ته راوړونکي د ببلګنې په توګه سود. قیمار. سودي بانک، بیمې، چورکوونکي او غله دې په ټولیزې قربانۍ کې ګډون نه کوي."[۱]

په ټولیزو قربانیو کې باید د څاروي له حلالولو وړاندې اووه کسان شریکوال وټاکل شي او د حلالولو پر مهال باید د هغوی لخوا د قربانۍ نیت وشي، که د قربانۍ په څاروي کې شریکوال نه وي ټاکل

---

(۲) : وَالْبَقَرُ وَالْبَعِيرُ يَجْزِي عَنْ سَبْعَةٍ إِذَا كَانُوا يُرِيدُونَ بِه وَجْهَ اللّٰهِ تَعَالَى، وَالتَّقْدِيرُ بِالسَّبْعِ يَمْنَعُ الزِّيَادَةَ، وَلَا يَمْنَعُ النُّقْصَانَ، كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ. (فتاوى هندية ج: ۵ص: ۳۰۴، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۹ ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴ ط: سعيد ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۰– ۷۲، فصلٌ أما محل إقامة الواجب، ط: سعيد.)

(۱) : عن سعد قالَ رسولُ الله ﷺ : إنَّ اللّٰهَ طَيِّبٌ يُحبُّ الطَّيِّبَ، نظيفٌ يُحبُّ النَّظَافَةَ، كَرِيمٌ يُحبُّ الكَرَمَ. (رواه الترمذي ، جمع الجوامع، ج: ۲ ص: ۲۴۸، رقم الحديث ۵۳۸۰، ط: دار الكتب العلمية، بيروت)، عن أبي هُرَيْرَةَ أنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم قالَ : إنَّ اللّٰهَ يَقْبَلُ الصَّدَقَةَ ولا يقبل منها الاالطيب، يقبله بيمينه، الخ ، مسند أحمد، ج: ۹ ص: ۱۵۰، رقم الحديث : ۹۲۱۷، ط: دار الحديث القاهرة.

شوي او قرباني حلاله کړي، قرباني يې نه صحيح کېږي.[۲]

په ټولېزو قربانيو کې اضافه شوي پيسې

که په ټولېزو قربانيو کې پيسې اضافه شي؛ نو پيسې دې قرباني کوونکي ته بېرته ورکړل شي، د هغه له اجازې پرته د ټولېزو قربانيو کوونکي ادارې لپاره د دغه ډول پيسو له ځان سره ساتل روا نه دي او که اداره د مزدورۍ په موخه څه اخلي؛ نو له وړاندې دې معلومې کړي، وروسته يې نشي ټاکلای.[۳]

(ث)

د ثواب بخښلو په موخه قرباني کول

مړو ته د ثواب بخښلو په نيت قرباني کول روا دي او ثواب ورته رسېږي، د ثواب بخښلو په نيت د قربانۍ يوه برخه ټولو مړو ته او يا د ټول اسلامي امت په نوم کېدلای شي او د دې ثواب ټول اسلامي امت ته رسېږي: ځکه چې د قربانۍ د ثواب بخښونکي د خاروي يا يوې برخې څښتن دی.[۱]

که ي وصيت کړی وي چې زما لخوا به قرباني کوئ! نو د ده لخوا

(۲) : (ذَبحُ حَيَوانٍ مَخصُوصٍ بِنِيَّةِ القُربَةِ في وقتٍ مَخصُوصٍ، قال في البدائع: فلا تجزى التضحية بدونها لأن الذبح قد يكونُ للحمِ وقدْ يكونُ للقربة ، (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۱۲ ط: سعيد.)

(۳) : فتاوى رحيمية ج: ۱۰ ص: ۴۵، دار الاشاعت.

(۱) : قَالَ فِي الْبَدَائِعِ لِأَنَّ الْمَوْتَ لَا يَمْنَعُ التَّقَرُّبَ عَنْ الْمَيِّتِ بِدَلِيلِ أَنَّهُ يَجُوزُ أَنْ يُتَصَدَّقَ عَنْهُ وَيُحَجَّ عَنْهُ، وَقَدْ صَحَّ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – ضَحَّى بِكَبْشَيْنِ أَحَدُهُمَا عَنْ نَفْسِهِ وَالْآخَرُ عَمَّنْ لَمْ يَذْبَحْ مِنْ أُمَّتِهِ» وَإِنْ كَانَ مِنْهُمْ مَنْ قَدْ مَاتَ قَبْلَ أَنْ يَذْبَحَ اهـ، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۲، فصل أما شرائط جواز إقامة الواجب.

د يو كس په ډول قرباني كېدلای شي، په يوه برخه كې له يو څخه د ډېرو كسانو پر ځای د قربانۍ كولو نيت كول روا نه دي.[۲]

(ج)

جامې

د اختر په ورځ ښځې او نارينه وو ته پكار ده چې غوره جامې واغوندي، برابره خبره ده چې يو ځل كارول شوي وي او كه نوې جوړه وي، د نارينه وو لپاره سپينه جوړه غوره ده او د نورو رنګونو جوړه هم كولای شي؛ خو سور او زيړ رنګه جوړه كارول د سړي لپاره مكروه ده.[۳]

جومات ته څرمن وركول

د قربانۍ څرمنې خرڅولو وروسته چې كومې روپۍ لاس ته راشي د هغې صدقه كول واجب دي او د صدقه كولو حقيقت دا دی چې چاته يې وركوي هغه به يې مالک جوړوي؛ خو دا چې په جومات كې د تمليک معنی نه موندل كېږي؛ نو ددې وجې د قربانۍ د څرمنې قيمت د جومات، مدرسې په ابادئ او د امام،

---

(۲) : لَوْ ضَحّى عَنْ مَيِّتٍ وَارِثُهُ بِأَمْرِهِ أَلْزَمَهُ بِالتَّصَدُّقِ بِهَا وَعَدَمِ الْأَكْلِ مِنْهَا، وَإِنْ تَبَرَّعَ بِهَا عَنْهُ لَهُ الْأَكْلُ لِأَنَّهُ يَقَعُ عَلَى مِلْكِ الذَّابِحِ وَالثَّوَابُ لِلْمَيِّتِ. (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۳۵ ، ط: سعيد .)، فَدَلَّ أَنَّ الْمَيِّتَ يَجُوزُ أَنْ يُتَقَرَّبَ عَنْهُ فَإِذَا ذُبِحَ عَنْهُ صَارَ نَصِيبُهُ لِلْقُرْبَةِ فَلَا يَمْنَعُ جَوَازَ ذَبْحِ الْبَاقِي، بدائع ج: ۵ ص: ۷۲ ، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب.

(۳) : كَلُبْسِهِمْ الْجَدِيدَ يَوْمَ الْعِيدِ ، بحر الرائق ج: ۳ ص: ۱۵۲، باب المهر، ط: دار الكتاب الإسلامي.

مؤذن او خادم په تنخا کې ورکول ناروا دي.(١)

(ج)

د چېه کېدو له وجې عیب پیدا شو

که د قرباني څاروی يې د حلالولو لپاره چپه کولو چې عیب پکښې پیدا شو؛ نو ددې عیب هیڅ اعتبار نشته او قرباني يې صحیح ده.(٢)

چرگ

د چرگ قرباني نه صحیح کیږي. د نبي کریم ﷺ څخه قولا او فعلا د چرگ د قرباني کولو هیڅ ثبوت نشته.(٣)

---

(١) : (فَإِنْ) (بِيعَ اللَّحْمُ أَوْ الْجِلْدُ بِهِ) أَيْ بِمُسْتَهْلَكٍ (أَوْ بِدَرَاهِمَ) (تَصَدَّقَ بِثَمَنِهِ) الدر مع الرد ج: ٦ ص: ٣٣٨، وأيضاً في شرح التنوير : ويشترط أن يكون الصرف تمليكاً لا إباحةً، الدر مع الرد ج: ٢ ص: ٣٤٤، باب المصرف، البحر ج: ٢ ص: ٢٤٣، باب المصرف، ط: سعيد، تاتارخانية ج: ٢ ص: ٢٧٢، ط: إدارة القرآن ، بدائع ج: ٢ ص: ٣٩، ط: سعيد.

(٢) : وَلَوْ قَدَّمَ أُضْحِيَّةً لِيَذْبَحَهَا فَاضْطَرَبَتْ فِي الْمَكَانِ الَّذِي يَذْبَحُهَا فِيهِ فَانْكَسَرَتْ رِجْلُهَا، ثُمَّ ذَبَحَهَا عَلَى مَكَانِهَا أَجْزَأَهُ، فتاوى هندية ج: ٥ ص: ٢٩٩، ط: رشيدية، البحر ج: ٨ ص: ١٧٧، فتح القدير ج: ٨ ص: ٤٣٥، بدائع الصنائع ج: ٥ ص: ٧٦، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب.

(٣) : (أَمَّا جِنْسُهُ) : فَهُوَ أَنْ يَكُونَ مِنْ الْأَجْنَاسِ الثلاثة: الغَنَمُ أو الْإِبِلُ أَوِ الْبَقَرُ فِي كُلِّ جِنْسٍ نَوْعُهُ، وَالذَّكَرُ وَالْأُنْثَى مِنْه، (الهندية ج: ٥ ص: ٢٩٧ الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب، البحر الرائق ج: ٨ ص: ١٧٧ ، كتاب الأضحية، ط: سعيد، رد المحتار ج: ٦ ص: ٣٢٢ ، كتاب الأضحية ، ط: سعيد، بدائع الصنائع ج: ٥ ص: ٦٩ ، فصل في محل إقامة الواجب، ط: سعيد، وَفِي أُصُولِ التَّوْحِيدِ لِلْإِمَامِ الصَّفَّارِ وَالتَّضْحِيَةُ بِالدِّيكِ وَالدَّجَاجَةِ فِي أَيَّامِ الْأُضْحِيَّةِ مِمَّنْ لَا أُضْحِيَّةَ عَلَيْهِ لِإِعْسَارِهِ لِتَشَبُّهِهَا بِالْمُضَحِّينَ مَكْرُوهَةٌ، لِأَنَّهُ مِنْ رُسُومِ الْمَجُوسِ، كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ. الهندية ج: ٥ ص: ٣٠٠، الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب.)

چاړه

په کومه چاړه چې ځاروی حلالوي هغه باید تېره وي؛ تر څو ځاروی د حلالولو پر مهال ونه ځورول شي، د ځاروي په مخ کې چاړه مه تېره کوئ.[١]

(ح) .

په هېره د یو بل قرباني حلالول

که دوه کسانو دوه وزې د قربانۍ لپاره پېرلې وي، په هېره یې د یو بل وزې قرباني کړې، د دواړو قرباني صحیح ده. یو بل ته یې بدل او یا بیه ورکول واجب نه دي.[٢]

د بې لمانځه حلاله

حلالونکی کس مسلمان دی؛ خو د لمانځه او روژې پابند نه دی او

---

[١] : قَالَ فِي البحر -: (وَنُدِبَ حَدُّ شَفْرَتِهِ) لِقَوْلِهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - «إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ، وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَةَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَغَيْرُهُ وَيُكْرَهُ أَنْ يُضْجِعَهَا، ثُمَّ يُحِدَّ الشَّفْرَةَ لِقَوْلِهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - «لِمَنْ أَضْجَعَ الشَّاةَ وَهُوَ يُحِدُّ شَفْرَتَهُ لَقَدْ أَرَدْتَ أَنْ تُمِيتَهَا مَوْتَتَيْنِ هَلَّا حَدَدْتَهَا قَبْلَ أَنْ تُضْجِعَهَا» بدائع ج: ٥ ص: ٦٠، و ٨٠، أما الذي يرجع إلىٰ آلة التضحية ط: سعيد، هندية ج: ٥ ص: ٢٨٧، الباب السابع، ط: رشيدية ، البحر ج: ٨ ص: ١٧٠، ط: سعيد شامي ج: ٦ ص: ٢٩٦، ط: سعيد.

[٢] : لَوْ غَلَطَ رَجُلَانِ فَذَبَحَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أُضْحِيَّةَ صَاحِبِهِ عَنْ نَفْسِهِ أَنَّهُ يُجْزِي كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أُضْحِيَّتُهُ عَنْهُ اسْتِحْسَانًا. (بدائع الصنائع ج: ٥ ص: ٦٧ ، فصل أما كيفية الوجوب، ط: سعيد ،(ولو غلط إثنان وذبح كلٌّ شاةَ صاحبه).....(صح) الدر المختار مع الرد المحتار ج: ٦ ص: ٣٢٩، ط: سعيد، البحر الرائق ج: ٨ ص: ١٧٩، هندية ج: ٥ ص: ٣٠٥، غلط فذبح كل واحد منهما أضحية صاحبه جازت التضحية ، فتاوى سراجية ، ص: ٣١٣. باب ما يستحب من التضحية ، ط: مدرسة فاطمة الزهراء، كراتشي.)

پاک هم نه ګرځي، نشه هم کوي، د دغه کس په لاس د حلال شوي ځاروي غوښه پاکه ده، په دې شرط که د حلالې پر مهال يې قصدا "بسم الله الله اکبر" پرېښې نه وي.[۱]

حاجي

که حاجي لاروی (مسافر) وي، قرباني ورباندې واجبه نه ده او که په خپله خوښه قرباني کوي ثواب لري.[۲]

که حاجي ځايي (مقيم) وي او د لارې د لګښت څخه اضافه دومره پانګه ورسره وي چې د نصاب څښتن جوړېدلای شي؛ نو بيا قرباني ورباندې واجب ده.[۳]

کوم حاجي چې د قران او يا تمتع حج نيت کړی وي، د شکرېې ځاروی (دم شکر) حلالول ورباندې لازم دی، مېږه، وزه او يا به په لوی ځاروي کې برخه اخلي او د حرم په بريدونو کې دننه به يې حلالوي.

---

[۱] : (وَشَرْطُ كَوْنِ الذَّابِحِ مُسْلِمًا حَلَالًا خَارِجَ الْحَرَمِ إِنْ كَانَ صَيْدًا) (أَوْ كِتَابِيًّا ذِمِّيًّا أَوْ حَرْبِيًّا) الخ... لا تحل تارک ذبيحة تسمية عمداً ، شامي ج: ۶ ص: ۲۹۶، ۲۹۹ ، کتاب الذبائح ط: سعيد ، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۵، کتاب الذبائح ط: رشيدية ، البحر ج: ۸ ، ص: ۱۷۸ ، ط: سعيد .

[۲] : وَلَا تَجِبُ الْأُضْحِيَّةُ عَلَى الْحَاجِّ؛ وَأَرَادَ بِالْحَاجِّ الْمُسَافِرَ ، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۳ ، فصلٌ أما شرائط الوجوب ، الدر المختار مع الرد ج: ۶ ص: ۳۱۵ ، ط: سعيد.)

[۳] : ومنها الإقامة ، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۳ ، فصلٌ أما شرائط الوجوب، ط: سعيد، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۳، ط: سعيد ، تکملة فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۵ ، شامي ج: ۶ ص:۳۱۲۵، ط: سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲، کتاب الأضحية ، الباب الأول في تفسيرها ، ط: رشيدية .

یاده دي وي چې "دم شکر" او قرباني سره توپیر لري، دواړه یو نه دي.[۴]

که د مکې اوسېدونکي "اهل مکة" د نصاب څښتن وي او حج کوي؛ نو قرباني هم وربانديې لازمه ده.[۱]

حلاله په خپله کول

خپله قرباني په خپله حلالول غوره دي، که څوک له حلالولو سره نابلده وي، په بل چا دي حلال کړي او د قربانۍ د حلالولو پر مهال دي ورته مخامخ ودرېږي او حلالونکي ته دي د "بسم الله الله أكبر" تلقين ورکوي څو هغه غلط نه شي.[۲]

اختیاري حلاله

اختیاري حلاله دې ته ویل کېږي چې په تېز او تېره (اوسپنه) څاروی حلال کړلای شي.[۳]

---

(۴) : قَالَ أَصْحَابُنَا: إِنَّهُ دَمُ نُسُكٍ وَجَبَ شُكْرًا لِمَا وُفِّقَ لِلْجَمْعِ بَيْنَ النُّسُكَيْنِ بِسَفَرٍ وَاحِدٍ . (بدائع ج: ۲ ص: ۱۷۴ ، فصل وأما بيان ما يجب على المتمتع والقارن ، ط: سعيد.)

(۱) : فَأَمَّا أَهْلُ مَكَّةَ فَتَجِبُ عَلَيْهِمُ الْأُضْحِيَّةُ وَإِنْ حَجُّوا . (بدائع ج: ۵ ص: ۶۳، فصلٌ أما شـرائط الوجوب ، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۵، كتاب الأضحية .)

(۲) : وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَذْبَحَ أُضْحِيَّتَهُ بِيَدِهِ إِنْ كَانَ يُحْسِنُ الذَّبْحَ، لِأَنَّ الْأَوْلَى فِي الْقُرُبَاتِ أَنْ يَتَوَلَّى بِنَفْسِهِ، وَإِنْ كَانَ لَا يُحْسِنُهُ فَالْأَفْضَلُ أَنْ يَسْتَعِينَ بِغَيْرِهِ وَلَكِنْ يَنْبَغِي أَنْ يَشْهَدَهَا بِنَفْسِهِ . (هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، الباب الخامس، بدائع ج: ۵ ص: ۷۹، أما الذي يرجع إلىٰ من عليه التضحية. البحر ج: ۸ ص: ۱۷۹، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۸، ط: سعيد.)

(۳) : و أَنْ تَكُونَ آلَةُ الذَّبْحِ حَادَّةً مِنَ الْحَدِيدِ، فتاوىٰ هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، البحـر ج: ۸ ص: ۱۷۰، بدائع ج: ۵ ص: ۸۰، (وَحُبِّبَ) بِالْحَاءِ (نَحْرُ الْإِبِلِ) فِي سُفْلِ الْعُنُقِ (وَكُرِهَ) (ذَبْحُهَا) ، (وَالْحُكْمُ فِي غَنَمٍ وَبَقَرٍ) (عَكْسُهُ) فَنُدِبَ ذَبْحُهَا، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۰۳، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۱، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۶۰، قبيل فصل أما بيان ما يحرم أكله ، فتح القـدير ج: ۸ ص: ۴۱۶، ط: رشيدية.

ترېنګلې (اضطراري) حلاله

ترېنګلي (اضطراري) حلاله دې ته ويل کېږي چې قرباني په واک کې راوستل شوني نه وي، ځاروی په داسې ځای کې لوېدلی وي چې اختياري حلاله او ژوندی راويستل يې ناشوني وي او د قربانۍ د مړه کېدو وېره وي؛ نو په تېره څوکه لرونکي شي د "بسم الله الله اکبر" په ويلو سره دې پر ځاروي وار وکړي چې له ځاروي وينه توېه شي.[1]

پر حلالولو مزدوري اخيستل

د قربانۍ په حلالولو مزودري اخيستل روا دي، د مزدورۍ پيسې بايد د ځاروي له حلالولو وړاندې معلومې شي.[2]

د قربانۍ د حلالولو په مزدورۍ کې د قربانۍ غوښه، څرمن او يا بل شی ورکول روا نه دي، د ځاروي د حلالولو په بدل کې دې پيسې ورکړل شي.[3]

---

[1] : (وَكَفَى) (جَرْحُ نَعَمٍ) كَبَقَرٍ وَغَنَمٍ (تَوَحَّشَ) فَيُجْرَحُ كَصَيْدٍ (أَوْ تَعَذَّرَ ذَبْحُهُ) كَأَنْ تَرَدَّى فِي بِئْرٍ أَوْ نَدَّ أَوْ صَالَ، حَتَّى لَوْ قَتَلَهُ الْمَصُولُ عَلَيْهِ مُرِيدًا ذَكَاتَهُ حَلَّ. (الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۰۳، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۵، كتاب الذبائح، ط: رشيدية ، بدائع ج: ۵ ص: ۴۳، فصلٌ أما بيان شرط حل الأكل في الحيوانِ المأكول، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، ۱۷۱.)

[2] : وَيَجُوزُ الِاسْتِئْجَارُ عَلَى الذَّكَاةِ (أى الذبح) لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْهَا قَطْعُ الْأَوْدَاجِ دُونَ إِمَاتَةِ الرُّوحِ وَذَلِكَ يُقْدَرُ عَلَيْهِ (الهندية ج: ۴ ص: ۴۵۴، كتاب الإجارة .)

[3] : وَلَا يُعْطَى أَجْرُ الْجَزَّارِ مِنْهَا، لِأَنَّهُ كَبَيْعٍ، لِأَنَّ كُلًّا مِنْهُمَا مُعَاوَضَةٌ، لِأَنَّهُ إِنَّمَا يُعْطَى الْجَزَّارُ بِمُقَابَلَةِ جَزْرِهِ وَالْبَيْعُ مَكْرُوهٌ فَكَذَا مَا فِي مَعْنَاهُ وَلِقَوْلِ النبي صلى الله عليه وسلم: تَصَدَّقْ بِجِلَالِهَا وَخِطَامِهَا وَلَا تُعْطِ أَجْرَ الْجَزَّارِ مِنْهَا شَيْئًا» (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۸، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، بدائع ج: ۵ ص: ۸۱، فصلٌ أما بيان ما يستحب قبلَ التضحية ، ط: سعيد، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۷، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۱، الباب السادس، ط: رشيدية.)

د حلالولو اله

پر هر هغه تېره شي حلالول روا دي چې د ځاروي رګونه وربانـدې پرې کېدلای شي، که په غاښ، خوله او نوک پـه لاس کې وي يعنې په خپلو ځايونو کې وي، حلاله وربانـدې حرامـه ده، کـه پـه ځيـري کوونکي غاښ قرباني حلاله شي، غوښه يې حلاله ده: خو مکروه ده.

ځينې ځنګلي خلک په نوکانو او غاښونو ځاروي حلالوي. محمد ﷺ له دې ډول حلالولو څخه منع کړې ده، دا لـه دې کبلـه چې غـاښ هډوکی دی او په هډوکي ځاروی حلالول ځاروی مردارو ي[1]

د سرو، سپينو او پيتلو په تېره څوکه لرونکي الې حلالـه کېدلای شي، په تېره ډبرې او لرګي حلالول هم صحيح دي[2]

که په تېره بانس ځاروی حلال کړل شي، ځاروی حلال دی.[3]

د حلالولو مسنونه طريقه

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې محمد ﷺ تور او سپين تـه نـږدې دوه ښکرورو پسونه پـه خپـل لاس قربـاني کړه، د حلالولـو پـر

---

(۱) : وَحل الذّبح بكل ما أفرى الأوداج وأنهر الدم أى أساله، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۲۹۵، .... (إلَّا سِنًّا وَظُفْرًا قَائِمَيْنِ، وَلَوْ كَانَا مَنْزُوعَيْنِ حَلَّ) عِنْدَنَا (مَعَ الْكَرَاهَةِ) لِمَا فِيهِ مِنْ الضَّرَرِ بِالْحَيَوَانِ كَذَبْحِهِ بِشَفْرَةٍ كَلِيلَةٍ. (رد المحتار ج: ۶ ص: ۲۹۶، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۴۲، فصلٌ أما بيان شرط حل الأكل في الحيوان ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۱۵، ط: رشيدية.)

(۲) : وَحل الذّبح بكل ما أفرى الأوداج وأنهر الدم ولو بنارٍ أو بليطةٍ أى قشر قصب أو مروةٍ هـي حجر أبيض كالسكين يذبح بها ، بدائع ج: ۵ ص: ۴۲، فصلٌ أما بيان شرط حل الأكل في الحيوان، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۲۹۵، كتاب الذبائح ، ط: سعيد.

(۳) : عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: «ضَحَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَـا بِيَـدِهِ، وَسَمَّى وَكَبَّرَ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا» (بخاري ج: ۲ ص: ۸۳۵، باب التكبير عند الـذبح ، ط: قديمي.)

مهال يې خپله پښه د څاروي پر اړخ ایښې وه او "بسم الله الله اکبر" يې ويل.

د حلالولو ځاى

د حلالو ځاى د ستوني د راوتلي برخې څخه د سينې تر پيلدو پورې دى، په جامع الصغير کې راغلي دي چې: ټول ستونى د حلالولو ځاى دى، که لوړې، منځنى او يا وروستى برخه يې وي.

که د ستوني بره راوتلي برخې سربېره حلاله وکړل شي، څاروى نه حرامېږي.

د حلالولو پر مهال دي د څاروي سر له بدن څخه نه جدا کوي، د ساه اخيستلو لار (حلقوم)، سره غاړه او چاپېره رګونه چې شارګ هم ورسره دى پرې کول يې اړين دي، د دغو رګونو په پرې کولو سره مرداره وينه د څاروي له بدنه وځي.

د حلالولو پر مهال بايد د څاروي له بې ځايه ځورولو څخه ډډه وشي.[1]

د حلالولو پر مهال د شريکوالو نومونه اخيستل

د قرباني د حلالولو پر مهال د ټولو شريکوالو نومونه اخيستل

---

(۱) : الذكاة مابين اللبة واللحيين، رد المحتار ج: ۶ ص: ۲۹۴، ط: سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۵،كتاب الذبائح، ط: رشيدية ، البحر ج: ۸ ص: ۱۶۹، بدائع ج: ۵ ص: ۴۱، فصلٌ أما بيان شرط الأكل في الحيوان، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۱۲، وَالْعُرُوقُ الَّتِي تُقْطَعُ فِي الذَّكَاةِ أَرْبَعَةٌ: الْحُلْقُومُ وَهُوَ مَجْرَى النَّفَسِ، وَالْمَرِيءُ وَهُوَ مَجْرَى الطَّعَامِ، وَالْوَدَجَانِ وَهُمَا عِرْقَانِ فِي جَانِبَيْ الرَّقَبَةِ يَجْرِي فِيهَا الدَّمُ، فَإِنْ قَطَعَ كُلَّ الْأَرْبَعَةِ حَلَّتْ الذَّبِيحَةُ ، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷، ط: رشيدية ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، رد المحتار ج: ۶ ص: ۲۹۵، بدائع ج: ۵ ص: ۴۱، ط: سعيد، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۱۲، وَالْحَاصِلُ أَنَّ كُلَّ مَا فِيهِ زِيَادَةُ أَلَمٍ لَا يُحْتَاجُ إلَيْهِ فِي الذَّكَاةِ مَكْرُوهٌ . هندية ج: ۵ ص: ۲۸۸، ط: رشيدية ، رد المحتار ج: ۶ ص: ۲۹۶.

اړين نه دي، حلالونکی به د حلالي پر مهال د ټولو شريکوالو لخوا قرباني کول په زړه کې راګرځوي، که د ټولو شريکوالو له نومونو اخيستلو موخه دا وي چې حلالونکي ته ټول شريکوال ور په زړه شي، څه ستونزه نه لري.[1]

د حلالولو موخه

د قربانۍ د څاروي د حلالولو يوازينۍ موخه د الله ﷻ خوښي ترلاسه کول دي، قرباني بايد د عبادت په نيت وي، د غوښې ترلاسه کولو او ځان ښودنې په نيت نه وي.[2]

د حلالولو ځای

د حلالولو ځای د ستوني د هډوکي لاندې دی کوم ځای چې يو هډوکی راوتلی دی او د کوم ځای نه چې سينه پيل کيږي د دښه پورته، په جامع الصغير کې دي: ټوله مرۍ د حلالې ځای دی، برابره خبره ده چې پورته وي، که ښکته وي او که درميان وي.[3]

---

(۱): فَلَا تَتَعَيَّنُ الْأُضْحِيَّةُ إلَّا بِالنِّيَّةِ؛ وَقَالَ النَّبِيُّ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «إنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى» وَيَكْفِيهِ أَنْ يَنْوِيَ بِقَلْبِهِ وَلَا يُشْتَرَطُ أَنْ يَقُولَ بِلِسَانِهِ مَا نَوَى بِقَلْبِهِ كَمَا فِي الصَّلَاةِ؛ لِأَنَّ النِّيَّةَ عَمَلُ الْقَلْبِ، وَالذِّكْرُ بِاللِّسَانِ دَلِيلٌ عَلَيْهَا. (بدائع الصنائع كتاب التضحية ج: ۵ ص: ۷۱، ط: سعيد.)

(۲): مِنْهَا نِيَّةُ الْأُضْحِيَّةِ لَا تُجْزِي الْأُضْحِيَّةُ بِدُونِهَا؛ لِأَنَّ الذَّبْحَ قَدْ يَكُونُ لِلَّحْمِ وَقَدْ يَكُونُ لِلْقُرْبَةِ وَالْفِعْلُ لَا يَقَعُ قُرْبَةً بِدُونِ النِّيَّةِ يَكْفِيهِ أَنْ يَنْوِيَ بِقَلْبِهِ (بدائع ج: ۵ ص: ۷۱، فصل أما شرائط جواز إقامة الواجب، ط: سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، الباب الثامن.)

(۳) (۴): (وَ) ذَكَاةُ (الِاخْتِيَارِ) (ذَبْحٌ بَيْنَ الْحَلْقِ وَاللَّبَّةِ) بِالْفَتْحِ: الْمَنْحَرُ مِنْ الصَّدْرِ، (شامي ج: ۶ ص: ۲۹۴، وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ وَلَا بَأْسَ بِالذَّبْحِ فِي الْحَلْقِ كُلِّهِ أَسْفَلَهُ وَأَوْسَطَهُ وَأَعْلَاهُ، الهندية ج: ۵ ص: ۲۸۵، ط: رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۲۹۴، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، بدائع ج: ۵ ص: ۴۱، فصل أما بيان شرط حل الأكل في الحيوان.)

که د ستوني د هډوکي څخه پورته حلاله شوې وي؛ نو حلال شوی څاروی به حرام نه وي.[۴]

د مسلمان د لاس حلاله

که د قربانۍ حلالوونکی مسلمان وي او د قربانۍ په څملولو کې ورسره مشرک مرسته وکړي او یا یې پښې ونیسي، څه ستنونزه نه لري، په مرسته کوونکي "بسم الله الله أکبر" ویل واجب نه دي؛ نو که مرسته کوونکی مسلمان یا مشرک "بسم الله الله أکبر" ووایي، د حلالې لپاره کومه ګټه نه لري.

که مشرک د حلالونکي سره داسې مرسته وکړي چې د حلالونکي په لاس خپل لاس کېږدي؛ نو څاروی ژر حلال شي، یا له لومړي حلالوونکي وروسته دویم حلالوونکی مشرک وي، د څاروي غوښه خوړل حرام دي او قرباني یې نه صحیح کېږي.[۱]

د حلالوونکي مخ په قبله کېدل

د څاروي د حلالوونکي مخ باید د قبلې په لور وي، له اړتیا پرته څاروی خوشې کول مکروه دي.[۲]

---

[۱] : وشرط کون الذابح مسلماً .... (شامي ج: ۶ ص: ۲۹۶، هندیـة ج: ۵ ص: ۲۸۵، ط: رشیدیة ، البحر ج: ۸ ص: ۱۶۸، بدائع ج: ۵ ص: ۴۵، فتح القدیر ج: ۸ ص: ۴۰۷، ط: رشیدیة.)

[۲] : ومنها أنْ يَكُونَ الذَّابِحُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ ، بدائع ج: ۵ ص: ۶۰، قبیل فصل أما بیان ما یحرم أکله من أجزاء الحیوان، ط: سعید، وکذلک ان ذبحها متوجهةً لغیر القبلة حلت ولکن یکره ذلک لأنَّ السنة في الذبح إستقبال القبلة ، مبسوط ج: ۱۲، ص: ۳، دار الکتب العلمیة ، بیروت. لبنان، هندیة ج: ۵ ص: ۲۸۸، الباب الأول ، ط: رشیدیة ، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۰، ط: سعید.

د حلالوونکي امامت

که کوم امام په مزدوري يا بې مزدوري د قرباني يا همداسې څاروی حلال کړي په امامت کې يې کوم کراهت نه راځي.[۱]

که د حلالولو پر مهال عيبجن شي

که څاروی د حلالولو لپاره د څملولو پر مهال عيبجن شي، پښه يې ماته شي يا يې سترګه خرابه شي. کومه ستونزه نه لري، قرباني يې صحيح ګڼل کېږي.[۲]

د حلالې شرايط

حلالونکی مسلمان يا کتابي وي.[۳]

د حلالولو پر مهال دې د الله جل جلاله نوم واخيستل شي.[۴]

له شرعي طريقې سره سم دې، د ساه اخيستلو لار (حلقوم)، سره غاړه او چاپېره رګونه او شارګ پرې کړل شي.[۵]

يادښت: پورته ليکل شوي د اختياري حلالې شرطونه دي. ترېنګلې

---

(۱) : وَيَجُوزُ الِاسْتِجَارُ عَلَى الذَّكَاةِ (اى الذبح) لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْهَا قَطْعُ الْأَوْدَاجِ دُونَ إِفَاتَةِ الرُّوحِ وَذَلِكَ يُقْدَرُ عَلَيْهِ (هندية ج: ۴ ص: ۴۵۴، كتاب الإجارة، ط: رشيدية.)

(۲) : عزيز الفتاوى ج: ۱ ص: ۷۱۹، كتاب الأضحية والعقيقة.

(۳) : ومنها أن يكون مسلما أو كتابيا، بدائع ج: ۵ ص: ۴۵، أما شرائط ركن الزكاة، ط : سعيد.

(۴) : ثم التسمية في ذكاة الإختيار تشترط عند الذبح، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۰۲، ط: سعيد.

(۵) : وَالْعُرُوقُ الَّتِي تُقْطَعُ فِي الذَّكَاةِ أَرْبَعَةٌ: الْحُلْقُومُ وَهُوَ مَجْرَى النَّفَسِ، وَالْمَرِيءُ وَهُوَ مَجْرَى الطَّعَامِ، وَالْوَدَجَانِ وَهُمَا عِرْقَانِ فِي جَانِبَيْ الرَّقَبَةِ يَجْرِي فِيهَا الدَّمُ، فَإِنْ قَطَعَ كُلَّ الْأَرْبَعَةِ حَلَّتْ الذَّبِيحَةُ، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، رد المحتار ج: ۶ ص: ۲۹۵، بدائع ج: ۵ ص: ۴۱، ط: سعيد، فصلٌ أما بيان شرط حل الأكل في الحيوان، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۱۲، ط: رشيدية.

(اضطراري) حلالې شرائط بېل دي.

د څاروي د حلالولو پر مهال "بسم الله أكبر" ويل

د څاروي حلالونكى به "بسم الله أكبر" وايي د نيت دعا ويل اړين نه دي، يوازې په زړه كې دغه راګرځول په كار دي چې قرباني كوم.[1]

د څاروي حرام غړي

د څاروي هغه غړي چې خوړل يې حرام دي په لاندې ډول دي:

- روانه وينه.
- د نارينه او ښځينه څاروي د تشو متيازو اله.
- د نارينه او ښځينه څاروي د ډکو متيازو اله.
- هګۍ (خصيتين)
- غده (پټي)
- مثانه
- تريخى[2]

[1]: وَلاَ تَأْكُلُواْ مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّهِ عَلَيْهِ (سورة الأنعام) {آيت: ۱۲۱} وَيَكْفِيهِ أَنْ يَنْوِيَ بِقَلْبِهِ وَلَا يُشْتَرَطُ أَنْ يَقُولَ بِلِسَانِهِ مَا نَوَى بِقَلْبِهِ ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۱، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب. ط: سعيد.

[2]: (كُرِهَ تَحْرِيمًا) (مِنْ الشَّاةِ سَبْعٌ الْحَيَاءُ وَالْخُصْيَةُ وَالْغُدَّةُ وَالْمَثَانَةُ وَالْمَرَارَةُ وَالدَّمُ الْمَسْفُوحُ وَالذَّكَرُ) (قَوْلُهُ مِنْ الشَّاةِ) ذِكْرُ الشَّاةِ اتِّفَاقِيٌّ لِأَنَّ الْحُكْمَ لَا يَخْتَلِفُ فِي غَيْرِهَا مِنْ الْمَأْكُولَاتِ (قَوْلُهُ الْحَيَاءُ) هُوَ الْفَرْجُ مِنْ ذَوَاتِ الْخُفِّ وَالظِّلْفِ وَالسِّبَاعِ، (قَوْلُهُ وَالْغُدَّةُ) بِضَمِّ الْغَيْنِ الْمُعْجَمَةِ كُلُّ عُقْدَةٍ فِي الْجَسَدِ أَطَافَ بِهَا شَحْمٌ، وَكُلُّ قِطْعَةٍ صُلْبَةٍ بَيْنَ الْعَصَبِ وَلَا تَكُونُ فِي

- په کنز او طحطاوي کې حرام مغز ته هم حرام ویل شوي، (هغه چې د شیدو په څېر سپین وي) د ملا په هډوکي کې دننه د ملا څخه تر څټ پورې اوږد وي دېته حرام مغز وایي.[1]

د حرموني حلاله

که حرموني مسلمان وي، څاروی حلال کړي، څاروی حلال او غوښه خوړل يې روا دي.[2]

(خ)

د خنزیر په شیدو لوی شوی څاروی

کوم څاروی چې د خنزیر په شیدو پالل شوی وي د هغه غوښه پاکه ده، قرباني يې صحیح ده؛ خو د قرباني کولو څو ورځې وړاندې پاک خوراکي توکي ورکول پکار دي.[3]

خارښتي څاروی

کوم څاروی چې خارښتي وي او د خارښت له کبله يې غوښې ته زیان نه وي رسېدلی، قرباني يې صحیح ده. که د قرباني څاروی د

الْبَطْنِ (قَوْلُهُ وَالدَّمُ الْمَسْفُوحُ) أَمَّا الْبَاقِي فِي الْعُرُوقِ بَعْدَ الذَّبْحِ فَإِنَّهُ لَا يُكْرَهُ.(رد المحتار مع تنوير الأبصار ج: ۶ ص: ۷۴۹، مسائل شتى ، ط: سعيد.)

(۱) : وزيد نخاع الصلب ، طحطاوي على الدر المختار ج: ۴ ص: ۳۶۰، مسائل شتى .

(۲) : (وَشَرْطُ كَوْنِ الذَّابِحِ مُسْلِمًا حَلَالًا خَارِجَ الْحَرَمِ إنْ كَانَ صَيْدًا) (در مع الرد ج: ۶ ص: ۲۹۶، البحر ج: ۸ ص: ۱۶۸، ط: سعيد . هندية ج: ۵ ص: ۲۸۵، كتاب الذبائح، الباب الأول ، ط: رشيدية ، بدائع ج: ۵ ص: ۴۵، فصل أما شرائط ركن الزكاة .)

(۳) : الْجَدْيُ إذَا كَانَ يُرَبَّى بِلَبَنِ الْأَتَانِ، وَالْخِنْزِيرِ إنْ اعْتَلَفَ أَيَّامًا فَلَا بَأْسَ لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْجَلَّالَةِ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۰، ط: رشيدية ، باب ما يؤكل من الحيوان وما لا يؤكل، شامي ج: ۶ ص: ۳۰۶.

خاربنت له کبله کمزوری شوی وي او یا یې غوښې ته زیان رسېدلی وي. قرباني کول یې صحیح نه دي.[۱]

خصي څاروی

خصي مرغومی، مږ او غويی قرباني کول روا دي، څاروی که په هر ډول خصي شوی وي معیوب نه ګڼل کېږي.[۲]

- محمد ﷺ خصي څاروی قرباني کړی دی، د څاروي په خصي کولو سره د څاروي غوښه ښه کېږي. له غوښې بدبويي ورکېږي، ښه پخېږي، څاروی تازه کېږي او وهل هم نه کوي.[۳]

خصي کول

څاروی د غوښن کېدو لپاره خصي کول روا دي، د لهو او لعب

---

(۱) : و يضحي .... (والْجَرْبَاءِ السَّمِينَةِ) فَلَوْ مَهْزُولَةً لَمْ يَجُزْ، لِأَنَّ الْجَرَبَ فِي اللَّحْمِ نَقْصٌ ، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۳، (وَيَجُوزُ أَنْ) (يُضَحِّيَ بِالْجَرْبَاءِ إِنْ كَانَتْ سَمِينَةً جَازَ لِأَنَّ الْجَرَبَ فِي الْجِلْدِ وَلَا نُقْصَانَ فِي اللَّحْمِ،فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۴، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶، أما الذي يرجع إلى محل التضحية.

(۲) : وَالْخَصِيُّ أَفْضَلُ مِنَ الْفَحْلِ؛ لِأَنَّهُ أَطْيَبُ لَحْمًا ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۹، الباب الخامس، ط: رشيدية ، كَذَا رُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ – رَحِمَهُ اللَّهُ – فَإِنَّهُ رُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ التَّضْحِيَةِ بِالْخَصِيِّ فَقَالَ: مَا زَادَ فِي لَحْمِهِ أَنْفَعُ مِمَّا ذَهَبَ مِنْ خُصْيَتَيْهِ. بدائع ج: ۵ ص: ۸۰، أما الذي يرجع إلى الأضحية ، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، ط: سعيد، ويضحي بالجماء والخصي ، الدر المختار مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۳، ط: سعيد.

(۳) : قال في البحر : وَقَدْ صَحَّ أَنَّهُ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «ضَحَّى بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ مَوْجُوءَيْنِ» الْأَمْلَحُ الَّذِي فِيهِ مُلْحَةٌ... وَالْمَوْجُوءُ الْمَخْصِيُّ مِنْ الْوَجْءِ وَهُوَ أَنْ يَضْرِبَ عُرُوقَ الْخُصْيَةِ بِشَيْءٍ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، ، بدائع ج: ۵ ص: ۸۰، ط: سعيد، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۴، ط: رشيديه.

(ساتيري) لپاره يې خصي کول حرام دي.(۴)

د نرښځي (خنثى) څاروي قرباني

د نرښځي څاروي قرباني کول روا نه دي. نرښځيتوب عيب دی،(۱) که کوم څاروی په خبره کې وزې ته ورته وي: خو دی نه وزه يا مرغومی وي د دغه ډول څاروي قرباني کول صحيح نه دي.(۲)

خارښ

کوم څاروی چې خارښتي وي او ناروغي يې غوښې ته نه وي رسېدلې، د هغه څاروي قرباني صحيح ده او که ناروغي يې غوښې ته رسېدلې وي بيا يې قرباني صحيح نه ده.(۳)

خصيتين

د څاروي خصيتين خوړل مکروه تحريمي دي او د ژوندي څاروي

(۴) : (وَ) جَازَ (خِصَاءُ الْبَهَائِمِ) حَتَّى الْهِرَّةِ، وَأَمَّا خِصَاءُ الْآدَمِيِّ فَحَرَامٌ قِيلَ وَالْفَرَسِ وَقَيَّدُوهُ بِالْمَنْفَعَةِ وَإِلَّا فَحَرَامٌ. وفي الشامية : (قَوْلُهُ وَقَيَّدُوهُ) أَيْ جَوَازُ خِصَاءِ الْبَهَائِمِ بِالْمَنْفَعَةِ وَهِيَ إرَادَةُ سِمَنِهَا أَوْ مَنْعُهَا عَنْ الْعَضِّ بِخِلَافِ بَنِي آدَمَ فَإِنَّهُ يُرَادُ بِهِ الْمَعَاصِي فَيَحْرُمُ ، شامي ، كتاب الحظر والإباحة ، فصل في البيع ، ج: ۶ ص: ۳۸۸، هندية ، كتاب الكراهية، الباب التاسع عشر ، ج: ۵ ص: ۳۵۷، ط: رشيدية ، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۲۰۴ ، كتاب الكراهية ، ط: سعيد، تكملة فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۹۷، مسائل متفرقة ، ط: رشيدية.

(۱) (۲): لَا تَجُوزُ التَّضْحِيَةُ بِالشَّاةِ الْخُنْثَى. (هندية ج: ۵ ص: ۲۹۹، الباب الخامس، ط: رشيدية لِأَنَّ لَحْمَهَا لَا يَنْضَجُ، تَنَاثُرُ شَعْرِ الْأُضْحِيَّةِ فِي غَيْرِ وَقْتِهِ) (هندية ج: ۵ ص: ۲۹۹، شامي ج: ۶ صة ۳۲۵، ط: سعيد.)

(۳) : (وَالْجَرْبَاءِ السَّمِينَةِ) فَلَوْ مَهْزُولَةً لَمْ يَجُزْ، لِأَنَّ الْجَرَبَ فِي اللَّحْمِ نَقْصٌ، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۳، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۸، الباب الخامس.

خوټې خوړل خو بیخي حرام دي.[۱]

(ځ)

پر محمدي امت ځانګړی انعام

له ادم علیه السلام څخه رانیولې تر عیسی علیه السلام پورې د قربانۍ د څاروي د غوښې خوړلو اجازه هیچا ته نه وه، له اسمانه به یو اور راته او د منل شوي څاروي غوښه به یې سوځول؛ خو دا پر محمدي امت د الله تعالی ځانګړی انعام دی چې دوی ته یې د قربانۍ د څاروي د غوښې خوړل حلال کړي دي.[۲]

د ځان د بدلې په نیت څاروی حلالول

که څوک په دې نیت څاروی حلالوي چې د ځان بدله ځان ده، یعنې که څاروی حلال کړي؛ نو انسان به له مرګه خوندي شي، دا کار په شریعت کې کوم بنسټ نه لري، هو! که په دې نیت څوک څاروی قرباني کوي لکه مالي صدقه چې د الله تعالی د رحمت لامل کېږي، همدا ډول څاروی قرباني کړي چې الله تعالی یې ناروغ ته روغتیا

---

(۱) : (كُرِهَ تَحْرِيمًا) وَقِيلَ تنزيهًا وَالْأَوَّلُ أَوْجَهُ (مِنْ الشَّاةِ سَبْعٌ الْحَيَاءُ وَالْخُصْيَةُ وَالْغُدَّةُ وَالْمَثَانَةُ وَالْمَرَارَةُ وَالدَّمُ الْمَسْفُوحُ وَالذَّكَرُ) لِلْأَثَرِ الْوَارِدِ فِي كَرَاهَةِ ذَلِكَ ، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۷۴۹، مسائل شتى ، ط: سعيد.

(۲) : د قربانۍ احکام او شالید (مفتي محمد شفیع رحمه الله ص: ۷، ۸، ط: ادارة المعارف)

ورپه برخه کړي دا روا دي.(۳)

ځینې خلک په دې ګروه دي چې د "ځان بدله ځان" ده یعني که څاروی حلال کړي، هغه هم داسې چې څاروی ټوله شپه له ناروغ سره تېره کړي، یا د ناروغ لاس پر څاروي ولګېږي؛ نو د ناروغ ټولې ناروغۍ څاروي ته لېږدول کېږي او بیا دغه څاروی خیرات کړي، دغه ډول ګروه "عقیده" صحیح نه ده.(۱)

د څاروي څل

د قربانۍ د څاروي څل او اوخار صدقه کول مستحب دي او که وپلورل شي بیه یې صدقه کول واجب دي.(۲)

ځنګلي غويی

د ځنګلي غويي قرباني نه صحیح کېږي، د قربانۍ د څارویو تعیین په شریعت کې د اورېدو (سماع) سره اړه لري. قیاس ته پکښې هیڅ دخل نشته او په شریعت کې د درې څاروو پرته د نورو قرباني نه صحیح کېږي، لومړی ډول: اوښ نر او ښځه، دویم ډول: بزه او وری، مېږه او مږ او ګډوری نر او ښځه، درېیم ډول: غوا او مېښه نر او

---

(۲) (۱) : ولو تركت التضحية ، ومضت ايامها تصدق لها حية، وفي الشلامية : (قَوْلُهُ تَصَدَّقَ بِهَا حَيَّةً) لِوُقُوعِ الْيَأْسِ عَنْ التَّقَرُّبِ بِالْإِرَاقَةِ، وَإِنْ تَصَدَّقَ بِقِيمَتِهَا أَجْزَأَهُ أَيْضًا لِأَنَّ الْوَاجِبَ هُنَا التَّصَدُّقُ بِعَيْنِهَا وَهَذَا مِثْلُهُ فِيمَا هُوَ الْمَقْصُودُ اهـ . (الدر المختار مع الرد المحتار كتاب الأضحية والذبيحة . ط: دار الإشاعت .)

(۲) : وَإِذَا ذَبَحَهَا تَصَدَّقَ بِجِلَالِهَا وَقَلَائِدِهَا، كَذَا فِي السِّرَاجِيَّةِ. (هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، الباب السادس ، ط: رشيدية ، الدر المختار مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۹ ، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۷۸ ، فصلٌ أما بيان ما يستحب قبل التضحية .)

ښځه، ددغو ځارویو پرته د نورو ځارویو قرباني نه صحیح کیږي او ددې ځارویو لپاره شرط هم دا دی چې وحشي به نه وي، بلکې د انسانانو سره به عادت وي.[۳]

څای

د چا سره چې زیاتي څای وي او قیمت یې د نصاب په اندازه یا د نصاب نه زیات وي، په هغه باندې یوه برخه قرباني کول واجب دي[۱]

څای ته اعتبار دی، اوسېدونکي ته اعتبار نشته

څاروی چې په کوم څای کې وي د هغه څای اعتبار دی، د اوسېدونکي څای ته اعتبار نشته، که د قرباني څاروی په لرې پرتو سیمو کې وي چې هلته د جمعې او اخترونو لمونځونه نه کیږي او قرباني کوونکی خپله په ښار کې وي؛ نو په دې صورت کې د ښار اوسېدونکی کولای شي چې په لرې پراته کلي کې د روڼ سهار

(۳) : (أَمَّا جِنْسُهُ) : فَهُوَ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْأَجْنَاسِ الثلاثة: الغنمُ أَوِ الْإِبِلُ أَوِ الْبَقَرُ فِي كُلِّ جِنْسٍ نَوْعُهُ، وَالذَّكَرُ وَالْأُنْثَى مِنْه ، (الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۷ الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۷ ، كتاب الأضحية، ط: سعيد، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۲ ، كتاب الأضحية ، ط: سعيد، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۹ ، فصل في محل إقامة الواجب، ط: سعيد، كفايت المفتي ج: ۸ ص: ۱۹۱.)

(۱) : أولها الغني، والغني فيها من له مائتا درهم أو عرض يساوي مائتى درهم سوى مسكنه وخادمه، وثيابه التي يلبسها وأثاث البيت ، فالغني في الأضحية ما هو الغني في صدقة الفطر، فتاوى قاضي خان، على هامش الهندية، ج: ۳ ص: ۳۴۴، ط: ماجدية، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۲، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴ ، ط: سعيد، تكملة فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۵، بدائع ج: ۵ ص: ۶۴، فصل أما شرائط الوجوب.

(صبح صادق) نه وروسته د قرباني ځاروی حلال کړي.[۲]
که ځاروی په ښار کې وي او قرباني کوونکی په کلي کې وي؛ نو په دې صورت کې چې تر کومه پورې د ښار په یوه جومات کې هم د اختر لمونځ نه وي ادا شوی د قربانۍ ځاروی نه شي حلالولی.[۱]

ځای یې په کرایه ورکړی وي

د چا سره چې یوازې یو کور وي او هغه یې هم په کرایه ورکړی وي او خپله هم په کرایه اوسیږي؛ نو په هغه باندې هم په غټ ځاروي کې یوه برخه قرباني کول واجب ده. ځکه چې اوسمهال دده سره دا کور زیاتي دی.[۲]

دغه راز چا چې خپل کور په کرایه ورکړی وي او یا یې هم خالي پریښودلی وي؛ خو خپله په بل کور کې په کرایه یا هم مفت

---

[۲]: وَلَوْ أَخْرَجَ الْأُضْحِيَّةَ مِنْ الْمِصْرِ فَذَبَحَ قَبْلَ صَلَاةِ الْعِيدِ قَالُوا: إنْ خَرَجَ مِنْ الْمِصْرِ مِقْدَارٌ مَا يُبَاحُ لِلْمُسَافِرِ قَصْرُ الصَّلَاةِ فِي ذَلِكَ الْمَكَانِ جَازَ الذَّبْحُ قَبْلَ صَلَاةِ الْعِيدِ وَإِلَّا فَلَا ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۶، كتاب الأضحية، الباب الرابع فيما يتعلق بالمكان والزمان، ط: رشيدية، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۷۴، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، ط: سعيد، رَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِي يُوسُفَ - رَحِمَهُ اللَّهُ -: يُعْتَبَرُ الْمَكَانُ الَّذِي يَكُونُ فِيهِ الذَّبْحُ وَلَا يُعْتَبَرُ الْمَكَانُ الَّذِي يَكُونُ فِيهِ الْمَذْبُوحُ عَنْهُ، وَإِنَّمَا كَانَ كَذَلِكَ؛ لِأَنَّ الذَّبْحَ هُوَ الْقُرْبَةُ فَيُعْتَبَرُ مَكَانُ فِعْلِهَا لَا مَكَانُ الْمَفْعُولِ عَنْهُ. بدائع ج: ۵ ص: ۷۴، فصلٌ وأما شرائط جواز إقامة الواجب، ط: سعيد.

[۱]: وَلَوْ كَانَ الرَّجُلُ بِالسَّوَادِ وَأَهْلُهُ بِالْمِصْرِ لَمْ تَجُزْ التَّضْحِيَةُ عَنْهُ إلَّا بَعْدَ صَلَاةِ الْإِمَامِ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۶، الباب الرابع ، ط: رشيدية، بدائع الصنائع ج: ۵ ص ۷۴، ط: سعيد.

[۲]: أولها الغنى، والغني فيها من له مائتا درهم أو عرض يساوي مائتي درهم سوى مسكنه وخادمه، وثيابه التي يلبسها وأثاث البيت ، فالغنى في الأضحية ما هو الغنى في صدقة الفطر، فتاوى قاضي خان، على هامش الهندية، ج: ۳ ص: ۳۴۴، ط: ماجدية، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲؛ شامي ج: ۶ ص: ۳۱۲، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴، ط: سعيد، تكملة فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۵، بدائع ج: ۵ ص: ۶۳، فصلٌ أما شرائط الوجوب.

اوسيږي؛ نو كه دده د خپل كور قيمت د نصاب حد ته رسيږي، په ده باندې يوه برخه قرباني كول واجب ده، ځكه چې دده خپل كور اوس زياتي دی.[۳]

(ځ)

د څاروي څملول

غوره دا ده چې د قرباني څاروی په ښي اړخ مخ پر قبله څملوي او په ورمېږ يې پښه كېږدي حلال يې كړي.[۱]
قبلې ته د مخ كولو مطلب دا دی چې د مړي په څېر دي سر د شمال په لور وي او پښې دي د جنوب په لور وي. كه دا ډول څملول ورته سخت وي؛ نو بيا چې څه ډول ورته اسانه وي همغسې دي وكړي.

د بت په نوم ازاد شوی څاروی

د قطعي نص له مخې پر مزار او يا د كوم بت په نوم څاروی ازادول حرام او ګناه ده؛ خو د دغه حرام كار له كبله څاروی نه حرامېږي، د شرعي اصولو له مخې څاروی د خپل څښتن له ملكيت څخه نه وځي (كه څه هم دغه كس د خپلې غلطې عقيدې له مخې په دې ګروه وي چې څاروی د ده له ملكيته وتلی دی او د الله پرته وقف دی؛ خو دغه عقيده باطله ده او څاروی د ده ملكيت دی)؛ نو له دې كبله كه څوک دغه څاروی له څښتن څخه وپېري او قرباني يې كړي، قرباني يې

---

(۳) : أيضاً.

(۱) : امداد الفتاوى ج: ۳ ص: ۵۵۹، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحَّى بِكَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ أَمْلَحَيْنِ، يَذْبَحُ وَيُكَبِّرُ وَيُسَمِّي ، وَيَضَعُ رِجْلَهُ عَلَى صَفْحَتِهِمَا. (ابو داؤد ج: ۲ ص: ۳۰، مكتبه امداديه، ملتان ، بدائع ج: ۵ ص: ۸۰، أما الذي يرجع إلى الأضحية، ط: سعيد.)

صحیح ده او که په عامو ورځو کې قصاب دغه ځاروی له ځبنتن څخه وپېري او غوښه يې وپلوري خوړل يې صحیح دي.[۲]

د ځاروي بېهوشه کول

که څوک له حلالولو وړاندې په توپانچې د ځاروي په سر وار وکړي او ځاروی بېهوشه کړي او بيا يې حلال کړي، دغه طريقه د سنتو او اسلامي زده کړو خلاف کار دی، په داسې حال کې د ځاروي د حرامېدو ګومان زيات دی، که دا يقيني وي چې د توپانچې په وار سره ځاروی مړ شوی دی؛ نو د هغه پر غاړه چاړه راکشول بې ګټې دي او ځاروی حرام دی.[۱]

په ساتل شوي ځاروي کې د قربانۍ نيت

که چا په کور کې ځاروی ساتلی وي او د قربانۍ په ورځو کې دا نيت وکړي چې دغه ځاروی به قرباني کوم، په دې ډول نيت سره د ځاروي قرباني کول لازم نه دي، د دې ځاروي بدلول او

---

[۲] : معارف القرآن (مولانا مفتي محمد شفيع صاحب رحمه الله) تحت الآية "و ما أهل به لغير الله" ج: ۲ ص: ۴۲۳، ۴۲۴، إدارة المعارف، فتاوی رحيمية ج: ۱۰ ص: ۵۴، دار الإشاعت.

[۱] : (وَ) كُرِهَ كُلُّ تَعْذِيبٍ بِلَا فَائِدَةٍ مِثْلُ (قَطْعِ الرَّأْسِ وَالسَّلْخِ قَبْلَ أَنْ تَبْرُدَ) أَيْ تَسْكُنَ عَنْ الِاضْطِرَابِ، الدر المختار كتاب الذبائح، شامي ج: ۶ ص: ۲۹۶ . (ذَبَحَ شَاةً) مَرِيضَةً (فَتَحَرَّكَتْ أَوْ خَرَجَ الدَّمُ) (حَلَّتْ وَإِلَّا لَا إنْ لَمْ تُدْرَ حَيَاتُهُ) عِنْدَ الذَّبْحِ، وَإِنْ عُلِمَ حَيَاتُهُ (حَلَّتْ) مُطْلَقًا (وَإِنْ لَمْ تَتَحَرَّكْ وَلَمْ يَخْرُجْ الدَّمُ) الدر المختار كتاب الذبائح، شامي ج: ۶ ص: ۳۰۸ ، (قَوْلُهُ إنْ بَقِيَتْ حَيَّةً إلَخْ) قَالَ الْفَقِيهُ أَبُو بَكْرٍ الْأَعْمَشُ: وَهَذَا إنَّمَا يَسْتَقِيمُ أَنْ لَوْ [illegible] تَعِيشُ قَبْلَ قَطْعِ الْعُرُوقِ بِأَكْثَرَ مِمَّا يَعِيشُ الْمَذْبُوحُ حَتَّى تَحِلَّ بِقَطْعِ الْعُرُوقِ لِيَكُونَ الْمَوْتُ مُضَافًا إلَيْه، وَإِلَّا فَلَا تَحِلُّ لِأَنَّهُ يَحْصُلُ الْمَوْتُ مُضَافًا إلَى الْفِعْلِ السَّابِقِ. اهـ .. شامي ج: ۶ ص: ۲۹۰ ، ط: سعيدم

پلورل هم روا دي.[۲]

له حلالولو وراندې څاروي ته اوبه ورکول

له حلالولو وراندې څاروي ته اوبه ورکول مستحب دي.[۳]

څاروی د قرباني لپاره وپېري او کس مړ شي

که کوم د نصاب څښتن د قرباني لپاره څاروی وپېري او دی مړ شي، اوس دا د مړي د وارثانو واک دی چې که د ټولو خوښه وي؛ نو کولای شي چې مړي ته د ثواب بخښلو په نیت څاروی قرباني کړي او یا یې په خپلو کې د میراث په توګه ووېشي.[۱]

که چېرې څاروی مړي ته د ثواب بخښلو په نیت قرباني کېږي، یوازې له بالغو وارثانو اجازه اخیستل مهم دي، نابالغه مهم نه دي.

که د قرباني لپاره پېرل شوی څاروی قرباني نه شي

که پر چا قرباني واجب وي او د قرباني په ورځو کې قرباني ونه

---

(۲) : (قَوْلُهُ شَرَاهَا لَهَا) فَلَوْ كَانَتْ فِي مِلْكِه فَنَوَى أَنْ يُضَحِّيَ بِهَا أَوْ اشْتَرَاهَا وَلَمْ يَنْوِ الْأُضْحِيَّةَ وَقْتَ الشِّرَاءِ ثُمَّ نَوَى بَعْدَ ذَلِكَ لَا يَجِبُ، لِأَنَّ النِّيَّةَ لَمْ تُقَارِنْ الشِّرَاءَ فَلَا تُعْتَبَرُ . (شامي ج: ۶ ص: ۳۲۱، كتاب الأضحية ط: سعيد .)

(۳) : فتاوى رحيمية ج: ۱۰، ص: ۶۸ ، ط: دار الإشاعت .

(۱) : وَلَوْ مَاتَ الْمُوسِرُ فِي أَيَّامِ النَّحْرِ قَبْلَ أَنْ يُضَحِّيَ سَقَطَتْ عَنْهُ الْأُضْحِيَّةُ . (هنديه ج: ۵ ص: ۲۹۳، كتاب الأضحية ، الباب الأول، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵،) (وَإِنْ) (مَاتَ أَحَدُ السَّبْعَةِ) الْمُشْتَرِكِينَ فِي الْبَدَنَةِ (وَقَالَ الْوَرَثَةُ اذْبَحُوا عَنْهُ وَعَنْكُمْ) (صَحَّ) عَنْ الْكُلِّ اسْتِحْسَانًا لِقَصْدِ الْقُرْبَةِ مِنْ الْكُلِّ. (الدر المختار مع الرد المحتار كتاب الأضحية، ج: ۶ ص: ۳۲۶، بدائع ج: ۵ ص: ۷۲، هنديه ج: ۵ ص: ۳۰۵، الباب الثامن ، (وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّ الْمَوْتَ لَا يَمْنَعُ التَّقَرُّبَ عَنْ الْمَيِّتِ بِدَلِيلِ أَنَّهُ يَجُوزُ أَنْ يُتَصَدَّقَ عَنْهُ وَيُحَجَّ عَنْهُ) بدائع ج: ۵ ص: ۷۲، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، ط: سعيد ، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۶ ، ط: سعيد.

کړي؛ نو د قرباني له ورځو وروسته دي د يوې وزې يا مېږې بيه صدقه کړي.

که چا د قرباني لپاره څاروی پېرلی وي؛ خو د کوم لامل له کبله يې قرباني ونشو کولای؛ نو ژوندی څاروی دي صدقه کړي او که په مسئله خبر نه وي او څاروی يې حلال کړ، غوښه دي فقيرانو ته ورکړي، شتمنو ته دي نه ورکوي.(۲)

که د قرباني څاروی مړ شي او قرباني کوونکی کس شتمن وي؛نو د قرباني بيه صدقه کول ورباندې واجب دي.(۱)

د څاروي نه ځورول

د حلالې پر مهال بايد دا په پام کې ونيول شي چې څاروي ته ډېر تکليف ونه رسېږي او ونه ځورول شي، يو څاروی د بل په مخ کې مه حلالوئ، د څاروي رګونه دي پوره پرې شي چې په اسانۍ سره يې

(۲) : إِذَا أَوْجَبَ شَاةً بِعَيْنِهَا أَوْ اشْتَرَاهَا لِيُضَحِّيَ بِهَا فَمَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ قَبْلَ أَنْ يَذْبَحَهَا تَصَدَّقَ بِهَا حَيَّةً، وَلَا يَأْكُلُ مِنْ لَحْمِهَا لِأَنَّهُ انْتَقَلَ الْوَاجِبُ مِنْ إِرَاقَةِ الدَّمِ إِلَى التَّصَدُّقِ، وَإِنْ لَمْ يُوجِبْ وَلَمْ يَشْتَرِ وَهُوَ مُوسِرٌ وَقَدْ مَضَتْ أَيَّامُهَا تَصَدَّقَ بِقِيمَةِ شَاةٍ تُجْزِي لِلْأُضْحِيَّةِ اهـ. (شامي ج: ۶ ص: ۳۲۱ ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۴، ۲۹۶، الباب الرابع ، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۶۷، فصلٌ وأما كيفية الوجوب، فتاوى سراجية ص: ۳۱۵ ، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ص: ۳۲۰، ط: سعيد).
ذُكِرَ فِي الْبَدَائِعِ أَنَّ الصَّحِيحَ أَنَّ الشَّاةَ الْمُشْتَرَاةَ لِلْأُضْحِيَّةِ إِذَا لَمْ يُضَحِّ بِهَا حَتَّى مَضَى الْوَقْتُ يَتَصَدَّقُ الْمُوسِرُ بِعَيْنِهَا حَيَّةً كَالْفَقِيرِ بِلَا خِلَافٍ بَيْنَ أَصْحَابِنَا. (شامي ج: ۶ ص: ۳۲۱، بدائع ج: ۵ ص: ۶۸، فصلٌ أما كيفية الوجوب، ط: سعيد.)

(۱) : (وَ) تَصَدَّقَ (بِقِيمَتِهَا غَنِيٌّ شَرَاهَا أَوَّلًا) لِتَعَلُّقِهَا بِذِمَّتِهِ بِشِرَائِهَا أَوَّلًا . (الدر مع الرد ج: ۶ ص: ص: ۳۲۱، ط: سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۴، الباب الأول ، ط: رشيدية ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶ ، ط: سعيد.)

ساه ووځي، د ځاروي په مخ کې چاړه مه تېره کوئ!. (۲)

د ځاروي د پېرلو پر مهال که د قرباني نيت نه وي

که د ځاروي د پېرلو پر مهال د پېرونکي د همدغه ځاروي د قرباني کولو نيت نه وي، وروسته دا پرېکړه وکړي چې دغه ځاروی قرباني کوم، کولای شي چې همدغه ځاروی قرباني وکړي او که نه بل دي وپېري او قرباني دي کړي. (۳)

د قرباني ځاروی څو ورځې ساتل

د قرباني ځاروی که څو ورځې په کور کې وساتل شي، غوره کار دی، ځکه چې له ځاروي سره د څښتن مينه پيدا کېږي، د ګران شي قرباني ډېر ثواب لري. (۱)

څومره قرباني واجب دي؟

په شتمن سړي باندې يوه قرباني واجب ده، برابره خبره ده چې هر

---

(۲) : «وَنُدِبَ حَدُّ شَفْرَتِهِ» لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ، وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَةَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ . والمذبحالمريى والحلقوم والودحان ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰ ، كتاب الذبائح ، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۲۹۴ ، ۲۹۶ ، ط: سعيد، و منها الترفيق في قطع الأوداج .... و يكره أن يحد للشفرة بين يديها ، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷ ، والحاصلُ أن كل ما فيه زيادة الم يحتاج اليه في الذكاة مكروة . هندية ج: ۵ ص: ۲۸۸، كتاب الذبائح ، الباب الأول .

(۳) : أَوْ اشْتَرَاهَا وَلَمْ يَنْوِ الْأُضْحِيَّةَ وَقْتَ الشِّرَاءِ ثُمَّ نَوَى بَعْدَ ذَلِكَ لَا يَجِبُ، لِأَنَّ النِّيَّةَ لَمْ تُقَارِنْ الشِّرَاءَ فلا تعتبر ، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۱ ، كتاب الأضحية ، ط: سعيد .

(۱) : فَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَرْبِطَ الْأُضْحِيَّةَ قَبْلَ أيام النَّحْرِ بِأَيَّامٍ لِمَا فِيهِ مِنْ الِاسْتِعْدَادِ لِلْقُرْبَةِ وَإِظْهَارِ الرَّغْبَةِ فِيهَا فَيَكُونُ لَهُ فِيهِ أَجْرٌ وَثَوَابٌ . بدائع ج: ۵ ص: ۷۸ ، ط: سعيد، فصلٌ وأما بيان ما يستحب قبل التضحية ، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، الباب السادس، ط: رشيدية .

څو مره شتمن وي، په يو سړي باندې د يوې برخې قرباني كول لازم دي، كه يوه بزه، ګډه، ګډه قرباني كوي او كه په غوا، مېښه او اوښ كې اومه برخه قرباني كوي، دواړه صحيح دي.[۲]

څرمن

(الف):.... تر كومه پورې چې څرمن وي قرباني كوونكي ته درې ډوله اختيارات حاصل دي: (۱) خپله يې كارول، (۲) چاته يې ډالۍ كول، (۳) غريب ته يې په صدقه كې وركول.[۳]

(ب):.... كه د قربانۍ څرمن يې خرڅه كړه يا يې د څه شي په بدل كې وركړه؛ نو د قيمت او بدل صدقه كول يې واجب دي.[۱]

(ج):.... د صدقه كولو په نيت باندې څرمن خرڅول روا ده او كه د قيمت خپل جيب ته اچولو په نيت يې څرمن خرڅه كړه؛ نو ګناه ده؛ خو بيه يې صحيح ده.[۲]

(۲) : فتجب التضحية.... علىٰ حرٍ مسلمٍ مقيمٍ..... موسرٍ ... عن نفسه لا عن طفله.... شاة... (أو سبع بدنة) وهي الإبل والبقر الخ... الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۱۳، ۳۱۵، بدائع ج: ۵ ص: ۷۰، فصلٌ أما محل إقامة الواجب، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، الباب الثامن فيما يتعلق بالشركة، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴، تكملة فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۹، ط: رشيدية.

(۳) : وَيَتَصَدَّقُ بِجِلْدِهَا أَوْ يَعْمَلُ مِنْهُ نَحْوَ غِرْبَالٍ وَجِرَابٍ، وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَشْتَرِيَ بِهِ مَا يَنْتَفِعُ بِعَيْنِهِ مَعَ بَقَائِهِ اسْتِحْسَانًا، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۱، الباب السادس، ط: رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۸.

(۱) (۲) : وَلَا يَبِيعُهُ بِالدَّرَاهِمِ لِيُنْفِقَ الدَّرَاهِمَ عَلَى نَفْسِهِ وَعِيَالِهِ.... وَلَوْ بَاعَهَا بِالدَّرَاهِمِ لِيَتَصَدَّقَ بِهَا جَازَ لِأَنَّهُ قُرْبَةٌ كَالتَّصَدُّقِ بِالْجِلْدِ وَاللَّحْمِ وَقَوْلُهُ: - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - «مَنْ بَاعَ جِلْدَ أُضْحِيَّتِهِ فَلَا أُضْحِيَّةَ لَهُ» يُفِيدُ كَرَاهَةَ الْبَيْعِ، وَأَمَّا الْبَيْعُ فَجَائِزٌ لِوُجُودِ الْمِلْكِ وَالْقُدْرَةِ عَلَى التَّسْلِيمِ. البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، ط: سعيد.

څرمن ويستل

کله چې څاروی په شرعي طريقې حلال شي او د هغه ساه ووځي بيا يې څرمن ويستل روا دي، برابره خبره ده چې څوک يې پوره باسي او که ټوټه - ټوټه يې باسي او که د سر څرمن هم ورسره يوځای کوي، دا درې واړه صورتونه روا دي.[۳]

د څاروي د يخېدو نه وړاندې څرمن ويستل حرام دي او ددې نه ځان ساتل پکار دي.[۴]

څرمن وسوځېدل

د کوم څاروي څرمن چې وسوځيږي او په هغه باندې يو ويښته هم پاتې نه شي؛ خو زخمي نه وي، بلکې د بدن ټول غړي يې روغ وي؛ نو د داسې مال او څاروي قرباني روا ده.[۱]

د حلالولو نه وړاندې څرمن خرڅول

د څاروي د حلالولو نه وړاندې څرمن خرڅول ناروا دي، څوک چې په ژوندون د څاروي څرمن خرڅوي هغوی ناجائزه او حرام کار کوي، د

---

[۳] : وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَتَرَبَّصَ بَعْدَ الذَّبْحِ بِقَدْرِ مَا يَبْرُدُ وَيَسْكُنُ مِنْ جَمِيعِ أَعْضَائِهِ وَتَزُولُ الْحَيَاةُ مِنْ جَمِيعِ جَسَدِهِ، وَيُكْرَهُ أَنْ يُضَحِّيَ وَيَسْلَخَ قَبْلَ أَنْ يَبْرُدَ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰ ، ط: رشيدية، كوئته.

[۴] : وَيُكْرَهُ لَهُ بَعْدَ الذَّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَبْرُدَ أَنْ يَنْخَعَهَا وَهُوَ أَنْ يَنْحَرَهَا حَتَّى يَبْلُغَ النُّخَاعَ وَأَنْ يَسْلُخَهَا قَبْلَ أَنْ تَبْرُدَ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷ ، كتاب الذبائح، ط: رشيدية، كوئته.

[۱] : وتجزئ المجزورة ، وهي التي جز صوفها ، فتاوى هندية ، ج: ۵ ص: ۲۹۸ ، الباب الخامس ، ط: رشيدية ، وفيها تناثُرُ شَعْرِ الْأُضْحِيَّةِ فِي غَيْرِ وَقْتِهِ يَجُوزُ إِذَا كَانَ لَهَا نِقْيٌ أَيْ مُخٌّ كَذَا فِي الْقُنْيَةِ. ج: ۹ ص: ۴۰ په حواله د امداد الفتاوی ج: ۳ ص: ۵۹۷ .

پېرونکي سره دي يوازې وعده کوي.[۲]

څرمن په بدل کې ورکول

مزدور، امام، مؤذن او خادم ته په مزدورۍ او تنخا کې د قربانۍ څرمن ورکول ناروا دي.[۳]

که ياد کسان د زکات حقداري وي؛ نو د عوض پرته يې دوی ته ورکول صحيح دي.[۴]

قصاب ته يې د مزدورۍ په بدل کې ورکول ناروا دي.[۱]

څرمن چاته ورکول

د څرمنې څخه خپله ګټه اخيستل، چاته ډالۍ ورکول، که شتمن وي او که غريب وي، هاشمي وي او که کوم بل څوک وي، خپلوان وي او که پردي وي، ټولو ته يې ورکول روا دي، په دېکښې تمليک هم واجب نه دی، ځکه چې د ځان لپاره يې په کار راويستل، د ببلګې په ډول: مصله او سلواغه ترې جوړول روا دي او که د قربانۍ د څرمنې څخه يې خپله ګټه نه پورته کول بلکې هغه يې خرڅه کړه بيا

---

(۲): زوال السنة ص: ۲۳ وأغلاط العوام ص؛ ۱۳۹، ط: زمزم پبلشر، وَكَذَلِكَ بَيْعُ اللَّحْمِ فِي الشَّاةِ الْحَيَّةِ؛ لِأَنَّهَا إِنَّمَا تَصِيرُ لَحْمًا بِالذَّبْحِ، وَالسَّلْخِ فَكَانَ بَيْعَ الْمَعْدُومِ فَلَا يَنْعَقِدُ، بدائع ج: ۵ ص: ۱۳۹، فصلٌ أما الذي يرجع إلى المعقود عليه ط: سعيد، ومنها ان يكون مقدور التسليم عند العقد، فإن كان معجوز التسليم عنده لاينعقد، بدائع ج: ۵ ص: ۱۴۷، فصلٌ أما الذي يرجع إلى المعقود إليه.

(۳) (۴): ويتصدق بجلدها أو يعمل منه، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۸، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، په صدقه کولو کې د بدل پرته مالک کول ارين دي.

(۱): ولا ان يعطي اجر الجزار والذابح منها، فتاوی هندية ج: ۵ ص: ۳۰۱، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۸۱، فصلٌ أما بيان ما يستحب قبل التضحية.

يې قيمت صدقه کول واجب دي.[۲]

په تنخا کې د قربانۍ د څرمنې روپۍ ورکول

د قربانۍ د څرمنې روپۍ د ژوند د اړتياوو لپاره وسيله ګرځول روا نه دي، بلکې د څرمنو په ټولوونکو باندې لازم دي چې زر تر زره روپۍ د زکات حقدارو خلکو ته ورسوي، کنه نو ګنهګار به وي.[۳]

د قربانۍ د څرمنې په قيمت باندې تجارت کول

د قربانۍ د څرمنې په روپو باندې کاروبار کول ناروا دي، په څرمنو غونډوونکو باندې لازم دي چې د څرمنې قيمت ځپلو حقدارو زکات ورکوونکو خلکو ته ورسوي، کنه نو داسې خلک به ګنهګار ګڼل کيږي.[۱]

د قربانۍ د څرمنې قيمت په کار راوستل

د قربانۍ د څرمنې قيمت په ځپل کار کې راوستل ناروا دي، که په ځپل استعمال کې يې راولي؛ نو د هغې بدل صدقه کول واجب دي، کنه نو د قربانۍ ثواب به ورته پوره نه رسيږي.[۲]

---

[۲]: ويجوز الإنتفاع بجلدها... بأن يتخذها فرشا أو فرواً أو جراباً أو غربالا ..... ولــه أن يبيعهـا بالدراهم ليتصدقَ بها لا أن ينتفع بالدراهم أوْ ينفقها على نفسه، فإنْ باع لذلك تصدق بالثمن أيضــاً. فتاوى بزازية على هامش الهندية ج: ۶ ص: ۲۹۴، ط: رشيدية، الباب السادس في الإنتفاع، بدائع ج: ۵ ص: ۸۱، شامي ج: ۶ صة ۳۲۸.

[۳]: ويتصدق بجلدها أو يعمل منه، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۸، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸.

[۱]: وله أن يبيعها بالدراهم ليتصدقَ بها.لا أن ينتفع بالدراهم أوْ ينفقها على نفسه، فإنْ باع لــذلك تصدق بالثمن. فتاوى بزازية على هامش الهندية ج: ۶ ص: ۲۹۴، ط: رشيدية.

[۲]: أيضاً.

د څرمنې د قيمت غوره مصرف

د څرمنې د قيمت مصرف د زکات مصرف خلک دي، يعنې مسلمان، غريب، د يتيم پالنې ځايونه، د ديني مدرسې او داسې نور.... [۳]

د څرمنې په قيمت کې حيله کول

د قربانۍ د څرمنې خرڅولو وروسته غريبانان د روپو مالک جوړول ضروري دي، د غريبانانو او مسکينانو نه پرته په بل مصرف کې کارول ناروا دي، که د سختې اړتيا پرمهال په بل مصرف کې وکارول شي بيا به حيله کوي، حيله دا ده چې: د څرمنې د خرڅولو وروسته کومې روپۍ لاس ته راشي هغه به مسکين او غريب ته د ملکيت په نيت ورکړي بيا به هغه ته وويل شي چې اوس يې ته د خپل طرف نه د جومات يا مدرسې په ابادۍ يا يې د ښوونکي په تنخا کې ادا کړه او هغه يې په خپله خوښه ورکړي؛ نو په دغو روپو باندې د جومات ، مدرسې ابادي کول او ښوونکي ته يې په تنخا کې ورکول روا دي، د روپو ورکولو نه وړاندې دي ورته دا شرطونه نه ږدي، بلکې د روپو ورکولو وروسته دي ورته ووايي. [۱]

که قرباني کوونکی د قربانۍ څرمن غريب حقدار ته ورکړي او هغه

[۳] : وَهُوَ مَصْرِفٌ أَيْضًا لِصَدَقَةِ الْفِطْرِ وَالْكَفَّارَةِ وَالنَّذْرِ وَغَيْرِ ذَلِكَ مِنَ الصَّدَقَاتِ الْوَاجِبَةِ، شامي ج: ۲ ص: ۳۳۹، باب المصرف، (فَإِنْ) (بِيعَ اللَّحْمُ أَوْ الْجِلْدُ بِهِ) أَيْ بِمُسْتَهْلَكٍ (أَوْ بِدَرَاهِمَ) (تَصَدَّقَ بِثَمَنِهِ) الدر مع الرد ، باب المصرف ج: ۲ ص: ۲۵۰، البحر ج: ۲ ص: ۲۴۳، باب المصرف، بدائع ج: ۲ ص: ۳۹، ط: سعيد، تتارخانية ج: ۲ ص: ۲۷۲، ط: إدارة القرآن.

[۱] [۲] : وَحِيلَةُ التَّكْفِينِ بِهَا التَّصَدُّقُ عَلَى فَقِيرٍ ثُمَّ هُوَ يُكَفِّنُ فَيَكُونُ الثَّوَابُ لَهُمَا وَكَذَا فِي تَعْمِيرِ الْمَسْجِدِ، وَتَمَامُهُ فِي حِيَلِ الْأَشْبَاهِ ، الدر مع الرد ج: ۲ ص: ۲۷۱، ۳۴۵، البحر ج: ۲ ص: ۲۴۳، باب المصرف، بدائع ج: ۲ ص: ۳۹، ط: سعيد، تتارخانية ج: ۲ ص: ۲۷۲، ط: إدارة القرآن.

يې خرڅه کړي بيا يې کوم ښوونکي ته په تنخا يا د جوماتاو مدرسې په ابادئ کې ورکولای شي، که قرباني کوونکی يې خپله خرڅه کړي بيا به يې قيمت خامخا صدقه کوي.(۲)

د څاروي قرباني کول عبادت دی

د څاروي قرباني د عبادت او الله ﷻ ته د نږدېوالي په موخه په لومړي ځل د آدم عليه السلام په پېر کې شوې ده، د قربانۍ د قبولتيا او منلتيا نښه دا وه چې له اسمانه به اور راغی او هغه به يې وسوځول.(۳)

د څاروي ورکېدل

که څوک د نصاب څښتن وي، د قربانۍ لپاره څاروی وپېري، څاروی ورک شي او دی د قربانۍ لپاره دويم څاروی وپېري؛ خو له قربانۍ کولو وړاندې لومړی څاروی هم پيدا شي، دلته د ده خوښه ده چې کوم يو قرباني کوي، پر ده يو څاروی قرباني کول واجب دي، که دواړه څاروي قرباني کوي مستحب دي.(۱)

---

(۳) : قال الإمام القاضي ثناء الله فاني فتي تحت قوله تعالىٰ : حَتّٰى يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ النَّارُ– القربان في الأصل كل ما يتقرب به العبد الى الله عز وجل من نسيكة وصدقة وعمل صالح... ثم صار اسما للذبيحة التي كانوا يتقربون بها الى الله تعالى وكانت القرابين والغنائم لا تحل لبنى إسرائيل فكانوا إذا قربوا قربانا او غنموا غنيمة جاءت نار بيضاء من السماء لا دخان لها لها دوى وحفيف فيأكل ويحرق ذلك القربان والغنيمة فيكون ذلك علامة القبول وإذا لم تقبل بقيت على حالها ، التفسير المظهري ج: ۲ ص: ۱۸۸ ، آل عمران ، آيت : ۱۸۳ ، مطبوعة ندوة المصنفين الكائنة في بلدة دهلي.. تفسير روح البيان ج: ۲ ص: ۴۵۸ ، مائدة آيت: ۲۷ ، دار إحياء التراث العربي .

(۱) : وَلَوْ ضَلَّتْ فَشَرَى أُخْرَى فَظَهَرَتْ فَعَلَى الْغَنِيِّ إِحْدَاهُمَا أَيْ عَلَى التَّفْصِيلِ الْمَارِّ، مِنْ أَنَّهُ لَوْ ضَحَّى بِالْأُولَى أَجْزَأَهُ وَلَا يَلْزَمُهُ شَيْءٌ وَلَوْ قِيمَتُهَا أَقَلُّ، وَإِنْ ضَحَّى بِالثَّانِيَةِ وَقِيمَتُهَا أَقَلُّ تَصَدَّقَ بِالزَّائِدِ.

که يو څوک فقير وي او د نصاب څښتن نه وي، له هغه سره همداسې وشول؛ نو دواړه څاروي قرباني کول ورباندې واجب دي. دا ځکه چې په فقير باندې قرباني کول واجب نه و؛ خو د قربانۍ په نيت د څاروي پېرلو سره په ده باندې قرباني واجبه شوه.[۲]

د څاروي بدلول

که چا د قربانۍ په نيت يو څاروی وپېرئ، اوس غواړي چې دغه څاروی بدل کړي او بل پېري؛ نو په دې حالت کې به د دويم څاروي بيه له لومړي څخه ښکته نه وي، که چېرې دويم څاروی له لومړي ارزانه وپېري. هغه پيسې چې له ده سره پاتې، هغه به صدقه کوي.[۳]

که څاروي بېخي نه پيدا کېدل

که په کومه سيمه يا هېواد کې د جګړې، پاڅونونو، ګرځبنديز، وژنې، فساد، توپان يا سېلاب له کبله د قربانۍ څاروي په درې ورځو کې له هر کوښښ او پلټنې وروسته پيدا نه کړای شول، په دې حالت کې به د قربانۍ بيه او يا په لوی څاروي کې د اوومې برخې

---

(۲): اَلْفَقِيرُ إِذَا اشْتَرَى شَاةً لِلْأُضْحِيَّةِ فَسُرِقَتْ فَاشْتَرَى مَكَانَهَا، ثُمَّ وَجَدَ الْأُولَى فَعَلَيْهِ أَنْ يُضَحِّيَ بِهِمَا. (البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۶۶، فصلٌ أما كيفة الوجوب، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۴، الباب الثاني ج: ۶، ۳۲۶، ط: سعيد.)

(۳): رَجُلٌ اشْتَرَى شَاةً لِلْأُضْحِيَّةِ وَأَوْجَبَهَا بِلِسَانِهِ، ثُمَّ اشْتَرَى أُخْرَى جَازَ لَهُ بَيْعُ الْأُولَى فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ – رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى –، وَإِنْ كَانَتْ الثَّانِيَةُ شَرًّا مِنْ الْأُولَى وَذَبَحَ الثَّانِيَةَ فَإِنَّهُ يَتَصَدَّقُ بِفَضْلِ مَا بَيْنَ الْقِيمَتَيْنِ؛ لِأَنَّهُ لَمَّا أَوْجَبَ الْأُولَى بِلِسَانِهِ فَقَدْ جَعَلَ مِقْدَارَ مَالِيَّةِ الْأُولَى لِلَّهِ تَعَالَى فَلَا يَكُونُ لَهُ أَنْ يَسْتَفْضِلَ لِنَفْسِهِ شَيْئًا، وَلِهَذَا يَلْزَمُهُ التَّصَدُّقُ بِالْفَضْلِ. (فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۴، الباب الثاني في وجوب الأضحية بالنذر وما هو في معناه، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵، ط: سعيد.)

بیه صدقه کوي.[۱]

د ځارویو په قرباني کولو سره د ځارویو کمښت

د ځارویو په قرباني کولو سره ځارویْ نه کمېږي، دا د الله جل جلاله نظام دی د کوم شي اړتیا او کارونه چې زیات وي، په هغه کچه نور پیدا کېږي او د کوم شي اړتیا چې کمه وي، هغومره هغه شی لږ پیدا کېږي، که د ببلګې په توګه د اوبو یادونه وکړو چې خلک یې له کوهیانو څخه باسي؛ خو الله جل جلاله په همغه کچه نورې پیدا کوي.[۲]

د قربانۍ څرمن

قرباني کوونکی کولای شي چې د قربانۍ څرمن پخپله وکاروي، شتمن او یا فقیر ته یې ډالۍ کړي او ویې پلوري د څرمنې بیه پر فقیرانو او مسکینانو صدقه کول واجب دي، شتمنو او یا مدرسینو ته یې په تنخوا کې ورکول روا نه دي.[۱]

---

(۱) : (وَ) تَصَدَّقَ (بِقِيمَتِهَا غَنِيٌّ شَرَاهَا أَوَّلًا) وَتَعَقَّبَهُ الشَّيْخُ شَاهِينُ بِأَنَّ وُجُوبَ التَّصَدُّقِ بِالْقِيمَةِ مُقَيَّدٌ بِمَا إذَا لَمْ يَشْتَرِ. (رداختار ج: ۶ ص: ۳۲۱ ، ط: سعید، کفایت المفتي ج: ۸ ص: ۲۱۲، کتاب الأضحية والذبيحة ، ط: دار الإشاعت.)

(۲) : د قربانۍ احکام او ښالید (مفتي محمد شفیع رحمه الله ص: ۲۹، ۳۰، ط: ادارة المعارف)

(۱) : قَالَ فِي الْبحر : (وَيَتَصَدَّقُ بِجِلْدِهَا، أَوْ يَعْمَلُ مِنْهُ نَحْوَ غِرْبَالٍ، أَوْ جِرَابٍ) لِأَنَّهُ جُزْءٌ مِنْهَا وَكَانَ لَهُ التَّصَدُّقُ وَالِانْتِفَاعُ بِهِ أَلَا تَرَى أَنَّ لَهُ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَهَا وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَشْتَرِيَ بِهِ مَا يَنْتَفِعُ بِعَيْنِهِ مَعَ بَقَائِهِ اسْتِحْسَانًا وَلَوْ بَاعَهَا بِالدَّرَاهِمِ لِيَتَصَدَّقَ بِهَا جَازَ لِأَنَّهُ قُرْبَةٌ كَالتَّصَدُّقِ بِالْجِلْدِ وَاللَّحْمِ وَقَوْلُهُ: - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - «مَنْ بَاعَ جِلْدَ أُضْحِيَّتِهِ فَلَا أُضْحِيَّةَ لَهُ» يُفِيدُ كَرَاهَةَ الْبَيْعِ، وَأَمَّا الْبَيْعُ فَجَائِزٌ لِوُجُودِ الْمِلْكِ وَالْقُدْرَةِ عَلَى التَّسْلِيمِ. البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، شامي ج: ۶ ص: ص: ۳۲۸، الجوهرة النيرة ج: ۲ ص: ۲۴۵، ط: میرمحمد، هندیة ج: ۵ ص: ۳۰۱، بدائع ج: ۵ ص: ۸۱، فصل اما بیان مایستحب قبل التضحیة ، ط: سعید، فتح القدیر، ج: ۸ ص: ۴۳۷، ط: رشیدیة.

څلور رګونه به پرې کوي

د څاروي مرۍ به دومره شکوي چې څلور رګونه یې غوڅ شي، که یوازې درې رګونه پرې شي بیا هم حلاله صحیح ده او خوړل یې روا دي، که دوه رګونه پرې شي بیا څاروی مردار دی او خوړل یې ناروا دي، که په خطا کې دوه رګونه پرې کړي بیا یې هم خوړل صحیح دي.[۲]

(ه)

دعا

کله چې د قربانۍ څاروی مخ پر قبله واچول شي، دغه ایتونه ویل غوره دي:[۳] "إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ" د الانعام سورت ۷۹ ایت. بېشکه مخ مې کړی دی د هغه چا په لورې چې ځمکې او اسمانونه یې پیدا کړي او زه له

---

[۲] : وَالْعُرُوقُ الَّتِي تُقْطَعُ فِي الذَّكَاةِ أَرْبَعَةٌ: الْحُلْقُومُ وَهُوَ مَجْرَى النَّفَسِ، وَالْمَرِيءُ وَهُوَ مَجْرَى الطَّعَامِ، وَالْوَدَجَانِ وَهُمَا عِرْقَانِ فِي جَانِبَيْ الرَّقَبَةِ يَجْرِي فِيهَا الدَّمُ، فَإِنْ قُطِعَ كُلُّ الْأَرْبَعَةِ حَلَّتْ الذَّبِيحَةُ ، وَإِنْ قُطِعَ أَكْثَرُهَا فَكَذَلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - وهو الصحيح لما أنّ للأكثر حكم الكل، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷، كتاب الذبائح، ط: رشيدية ، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۱۲،ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، رد المحتار ج: ۶ ص: ۲۹۴، بدائع ج: ۵ ص: ۴۱، فصلٌ أما بيان شرط حل الأكل في الحيوان.

[۳] : (وَمِنْهَا) أَنْ يَكُونَ الذَّابِحُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَالذَّبِيحَةُ مُوَجَّهَةً إلَى الْقِبْلَةِ (بدائع ج: ۵ ص: ۶۰،قبيل باب فصل أما بيان ما يحرم أكله ؛ هندية ج: ۵ ص: ۲۸۸، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، ط: سعيد، وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يُجَرِّدَ التَّسْمِيَةَ عَنْ الدُّعَاءِ فَلَا يَخْلِطَ مَعَهَا دُعَاءً وَإِنَّمَا يَدْعُو قَبْلَ التَّسْمِيَةِ أَوْ بَعْدَهَا، وَيُكْرَهُ حَالَةَ التَّسْمِيَةِ . بدائع ج: ۵ ص: ۸۰، أما الذي يرجع إلى من عليه التضحية ، فصلٌ أما بيان ما يستحب قبل التضحية .)

مشرکینو څخه نه یم.

"قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ" د الانعام سورت ۱۶۲ ایت." بېشکه لمونځ، ټول عملونه، ژوند او مرګ مې د الله ﷻ لپاره دي.

دغه دعا که د چا زده وي، د ښاروي له حلالولو وړاندې دې ووايي: "اللّٰهم تقبله مني كما تقبلت من حبيبك محمد وخليلك ابراهيم عليهما الصلوة والسلام" او که څوک د بل چا پر ځای قرباني کوي د "مني" پر ځای دې "من فلان" یعني د "فلان" پر ځای دې د هغه کس نوم واخلي.(۱)

دعا لوستل

د قربانۍ د ښاروي د حلالولو پر مهال که د چا پوره دعا زده نه وي ویل یې اړین نه دي؛ خو که د چا زده وي او وې وایي ښه دي، که څوک له دعا پرته یوازې د "بسم الله الله اکبر" په ویلو سره قرباني حلاله

(۱): عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: ذَبَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الذَّبْحِ كَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ أَمْلَحَيْنِ مُوجَأَيْنِ، فَلَمَّا وَجَّهَهُمَا قَالَ: «إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ عَلَى مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا، وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ، اللَّهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ، وَعَنْ مُحَمَّدٍ وَأُمَّتِهِ بِاسْمِ اللَّهِ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ» ثُمَّ ذَبَحَ (رواهُ أبو داؤد ج: ۲ ص: ۳۰، باب ما يستحب من الضحايا ، مكتبه حقانية ، مشكوة ص: ۱۲۹، باب في الأضحية ، ط: قديمي، بدائع ج: ۵ ص: ۸۰، أما الذي يرجع إلى الأضحية ، ط: سعيد، وَعَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِكَبْشٍ أَقْرَنَ يَطَأُ فِي سَوَادٍ وَيَبْرُكُ فِي سَوَادٍ وَيَنْظُرُ فِي سَوَادٍ فَأُتِيَ بِهِ لِيُضَحِّيَ بِهِ قَالَ: «يَا عَائِشَةُ هَلُمِّي الْمُدْيَةَ» ثُمَّ قَالَ: «اشْحَذِيهَا بِحَجَرٍ» فَفَعَلَتْ ثُمَّ أَخَذَهَا وَأَخَذَ الْكَبْشَ فَأَضْجَعَهُ ثُمَّ ذَبَحَهُ ثُمَّ قَالَ: «بِسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ وَآلِ مُحَمَّدٍ وَمِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ» . ثُمَّ ضحى بِهِ. مشكوة ص: ۱۲۷، ط: قديمي كتب خانه، بدائع ج: ۵ ص: ۸۰، ط: سعيد، بِسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ بِسْمِ اللَّهِ وَاللَّهُ أَكْبَرُ ، بدائع ج: ۵ ص: ۸۰، ط: سعيد، البحرائق ج: ۸ ص: ۱۶۹.)

کړي، قرباني يې صحيح او غوښه خوړل يې روا دي.(۱)

دهقان

که د دهقان سره د يوې چلولو او د اړتيا پرته دومره څاروي وي چې د هغې قيمت دوه پنځوس نيمې تولې سپينو زرو قيمت ته رسيږي يا ددې نه هم زيات جوړيږي؛ نو قرباني پرې واجب ده او که داسې نه وي يا نور مال نه وي؛ نو قرباني پرې نه واجبيږي.(۲)

داغ شوي څاروي

د داغ کړل شوي څاروي قرباني کول صحيح دي، داغ څاروي ته د روغتيا لپاره ورکول کيږي، داغ د څاروي پر غوښې هيڅ اغېزه نه اچوي.(۳)

(ر)

د رژېدلي غاښونو څاروي حکم

د کوم څاروي غاښونه چې دومره رژېدلي وي چې واښه وربانديې خوړلی شي د هغه قرباني صحيح ده او که واښه نه شي خوړلی؛ نو د

---

(۱) : (وَالْمُسْتَحَبُّ) (أَنْ يَقُولَ بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰهُ أَكْبَر، المحيط البرهـاني، ج: ۸ ص: ۴۵۱، ط: إدارة القرآن.لو اقتصر على قوله الله أكبر قاصدا به التسمية يكفي . رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۰۱، ط: سعيد.

(۲) : وَالزَّارِعُ بِثَوْرَيْنِ وَآلَةِ الْفَدَّانِ لَيْسَ بِغَنِيٍّ، وَبِبَقَرَةٍ وَاحِدَةٍ غَنِيٌّ، وَبِثَلَاثَةِ ثِيرَانٍ إذَا سَاوَى أَحَدُهَا مِائَتَيْ دِرْهَمٍ صَاحِبُ نِصَابٍ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۳، كتاب الأضحية ، الباب الأول ، ط: رشيدية.

(۳) : فتاوىٰ رحيمية ج: ۱۰، ص: ۵۰، كتاب الأضحية ، دار الإشاعت.

هغه قرباني نه کیږي.[۱]

رسی

د قرباني د څاروي رسی صدقه کول مستحب دي، که چا خرڅه کړه پیسې دې خیرات کړي، که خپله یې په کار راولي کارولی یې شي او که چاته یې د ډالی په توګه ورکوي هم روا دي.[۲]

ړوي سترګي

- ړد سترګي څاروي چې برګ برګ کتل کوي، قرباني کول یې صحیح دي.[۳]

د رسولی (دانه دار) څاروي حلالول

د رسولی: (دانه شوي) ناروغ څاروي حلالول روا دي.[۴]

---

(۱) : (وَأَمَّا الْهَتْمَاءُ) الَّتِي لَا أَسْنَانَ لَهَا، فإن كانت ترعىٰ وتعتلفُ جـازتْ وإلا لا، هنديـة: ۵ ص: ۲۹۸ الباب الخامس، بدائع ج: ۵ ص: ۷۵، أما الذي يرجع إلىٰ محل التضحية، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، فتاوى شامي ج: ۶ ص: ۳۲۴، تكملة فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۴، ط: رشيدية .

(۲) : وَإِذَا ذَبَحَهَا تَصَدَّقَ بِجِلَالِهَا وَقَلَائِدِهَا، (الهندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، بـدائع ج: ۵ ص: ۸۱،) (وَيَتَصَدَّقُ بِجِلْدِهَا أَوْ يَعْمَلُ مِنْهُ نَحْوَ غِرْبَالٍ وَجِرَابٍ) شـامي ج: ۶ ص: ۳۲۸، البحـر ج: ۸ ص: ۱۷۸، الهندية ج: ۵ ص: ۳۰۱، ط: رشيدية، وَيَتَصَدَّقُ بِثَمَنِه، لِأَنَّ الْقُرْبَةَ ذَهَبَتْ عَنْهُ فَيَتَصَـدَّقُ بِـهِ. بدائع ج: ۵ ص: ۸۱، فصلٌ أما بيان ما يستحب قبل التضحية ، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۹.

(۳) : والحولاء تجزئ : وهي التي في عينها حولٌ . (الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۸ ، البحـر ج: ۸ ، ص: ۱۷۶ ، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۵ ، كتاب الأضحية ط: سعيد ،)

(۴) : كُلُّ عَيْبٍ يُزِيلُ الْمَنْفَعَةَ عَلَى الْكَمَالِ أَوْ الْجَمَالَ عَلَى الْكَمَالِ يَمْنَعُ الْأُضْحِيَّةَ، وَمَا لَا يَكُونُ بِهَذِهِ الصِّفَةِ لَا يَمْنَعُ . (فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۹، ط: رشـيدية ، شـامي ج: ۶ ص: ۳۲۳، فتاوى رحيمية ج: ۱۰، ص: ۴۹، ط: دار الإشاعت.)

د روغتيا لپاره قرباني كول

د ناروغ د روغتيا په نيت يوازې د الله تعالى د رضا لپاره څاروى حلالول روا دي؛ خو ژوندى څاروى خيراتول غوره دي.(۱)

(ز)

زورنه

هغه څوک چې سره د شتمنۍ قرباني نه كوي، هغه لوى ګناهګار دى، رسول الله ﷺ فرمايي: هغه څوک چې (د قربانۍ كولو) وس لري او قرباني نه كوي هغه دې زموږ عيدګاه ته نږدې نه راځي.(۲)

په زور اخيستل شوي (مغصوب) څاروي قرباني

كه چا د بل څاروى په زوره (غصب) واخيست او قرباني يې وكړه؛ نو قرباني به يې ادا شي؛ خو په زورور (غاصب) باندې ضروري ده چې د څاروي قيمت څښتن ته وركړي.(۳)

(۱) : ولو تركت الضحية ومَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ تُصُدِّقَ بِهَا حَيَّةً، وفي الشامية : (قوله تصدق بها حية لوقوع اليأس عن التقرب بالإراقة، وإن تصدق بقيمتها أجزاه أيضا لأن الواجب هنا التصدق بعينها وهذا مثله فيما هو المقصود اهـ) (الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۰، كفايت المفتي ج: ۸ ص: ۲۵۲.)

(۲) : «مَنْ وَجَدَ سَعَةً وَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا» مشكاة المصابيح ، باب في الأضحية ص: ۱۲۷، ابن ماجة ص: ۲۲۶، أبواب الأضاحي ، ط: قديمي كتب خانه، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۴، فصلٌ أما في شرائط الوجوب، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۳، ط: سعيد.

(۳) : فِي الْمُنْتَقَى لَوْ غَصَبَ أُضْحِيَّةَ غَيْرِهِ وَذَبَحَهَا عَنْ نَفْسِهِ وَضَمِنَ الْقِيمَةَ لِصَاحِبِهَا أَجْزَأَهُ مَا صَنَعَ؛ لِأَنَّهُ مَلَكَهَا بِسَابِقِ الْغَصْبِ . (فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۳، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۹، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب.)

زنداني

که زنداني مقيم وي او د نصاب څښتن وي؛ نو په هغه باندې د قرباني په ورځو کې قرباني واجب ده، برابره خبره ده چې په زندان کې يې کوي او که د زندان نه بهر څوک وکيل نيسي او قرباني کوي؛ خو قرباني کول پرې لازم دي.[1]

که زنداني د خپل هېواد نه بهر بندي وي، يا د خپل ښار نه دومره لرې بندي وي چې د سفر مساحت پکښې وي او هغه د نصاب څښتن وي؛ نو په ده باندې قرباني واجبه نه ده.[2]

د زراعتي ځاروي قرباني

زراعتي ځاروی د طبيعي ځاروي په څېر نه وي، د غوا "رحم" ته د غوايي "نطفه" پېچکاري کېږي، له دې څخه چې کوم ځاروی پيدا کېږي هغه ته زراعتي ځاروی ويل کېږي، د عامو ځارويو په څېر په شا بوک نه لري، د دغه ډول ځاروي غوښه خوړل روا او قرباني کول يې صحيح دي.

دا چې قرباني يو ستر عبادت دی؛ نو اړينه ده چې د شک لرونکي ځاروي له قرباني کولو څخه تر ډېره بريده ځان وساتل شي، له اړتيا

(۱) (۲) : وشرائطها: الإسلام والإقامة واليسار، (وَالْيَسَارُ) بِأَنْ مَلَكَ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ أَوْ عَرْضًا يُسَاوِيهَا) الخ... الدر مع الرد، كتاب الأضحية، ج: ۶ ص: ۳۱۲، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲، كتاب الأضحية الباب الأول في تفسيرها، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۳، كتاب الأضحية، ط: سعيد، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۴، فصلٌ أما شرائط الوجوب، ط: سعيد، تكملة فتح القدير ج: ۸ ص: ۳۲۵، كتاب الأضحية، ط: رشيدية.

پرته دغه ستر عبادت په شکمن څاروي خرابول مناسب نه دي. (۳)

د زده کوونکي (طالب) لپاره نفلي قرباني کول

د زده کوونکي (طالب) لپاره د نفلي قرباني نه ديني کتابونه اخيستل غوره دي. (۱)

د زناکارې د مېړه (خاوند) حلالول

زنا خپله يوه بده کړنه ده، ځان ساتل ترې اړين دي او دا لويه ګناه ده؛ خو دومره ده چې د زناکارې د مېړه د لاس حلال شوی پسه (څاروی) پاک دی، برابره ده که دی خپله ښځه ددې بد عمل نه منع کوي او که يې نه منع کوي، په دواړو صورتونو کې يې د لاس حلال شوی پسه پاک دی؛ (۲)خو دومره ده چې ددې بد عمل د خپلې ښځې د نه منع کولو له امله به ګنهګار وي او په همدې حالت پاتې کېدو له وجې به ديوث ګڼل کيږي.

---

(۳) : فَإِنْ كَانَ مُتَوَلِّدًا مِنَ الْوَحْشِيِّ وَالْإِنْسِيِّ فَالْعِبْرَةُ بِالْأُمِّ ، حَتَّى لَوْ كَانَتِ الْبَقَرَةُ وَحْشِيَّةً وَالثَّوْرُ أَهْلِيًّا لَمْ تَجُزْ، وَقِيلَ: إِذَا نَزَا ظَبْيٌ عَلَى شَاةٍ أَهْلِيَّةٍ، فَإِنْ وَلَدَتْ شَاةً تَجُوزُ التَّضْحِيَةُ، وَإِنْ وَلَدَتْ ظَبْيًا لَا تَجُوزُ، (هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷ ، الباب الخامس ، فتاوى رحيمية ج: ۱۰ ص: ۵۵ ، كتاب الأضحية ، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۹، فصل أما محل إقامة الواجب، ط: سعيد ، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۲، كتاب الأضحية ، ط: سعيد، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۷، كتاب الأضحية ، ط: سعيد.)

(۱) : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ: صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ أوعلم ينتفع بِهِ أوولد صَالِح يَدْعُو لَهُ) (مشكاة المصابيح ص: ۳۲، كتابُ العلم، ط: قديمي كتب خانه.)

(۲) : وشرط كون الذابح مسلماً .... (شامي ج: ۶ ص: ۲۹۶، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۵، ط: رشيدية ، البحر ج: ۸ ص: ۱۶۸، بدائع ج: ۵ ص: ۴۵، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۰۷، ط: رشيدية.
)

زخم

که د وهلو له وجې څاروی زخمي شي قرباني کول يې صحيح دي؛ خو غوره دا ده چې روغ څاروی قرباني کړي.[۳]

د زوال وروسته حلاله وکړئ!

که د ذي الحجې په لسمه د لوی اختر لمونځ ادا شي؛ نو د لمانځه وروسته څاروی حلال کړئ[۱] او که د څه وجې لمونځ ادا نه شي بيا يې د زوال وروسته حلال کړئ![۲]

(ژ)

(۳) : قطع الذنب من إلية الشاة قطعة لا يؤكل المبان، وأهل الجاهلية كانوا يأكلونه فقال صلى الله عليه وسلم: ما أبين من الحي فهو ميتة، (هندية ج: ۵ ص: ۲۹۱ ، الباب الثالث في المتفرقات.)

(۱) : وَالْوَقْتُ الْمُسْتَحَبُّ لِلتَّضْحِيَةِ فِي حَقِّ أَهْلِ السَّوَادِ بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ، وَفِي حَقِّ أَهْلِ الْمِصْرِ بَعْدَ الْخُطْبَةِ . (الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۵، بدائع ج: ۵ ص: ۷۳، أما الذي يرجع إلى وقت التضحية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۸.)

(۲) : إِذَا تُرِكَ الصَّلَاةُ يَوْمَ النَّحْرِ بِعُذْرٍ أَوْ بِغَيْرِ عُذْرٍ لَا تَجُوزُ الْأُضْحِيَةُ حَتَّى تَزُولَ الشَّمْسُ (فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۵، ط: رشيدية ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۳، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۸.)

ژبه

د کوم څاروي ژبه چې نه وي د هغه قرباني نه صحيح کيږي.(۳)

ژوندی بچی

که د قربانۍ د څاروي حلالولو وروسته ژوندی بچی پیدا شي هغه دي هم حلال کړي او که مړ پیدا شي په استعمال کې دي نه راولي، که د قربانۍ په ورځو کې یې حلال نه کړو؛ نو د قربانۍ د ورځې تېرېدو وروسته دي خیرات کړي، که راتلونکي کال کې یې د قربانۍ کولو لپاره وساتلو په دې سره واجبه قرباني نه ادا کیږي او د حلال شوي څاروي بچی به خیراتوي، که د حلالولو له وجې د قربانۍ په قیمت کې کمی راشي؛ نو هغومره روپۍ به خیرات کوي.(۱)

که د قربانۍ د څاروي حلالولو وړاندې بچی پیدا شي د هغه همدغه حکم دی.(۲)

د ژوندي څاروي اندام مه پرې کوئ!

د ژوندي څاروي اندام پرې کول ناروا دي، تر دې چې د حلالولو وروسته تر څو پورې د څاروي بدن یخ شوی نه وي تر هغه پورې چې

(۳) : وَفِي الْيَتِيمَةِ كَتَبْتُ إِلَى أَبِي الْحَسَنِ عَلِيٍّ الْمَرْغِينَانِيِّ، وَلَوْ كَانَتْ الشَّاةُ مَقْطُوعَةَ اللِّسَانِ هَلْ تَجُوزُ التَّضْحِيَةُ بِهَا؟ . فَقَالَ: نَعَمْ إِنْ كَانَ لَا يُخِلُّ بِالِاعْتِلَافِ، وَإِنْ كَانَ يُخِلُّ بِهِ لَا تَجُوزُ التَّضْحِيَةُ بِهَا . (فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۸، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۵.)

(۱) (۲) : فَإِنْ خَرَجَ مِنْ بَطْنِهَا حَيًّا فَالْعَامَّةُ أَنَّهُ يَفْعَلُ بِهِ مَا يَفْعَلُ بِالْأُمِّ، فَإِنْ لَمْ يَذْبَحْهُ حَتَّى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ يَتَصَدَّقُ بِهِ حَيًّا، فَإِنْ ضَاعَ أَوْ ذَبَحَهُ وَأَكَلَهُ يَتَصَدَّقُ بِقِيمَتِهِ، فَإِنْ بَقِيَ عِنْدَهُ وَذَبَحَهُ لِلْعَامِ الْقَابِلِ أُضْحِيَّةً لَا يَجُوزُ، وَعَلَيْهِ أُخْرَى لِعَامِهِ الَّذِي ضَحَّى وَيَتَصَدَّقُ بِهِ مَذْبُوحًا مَعَ قِيمَةِ مَا نَقَصَ بِالذَّبْحِ، وَالْفَتْوَى عَلَى هَذَا،

د بدن کوم غړی پرې شي د هغې خوړل ناروا دي.[۳]

(س)

سترګه

که کوم څاروی وړوند وي، یا یې یوه سترګه لید کولای شي یا یې د یوې سترګې د لېد درېیمې برخې او یا له دې څخه ډېر کار نه کولو، د دغه څاروي قرباني کول روا نه دي.[۱]

که د کوم څاروي سترګي کږې وي، د دغه څاروي قرباني کول صحیح دي.[۲]

---

(۳) : وَمِنَ الْمَشَايِخِ مَنْ يَذْكُرُ لِهَذَا الْفَصْلِ أَصْلًا وَيَقُولُ: كُلُّ عَيْبٍ يُزِيلُ الْمَنْفَعَةَ عَلَى الْكَمَالِ أَوْ الْجَمَالِ عَلَى الْكَمَالِ يَمْنَعُ الْأُضْحِيَّةَ، وَمَا لَا يَكُونُ بِهَذِهِ الصِّفَةِ لَا يَمْنَعُ، (هندية ج: ۵ ص: ۲۹۹، ط: رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳) وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يُتَرَبَّصَ بَعْدَ الذَّبْحِ بِقَدْرِ مَا يَبْرُدُ وَيَسْكُنُ مِنْ جَمِيعِ أَعْضَائِهِ وَتَزُولُ الْحَيَاةُ مِنْ جَمِيعِ جَسَدِهِ، وَيُكْرَهُ أَنْ يَنْخَعَ وَيَسْلَخَ قَبْلَ أَنْ يَبْرُدَ، (هندية ج: ۸ ص: ۲۸۷، ۳۰۰، بدائع ج: ۵ ص: ۸۰، أما الذي يرجع إلى آلة التضحية ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، شامي ج: ۶ ص: ۲۹۶.)

(۱) : لَا يُضَحِّي (بِالْعَمْيَاءِ وَالْعَوْرَاءِ وَالْعَجْفَاءِ) وَمَقْطُوعِ أَكْثَرِ الْعَيْنِ) أَيْ الَّتِي ذَهَبَ أَكْثَرُ نُورِ عَيْنِهَا فَأَطْلَقَ الْقَطْعَ عَلَى الذَّهَابِ وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ الثُّلُثُ، وَمَا دُونَهُ قَلِيلٌ، وَمَا زَادَ عَلَيْهِ كَثِيرٌ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى اهـ. (هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳. بدائع ج: ۵ ص: ۷۵. اما الذي يرجع إلى التضحية ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۳ ط: رشيدية) وَفِي الْعَيْنِ قَالُوا: تُشَدُّ الْمَعِيبَةُ بَعْدَ أَنْ لَا تَعْتَلِفَ الشَّاةُ يَوْمًا أَوْ يَوْمَيْنِ ثُمَّ يُقَرَّبُ الْعَلَفُ إِلَيْهَا قَلِيلًا قَلِيلًا فَإِذَا رَأَتْهُ مِنْ مَوْضِعٍ أُعْلِمَ عَلَيْهِ ثُمَّ تُشَدُّ الصَّحِيحَةُ وَقُرِّبَ إِلَيْهَا الْعَلَفُ كَذَلِكَ فَإِذَا رَأَتْهُ مِنْ مَكَانٍ أُعْلِمَ عَلَيْهِ ثُمَّ يُنْظَرُ إِلَى تَفَاوُتِ مَا بَيْنَهُمَا، فَإِنْ كَانَ ثُلُثًا فَالذَّاهِبُ هُوَ الثُّلُثُ وَإِنْ نِصْفًا فَالنِّصْفُ اهـ. (هندية ج: ۵ ص: ۲۹۸ رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۲۲۴، سعيد ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷ سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۷۵، اما الذي يرجع إلى محل التضحية .)

(۲) : والحولاء تجزئ : وهي التي في عينها حولٌ (الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۸ ط: رشيدية)

سر پرې (جدا) کول

د څاروي د يخېدو نه وړاندې سر پرې کول مکروه دي؛ خو د حلال شوي څاروي غوښه پاکه ده.[۳]

سود خور سره شراکت

د سود خور سره په قربانۍ کې شريکېدل نه دي پکار، ځکه چې د حرامو پيسو والا د شراکت له وجې د ټولو قرباني هم نه صحيح کيږي؛ خو دومره ده که دی د بل چا نه پاکې پيسې راواخلي او په قربانۍ کې شريک شي بيا يې شريکول صحيح دي.[۱]

(ش)

---

(۳) : وَيُسْتَحَبُّ الِاكْتِفَاءُ بِقَطْعِ الْأَوْدَاجِ وَلَا يُبَايِنُ الرَّأْسَ وَلَوْ فَعَلَ يُكْرَهُ ، (فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷، ط: رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۲۹۶، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۱۵، ط: رشيدية) وَكُرِهَ النَّخْعُ وَهُوَ أَنْ يَبْلُغَ بِالسِّكِّينِ النُّخَاعَ وَتُؤْكَلُ الذَّبِيحَةُ، وَالنُّخَاعُ عِرْقٌ أَبْيَضُ فِي عَظْمِ الرَّقَبَةِ وَقِيلَ أَنْ يَمُدَّ رَأْسَهُ حَتَّى يَظْهَرَ مَذْبَحُهُ، وَقِيلَ: أَنْ يَكْسِرَ عُنُقَهُ قَبْلَ أَنْ يَسْكُنَ مِنَ الِاضْطِرَابِ، وَكُلُّ ذَلِكَ مَكْرُوهٌ لِأَنَّهُ تَعْذِيبُ الْحَيَوَانِ بِلَا ضَرُورَةٍ . (فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۸، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، ط: سعيد.)

(۱) : وَالْحَاصِلُ أَنَّهُ إِنْ عَلِمَ أَرْبَابَ الْأَمْوَالِ وَجَبَ رَدُّهُ عَلَيْهِمْ، وَإِلَّا فَإِنْ عَلِمَ عَيْنَ الْحَرَامِ لَا يَحِلُّ لَهُ وَيَتَصَدَّقُ بِهِ بِنِيَّةِ صَاحِبِهِ، رد المحتار ج: ۵ ص: ۹۹، ط: سعيد، و ج: ۶ ص: ۳۸۵، هندية ج: ۵ ص: ۳۴۹، .... ((وَإِنْ) (كَانَ شَرِيكُ السِّتَّةِ نَصْرَانِيًّا أَوْ مُرِيدًا اللَّحْمَ) (لَمْ يُجْزِ عَنْ وَاحِدٍ) مِنْهُمْ لِأَنَّ الْإِرَاقَةَ لَا تَتَجَزَّأُ) الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۶، وكذا إِذَا كَانَ أَحَدُهُمْ عَبْدًا أَوْ مُدَبَّرًا وَيُرِيدُ الْأُضْحِيَّةَ، لِأَنَّ نِيَّتَهُ بَاطِلَةٌ، لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ هَذِهِ الْقُرْبَةِ فَكَانَ نَصِيبُهُ لَحْمًا فَيَمْتَنِعُ الْجَوَازُ أَصْلًا. (بدائع ج: ۵ ص: ۷۲، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب.)

يو شريکوال ومړ

اووه کسانو يو ځای يو لوی څاروی د قربانۍ لپاره وپېری، وړاندې له دې چې قرباني وکړي له دوی څخه يو شريکوال ومړ، که د مړي خپلوانو (وارثانو) نورو شريکوالو ته اجازه ورکړه چې د مړي لخوا تاسو خپله قرباني وکړئ، دوی همداسې وکړه؛ نو د ټولو لخوا قرباني وشوه.[۲]

که د مړي د خپلوانو له اجازې پرته شريکوالو قرباني حلاله کړه؛ نو د يو شريکوال قرباني يې هم نه ده شوې.[۳]

د شا له پښو کشول

د قرباني څاروی د حلالولو ځای ته د بېولو پر مهال د شا له پښو څخه کشول تحريمي مکروه دي.[۱]

شتمن سړی د قربانۍ د ورځو راتلو نه وړاندې غريب شو

څوک د نصاب څښتن و، هغه د قربانۍ په نيت باندې څاروی واخيست؛ خو د قربانۍ د ورځو راتلو نه وړاندې هغه غريب شو او د

---

[۲] : (وَإِنْ) (مَاتَ أَحَدُ السَّبْعَةِ) الْمُشْتَرِكِينَ فِي الْبَدَنَةِ (وَقَالَ الْوَرَثَةُ اذْبَحُوا عَنْهُ وَعَنْكُمْ) (صَحَّ) عَنْ الْكُلِّ اسْتِحْسَانًا لِقَصْدِ الْقُرْبَةِ مِنْ الْكُلِّ، الدر المختار مع الرد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶ ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۲ ، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۵ ، الباب الثامن ط: رشيدية .

[۳] : وَلَوْ ذَبَحُوهَا بِلَا إذْنِ الْوَرَثَةِ لَمْ يُجْزِهِمْ لِأَنَّ بَعْضَهَا لَمْ يَقَعْ قُرْبَةً ، الدر المختار مع الرد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶ ، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۸ ، كتاب الأضحية ، ط: سعيد ، هندية ، الباب الثامن ج: ۵ ص: ۳۰۵ .

[۱] : وَيُكْرَهُ جَرُّهَا بِرِجْلِهَا إلَى الْمَذْبَحِ ، (فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷ ، كتاب الذبائح ، الباب الأول ، ط: رشيدية ، شامي ج: ۶ ص: ۲۹۶ ، بدائع ج: ۵ ص: ۶۰ ، ۷۸، فصل أما بيان ما يستحب قبل التضحية ، ط: سعيد).

قربانۍ تر اخیري ورځې پورې د نصاب څښتن نه شو؛ نو په هغه باندې قرباني واجب نه ده، کولای شي چې دا څاروی خرڅ کړي او قیمت یې په خپلو اړتیاوو کې مصرف کړي، که د قربانۍ په اخیرنیو ورځو کې هم د نصاب څښتن شو؛ نو قرباني په هغه باندې واجب ده، برابره خبره ده چې هغه څاروی قرباني کوي او که بل څاروی قرباني کوي. (۲)

د شتمن لپاره غوره کړنه

شتمنو خلکو ته پکار ده چې کوم ځای کې د ځان لپاره قرباني کوي هلته د خپلوانو مړو لکه: مور او پلار او نورو دوستانو ته هم قرباني وکړي، ددې لپاره چې هغوی ته هم ثواب ورسیږي.

پکار ده چې د رسول الله ﷺ، د هغه د کورنۍ، د راشده خلیفه ګانو، د مسلمانو امامانو او د خپل پیر او ښوونکي له لورې هم قرباني وکړي. (۳)

شنډ څاروی

د شنډ څاروي قرباني صحیح ده، ځکه چې د نه صحیح کېدو په اړه یې هیڅ نه دي ویل شوي، شنډ څاروی ښه غوښن وي، دا چې د قربانۍ د څاروي لپاره خصیتوب کومه کړمه نه ده؛ نو همدارنګه

---

(۲): فتاوی محمودیة ج: ۲ ص: ۳۲۳، وفي الهندية : يُعْتَبَرُ آخرُ أيَّامِ النَّحْرِ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنَى وَالْمَوْتِ وَالْوِلَادَةِ ، ج: ۵ ص: ۲۹۶، الباب الرابع فيما يتعلق بالمكان والزمان.

(۳): قَالَ فِي الْبَدَائِعِ لِأَنَّ الْمَوْتَ لَا يَمْنَعُ التَّقَرُّبَ عَنْ الْمَيِّتِ بِدَلِيلِ أَنَّهُ يَجُوزُ أَنْ يَتَصَدَّقَ عَنْهُ وَيَحُجَّ عَنْهُ، وَقَدْ صَحَّ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – ضَحَّى بِكَبْشَيْنِ أَحَدُهُمَا عَنْ نَفْسِهِ وَالْآخَرُ عَمَّنْ لَمْ يَذْبَحْ مِنْ أُمَّتِهِ» (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۷۲، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب.)

شنډوالي د قرباني د څاروي لپاره کوم عيب او کړمه نه ده. (۱)

د قرباني شاليد

الله ﷻ ته د نږدېوالي په موخه د څاروي حلالول له هغه مهاله پيل شوي دي چې ادم عليه السلام دې نړۍ ته راغی، له ټولو مخکې لومړۍ قرباني د ادم عليه السلام دوه زامنو هابيل او قابيل ورکړې ده، "إذ قربا قربانا" کله چې دواړو قرباني وکړه.

هابيل يو پسه د قرباني په موخه الله ﷻ ته وړاندې کړ او قابيل د خپل کښت لږ غنم، د پخوا د دستور سره سم له اسمانه اور رانښکته شو د هابيل پسه يې وسوځوه او د قابيل غنم پر ځای پاتې شول. (۲)

د مخکنيو نبيانو په پېر کې د قرباني د قبلېدو نښه دا وه چې له اسمانه به اور رانښکته شو او هغه قرباني به يې وسوځوله. (۱)

---

(۱) : تجوز التضحية بالعاجزة عن الولادة لكبر سنها. (هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، الباب الخامس ، ط: رشيدية ، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۵ ، ط: سعيد).

(۲) : قال الله تعالىٰ : وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِن أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْآخَرِ الخ ... سورة المائدة آيت : ۲۷ ، عَنِ ابْنِ مَسْعُود– أَنَّهُ كَانَ لَا يُولَدُ لِآدَمَ مَوْلُودٌ إِلَّا وُلِدَ مَعَهُ جَارِيَةٌ،.... حَتّٰى وُلِدَ لَهُ ابْنَانِ يُقَالُ لَهُمَا: قَابِيلُ وَهَابِيلُ وَكَانَ قَابِيلُ صَاحِبَ زَرْعٍ، وَكَانَ هَابِيلُ صَاحِبَ ضَرْعٍ، وَكَانَ قَابِيلُ أَكْبَرَهُمَا،... فَلَمَّا قَرَّبَا، قَرَّبَ هَابِيلُ جَذَعَةً سَمِنَةً، وَقَرَّبَ قَابِيلُ حُزْمَةَ سُنْبُلٍ، فَوَجَدَ فِيهَا سُنْبُلَةً عَظِيمَةً، فَفَرَكَهَا فَأَكَلَهَا. فَنَزَلَتِ النَّارُ فَأَكَلَتْ قُرْبَانَ هَابِيلَ، وَتَرَكَتْ قُرْبَانَ قَابِيلَ..... تفسير ابن كثير ج: ۲ ص: ۴۸ ، سورة المائدة ، آيت ۲۷ ، الجزء السادس ، المكتبة التجارية مصطفى أحمد البازط ، ۱۴۱۲ هـ.

(۱) : قال الإمام القاضي ثناء الله فاني فتي تحت قوله تعالىٰ : حَتّٰى يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ النَّارُ– القربان في الأصل كل ما يتقرب به العبد الى الله عز وجل من نسيكة وصدقة وعمل صالح... ثم صار اسما للذبيحة التي كانوا يتقربون بها الى الله تعالى وكانت القرابين والغنائم لا تحل لبنى إسرائيل فكانوا إذا قربوا قربانا او غنموا غنيمة جاءت نار بيضاء من السماء لا دخان لها لها دوى وحفيف فيأكل ويحرق ذلك القربان والغنيمة فيكون ذلك علامة القبول وإذا لم تقبل بقيت على حالها ، التفسير المظهري ج: ۲

د حلالي پر مهال د ټولو شريکوالو "بسم الله" ويل

د قرباني د حلالولو پر مهال د ټولو شريکوالو "بسم الله" ويل اړين نه دي، يوازې هغه کس چې حلاله کوي او بل هغه کس چې د حلالوونکي سره په حلاله کې مرسته کوي، يعنې د حلالوونکي په لاس زور کوي چې ځاروی ژر حلال شي، "بسم الله" ويل اړين دي.[۲]

هغه کسانو چې د ځاروي پښې نيولي وي، پر هغوی د "بسم الله" ويل اړين نه دي.

د شپې حلاله

څرنګه چې د لسمې ذوالحجې څخه تر دولسمې د ماز ديګر تر مهاله د ورځې قرباني حلالول روا دي، همداسې د شپې قرباني کول يې هم روا دي.

نن سبا د برېښنا اسانتيا هر ځای شته د ځاروي د حلالولو پر مهال کوم رګ نه پاتې کېږي.[۱]

ص: ۱۸۸ ، آل عمران ، آيت : ۱۸۳ ، مطبوعة ندوة المصنفين الكائنة في بلدة دهلي.. تفسير روح البيان ج: ۲ ص: ۴۵۸ ، مائدة آيت: ۲۷ ، دار إحياء التراث العربي .

(۲) : رَجُلٌ أَرَادَ أَنْ يُضَحِّيَ فَوَضَعَ صَاحِبُ الشَّاةِ يَدَهُ عَلَى السِّكِّينِ مَعَ يَدِ الْقَصَّابِ حَتَّى تَعَاوَنَا عَلَى الذَّبْحِ قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ: يَجِبُ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا التَّسْمِيَةُ حَتَّى لَوْ تَرَكَ أَحَدُهُمَا التَّسْمِيَةَ لَا يَجُوزُ. (هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴ ، الباب السابع.)

(۱) : وَوَقْتُهَا ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ أَوَّلُهَا أَفْضَلُهَا، وَيَجُوزُ الذَّبْحُ فِي لَيَالِيهَا إلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ لِاحْتِمَالِ الْغَلَطِ فِي الظُّلْمَةِ وَأَيَّامُ النَّحْرِ ثَلَاثَةٌ . البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، ط: سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۵، ط: رشيدية ، بدائع ج ۵ ص: ۶۵، فصلٌ أما وقت الوجوب، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۲.

شریکه پانګه

د ښېلګې په توګه د يو سړي ځلور زامن وي، هغوی هم ښه ګټندوی وي، د کور اړتياوې پوره وي، ځمکه، کور، سره او سپين هر څه شريک وي، په کور کې لوی، واړه او زاړه ټول يو ځای ناسته، ولاړه، خوراک او څښاک کوي، پلار زامنو ته په خپله خوښه د لګښت واک ورکړی وي، په داسې حال کې که ټول د نصاب څښتنان وي، پر ټولو خپله برخه قرباني کول واجب دي، يعنې پلار خپله برخه او ځلور برخې زامن به قرباني کوي، که د کور مېرمنې د نصاب څښتنې وي پر هغوی هر يوې قرباني واجب ده.

د ښېلګې په توګه ځلور ورونه دي او ټول د نصاب څښتنان دي، د پلار له مړينې وروسته پاتې شوني (ميراث) يې ووېش؛ خو په خپلو کې سره بېل نه شول. ګټه يې شريکه وي او لګښت هم شريک وي، دا چې ځلور واړه د نصاب څښتنان دي، په هر يو يې يوه يوه قرباني کول واجب دي. د ځلور واړو پر ځای يوه قرباني نه صحيح کېږي.[۲]

په شريکانو کې يو شريک د حلالولو اجازه ورنه کړه

که د قرباني په شريکانو کې يو شريک د حلالولو اجازه ورنه کړه او نه يې هم وکيل ونيولو او نورو شريکانو يې دده بې اجازې څاروی

---

[۲] : وَشَرَائِطُهَا: الْإِسْلَامُ وَالْإِقَامَةُ وَالْيَسَارُ (وَالْيَسَارُ) بِأَنْ مَلَكَ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ أَوْ عَرَضًا يُسَاوِيهَا غَيْرَ مَسْكَنِهِ وَثِيَابِ اللُّبْسِ أَوْ مَتَاعٍ يَحْتَاجُهُ) الَّذِي يَتَعَلَّقُ بِهِ) وُجُوبُ (صَدَقَةِ الْفِطْرِ) . (الدر مع الرد ، كتاب الأضحية ، ج: ۶ ص: ۳۱۲، هندية ج: ۵ ص:)۲۹۲، كتاب الأضحية ، الباب الأول، في تفسيرها، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷٤ , كتاب اللأضحية ، ط: سعيد، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۴، فصل أما في شرائط الوجوب ، ط: تكلمة فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۵، كتاب الأضحية ، ط: رشيدية .

حلال کړو؛ نو د يوه قرباني هم نه صحيح کيږي.[۱]

د شراکت نه جدا کېدل

که په شريکانو کې يو شريک داسې وي چې قرباني پرې واجبه وي او د څاروي د حلالولو نه څه وخت وړاندې جدا شي؛ خو د هغه په ځاي بل شريک پيدا شي؛ نو قرباني يې صحيح ده.[۲]

که د قربانۍ په څاروي کې داسې کس هم شريک وي چې په هغه باندې قرباني واجب نه وه او د څاروي د حلالولو نه وړاندې جدا شو؛ نو په هغه باندې به واجبه قرباني پاتې شي[۳] او ددې څاروي د نورو شريکانو قرباني به هم صحيح نه شي.[۴]

د شراکت غوره طريقه

په غټ څاروي کې د اخيستلو نه وړاندې شريکېدل تر ټولو غوره طريقه ده.[۱]

د څاروي اخيستونکی دې د اخيستلو پرمهال دا نيت وکړي چې يوه

---

(۱): وَلَوْ ذَبَحَ الْبَاقُونَ بِغَيْرِ إِذْنِ الْوَرَثَةِ لَا يُجْزِئُهُمْ؛ لِأَنَّهُ لَمْ يَقَعْ بَعْضُهَا قُرْبَةً لِعَدَمِ الْإِذْنِ مِنْهُمْ فَلَمْ يَقَعِ الْكُلُّ قُرْبَةً ضَرُورَةَ عَدَمِ التَّجَزِّي، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۵، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸.

(۲): وَالتَّقْدِيرُ بِالسَّبْعِ يَمْنَعُ الزِّيَادَةَ، وَلَا يَمْنَعُ النُّقْصَانَ، كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ. (الهندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، كتاب الأضحية، الباب الثامن، كفايت المفتي ج: ۸ ص: ۱۹۲، دار الإشاعت، وَلَوْ اشْتَرَى بَقَرَةً يُرِيدُ أَنْ يُضَحِّيَ بِهَا، ثُمَّ أَشْرَكَ فِيهَا سِتَّةً يُكْرَهُ وَيُجْزِيهِمْ؛ لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ سَبْعِ شِيَاهٍ حُكْمًا، إِلَّا أَنْ يُرِيدَ حِينَ اشْتَرَاهَا أَنْ يُشْرِكَهُمْ فِيهَا فَلَا يُكْرَهُ) هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، بدائع ج: ۶ ص: ۷۲، ط: سعيد.

(۳): وفقير شراها لها لوجوبها عليه بذلك حتى يمتنع عليه بيعها (تنوير الأبصار مع الدر المختار والشامي كتاب الأضحية ج: ۶ ص: ۳۲۱، ط: سعيد.)

(۴): لأن بعضها لم يقع قربة ، الدر مع الرد ، كتاب الأضحية ج: ۶ ص: ۳۲۶.

(۱): وَلَوْ اشْتَرَى بَقَرَةً يُرِيدُ أَنْ يُضَحِّيَ بِهَا ثُمَّ أَشْرَكَ فِيهَا ستة..... وَإِنْ فَعَلَ ذَلِكَ قَبْلَ أَنْ يَشْتَرِيَهَا كَانَ أَحْسَنَ. هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۷.

یا دوه برخې یې زما او پاتې برخو کې به یې نور شریک کړم داسې جائز ده [۲] او که د اخیستلو پرمهال یې د نورو شریکانو نیت نه ؤ کړی؛ خو وروسته ورته بل شریک پیدا شو؛ نو ددې په روا والي کې د عالمانو اختلاف دی؛ خو راجحه وینا پکښې د جواز ده [۳]

د شراکت څاروی

د اول نه په شریک څاروي کې قرباني نه صحیح کیږي، ځکه چې په دیکښې پردی حق دی. [۴]

د شراکت اجازه ورکول بیا وروسته په شا کېدل

یو کس وویل: چې په قربانۍ کې زما لپاره یوه برخه پرېږدئ! بیا یې پیسې ورنه کړې؛ خو شریکانو یې یوه برخه ده ته پرېښوده. د څاروي د حلالولو وروسته یې وویل چې: زه په دیکښې شریک نه یم: نو ددې د انکار هیڅ اعتبار نشته بلکې د څاروي قیمت به ادا کوي. [۱]

---

[۲] : وَلَوْ اشْتَرَى بَقَرَةً يُرِيدُ أَنْ يُضَحِّيَ بِهَا ثُمَّ أَشْرَكَ فِيهَا.... إِلَّا أَنْ يُرِيدَ حِينَ اشْتَرَاهَا أَنْ يُشْرِكَهُمْ فِيهَا فَلَا يُكْرَهُ ، فتاوى هندية ج: ٥ ص: ٣٠٤، ط: رشيدية ، بدائع ج: ٥ ص: ٧٢، فصلٌ أما جواز إقامة الواجب.

[۳] : وَلَوْ اشْتَرَى بَقَرَةً يُرِيدُ أَنْ يُضَحِّيَ بِهَا، ثُمَّ أَشْرَكَ فِيهَا سِتَّةً يُكْرَهُ وَيُجْزِيهِمْ؛ لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ سَبْعِ شِيَاهٍ حُكْمًا ، هندية ج: ٥ ص: ٣٠٤، ط: رشيدية ، كوئته ، بدائع ج: ٥ ص: ٧٢، ط: سعيد، شامي ج: ٦ ص: ٣١٧.

[۴] : ويظهر أن العارية كالوديعة لكونها مضمونة بالدين، وكذا المشتركة ، الدر مع الرد ج: ٦ ص: ٣٣١، يعني أنها أمانة لظهور أن نصيب شريكه أمانة في يده اهـ ح أي فلا تجزي كالوديعة، ولا يخفى أن المراد شاة واحدة مشتركة، بخلاف شاتين بين رجلين ضحيا بهما فإنه يجوز ، رد المحتار ج: ٦ ص: ٣٣١، ط: سعيد، بدائع ج: ٥ ص: ٧٧، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، هندية ج: ٥ ص: ٣٠٣.

[۱] : فتاوى محمودية ج: ۴ ص: ٢٩٧.

شتمن سړي د قرباني په ورځو کې د قرباني نذر ومنلو

که کوم شتمن سړي د قرباني په ورځو کې د قرباني نذر ومنلو؛ نو په هغه باندې به په اختر کې دوه قرباني لازمې وي. يوه به يې د نذر له وجې لازمه شي او بله به د شتمنۍ له وجې[۲].

په شتمن باندې قرباني واجب ده

په شتمن باندې قرباني واجب ده، ددې په وجوب باندې د سنن ابن ماجه يو روايت دليل دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "مَنْ كَانَ لَهُ سَعَةٌ، وَلَمْ يُضَحِّ، فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا" سنن ابن ماجة ابواب الأضاحي (ټوک: ۱ ـ مخ: ۲۲۲ قديمي کتابتون)

هغه څوک چې (د قرباني کولو) وس لري او قرباني نه کوي هغه دې زموږ عيدګاه ته نږدې نه راځي.

معلومه خبره ده چې د نصاب څښتن شتمن وي، که په يو کور کې دوه ورونه شتمن وي، دوه ورونه به قرباني کوي، که درې ورونه شتمن وي، درې ورونه به قرباني کوي او که څلور ورونه يې شتمن وي؛ نو څلور واړه ورونه به يې قرباني کوي[۱].

---

(۲): وفي الشامية: واعلم أنه قال في البدائع: ولو نذر أن يضحي شاة وذلك في أيام النحر وهو موسر فعليه أن يضحي بشاتين عندنا شاة بالنذر وشاة بإيجاب الشرع ابتداء إلا إذا عنى به الإخبار عن الواجب عليه فلا يلزمه إلا واحدة. رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۰، ۳۳۲، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۳.

(۱): البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۳، كتاب الأضحية، ط: سعيد، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۴، فصل أما شرائط الوجوب، ط: سعيد.

په شريکو روپو باندې مړي ته قرباني کول

د څو شريکانو له لورې په شريکو روپو باندې يوه برخه قرباني کول صحيح نه دي، د جواز صورت يې دا دی چې ټول شريکان دې يو کس ته روپۍ ډالۍ کړي او هغه چې د چا په نوم قرباني کوي د هغه خوښه ده، په دې طريقه به قرباني هم ادا شي او مړي ته به ثواب هم ورسيږي.(۲)

شريکي کاروي

که پلار مړ وي او ورونه ټول يو ځای شريک کار کوي، که د دوی د مال د بشلو وروسته هر يو ته دومره برخه رسيږي چې د نصاب څښتن کرځي، په هر بالغ زوی باندې قرباني ضروري ده، که د يو ورور له

---

(۲): فَلَا تَجُوزُ الشَّاةُ وَالْمَعْزُ إِلَّا عَنْ وَاحِدٍ، وَإِنْ كَانَتْ عَظِيمَةً سَمِينَةً تُسَاوِي شَاتَيْنِ مِمَّا يَجُوزُ أَنْ يُضَحِّيَ بِهِمَا، سمينة. هدية ج: ۵ ص: ۲۹۷، الباب الخامس، په فتاوی رحيمية کې دي: سوال ۸۲، دا چې شپږ کسان په يوه څاروي کې شريکان شي او يوه - يوه برخه قرباني ونيسي، په اومه برخه کې اوه کسان په دې نيت شريکان شوه چې يوه برخه به نبي عليه السلام ته نفلي قرباني کړو. ايا دا قرباني صحيح کيږي او که نه؟

الجواب: (وَإِنْ) (مَاتَ أَحَدُ السَّبْعَةِ) الْمُشْتَرِكِينَ فِي الْبَدَنَةِ (وَقَالَ الْوَرَثَةُ اذْبَحُوا عَنْهُ وَعَنْكُمْ) (صَحَّ) عَنْ الْكُلِّ اسْتِحْسَانًا لِقَصْدِ الْقُرْبَةِ مِنْ الْكُلِّ، وَلَوْ ذَبَحُوهَا بِلَا إِذْنِ الْوَرَثَةِ لَمْ يُجْزِهِمْ. در مختار مع الشامي ج: ۶ ص: ۳۲۶.

د پورته فقهي روايت څخه استحسانا روا والی څرګنديږي. کله چې د اومې برخې څښتن مړ شو. د هغه برخه د هغه وارثانو ته نقل کيږي. که هغوی د قربانی اجازه ورکړي؛ نو قرباني يې صحيح کيږي. دغه راز پورتنۍ مسئله کې هم که شپږ ملګري غونډ شي او اومه برخه نبي کريم ﷺ ته قرباني ورکړي. پکار ده چې صحي شي. د نورو عالمانو څخه يې هم پوښتنه وکړئ ټوک: ۱۰، مخ: ۵۷، کتاب الأضحية. ط: دارالاشاعت. پورته چې کوم حکم ليکل شوی دی هغه قياسي دی او د فتاوی رحيمية خبره د استحسان ده، په دواړو وينااوو کې هيڅ ټکر نشته

لورې قرباني وکړي او پاتې نور وروڼه یې قرباني نه کوي؛ نو په دوی باندې د قربانۍ وجوب پاتې دی [۱] او کوم بچي چې نابالغه دي په هغوی باندې قرباني واجبه نه ده. [۲]

د شراکت د روپو وېش

که په غټ څاروي کې زيات کسان شريکان وي؛ نو هر يو ته د خپلې برخې په اندازه روپۍ ورکول لازم دي، که کوم شريک د بل شريک له خوا زياتي روپۍ ورکوي هم صحيح ده. [۳]

شریکول

د کوم څاروي د اخيستلو پرمهال يې د نورو شريکانو د پيدا کولو نيت کړی ؤ يا يې نه ؤ کړی، په دواړو حالتونو کې که اخيستونکی شتمن وي؛ نو بل کس شريکولای شي. [۱]

---

(۱) : وَمِنْ الْجَائِزِ أَنْ يَسْتَغْرِقَ الْوَاجِبُ جَمِيعَ مَالِهِ فَيُؤَدِّي إلَى الْحَرَجِ فَلَا بُدَّ مِنْ اعْتِبَارِ الْغِنَى وَهُوَ أَنْ يَكُونَ فِي مِلْكِهِ مِائَتَا دِرْهَمٍ أَوْ عِشْرُونَ دِينَارًا أَوْ شَيْءٌ تَبْلُغُ قِيمَتُهُ ذَلِكَ سِوَى مَسْكَنِهِ وَمَا يَتَأَثَّثُ بِهِ وَكِسْوَتِهِ وَخَادِمِهِ وَفَرَسِهِ وَسِلَاحِهِ وَمَا لَا يَسْتَغْنِي عَنْهُ الخ... بدائع ج: ۵ ص: ۶۴، كتاب الأضحية، فصلٌ أما شرائط الوجوب، ط: سعيد، تجب على حر مسلم موسرٍ مقيمٍ عن نفسه، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۳، هندية ج: ۵ ص: ۱۹۲.

(۲) : وشرائطها أى شرائط وجوبها ولم يذكر الحرية.... ولا العقل والبلوغ لما فيهما من الخلاف، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۲، ط: سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۱۹۲، الباب الأول.

(۳) : وَإِنْ كَانُوا كِبَارًا إنْ فَعَلَ بِأَمْرِهِمْ جَازَ عَنْ الْكُلِّ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى، وَإِنْ فَعَلَ بِغَيْرِ أَمْرِهِمْ أَوْ بِغَيْرِ أَمْرِ بَعْضِهِمْ لَا تَجُوزُ عَنْهُ وَلَا عَنْهُمْ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا؛ شامي ج: ۶ ص: ۳۱۵، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۸، ط: سعيد.

(۱) : وَلَوْ اشْتَرَى بَقَرَةً يُرِيدُ أَنْ يُضَحِّيَ بِهَا، ثُمَّ أَشْرَكَ فِيهَا سِتَّةً يُكْرَهُ وَيُجْزِيهِمْ؛ لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ سَبْعِ شِيَاهٍ حُكْمًا، إلَّا أَنْ يُرِيدَ حِينَ اشْتَرَاهَا أَنْ يُشْرِكَهُمْ فِيهَا فَلَا يُكْرَهُ، وَإِنْ فَعَلَ ذَلِكَ قَبْلَ أَنْ يَشْتَرِيَهَا كَانَ أَحْسَنَ، وَهَذَا إذَا كَانَ مُوسِرًا، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، الباب الثامن، ط: رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۷، ط: سعيد.

که اخیستونکی غریب وي، بیا یې که د اخیستلو پرمهال د نورو شریکانو نیت کړی وي؛ خو قرباني یې صحیح ده او که د اخیستلو پرمهال یې د نورو شریکانو پیدا کولو نیت نه ؤ کړی بیا بل کس نه شي شریکولای.[۲]

د شیعه د لاس حلاله

شیعه نه مسلمان دی او نه کتابي دی، ددې وجې دده په لاس د حلال شوي پسه غوښه ناپاکه ده، [۳] واضحه دې وي چې اثنا عشریه شیعه ډله د قرآن د تحریف، د امامانو د معصومیت، د تقیې، متعې او د درې صحابه کرامو پرته د دوی عقیده ده چې نور صحابه مرتد شوي وو، دوی د داسې عقیدو خپلولو له وجې د اسلام د دایرې څخه وتلي خلک دي، د زیات تفصیل لپاره د بینات میاشتیني مجلة د شیعه په هکله لیکل شوې ګڼه وګورئ، په هغې کې مو خبره د دلائلو په رڼا کې ښه روښانه کړې ده.[۱]

دغه حکم د اغاخانیانو او بوهري ډلو هم دی.

[۲] : وَإِنْ كَانَ فَقِيرًا مُعْسِرًا فَقَدْ أَوْجَبَ بِالشِّرَاءِ فَلَا يَجُوزُ أَنْ يُشْرِكَ فِيهَا، وَكَذَا لَوْ أَشْرَكَ فِيهَا سِتَّةً بَعْدَ مَا أَوْجَبَهَا لِنَفْسِهِ لَمْ يَسَعْهُ؛ لِأَنَّهُ أَوْجَبَهَا كُلَّهَا لِلَّهِ تَعَالَى، وَإِنْ أَشْرَكَ جَازَ، وَيَضْمَنُ سِتَّةَ أَسْبَاعِهَا، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، ط: رشيدية ، الباب الثامن، فيما يتعلق بالشركة ، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۷.

[۳] : (وَمِنْهَا) أَنْ يَكُونَ مُسْلِمًا أَوْ كِتَابِيًّا فَلَا تُؤْكَلُ ذَبِيحَةُ أَهْلِ الشِّرْكِ وَالْمُرْتَدِّ؛ لِأَنَّهُ لَا يُقَرُّ عَلَى الدِّينِ الَّذِي انْتَقَلَ إِلَيْهِ، ، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۵، ط: رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۲۹۶،البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۶۸، بدائع ج: ۵ ص: ۴۵، فصلٌ أما بيان شرط حل الأكل في الحيوان، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۰۷، ط: رشيدية.

[۱] : بینات میاشتینیمجله تو‌ک: ۵۰، جمادی الأولی، خانګړی چاپ نمبر : ۱۴۰۸ هـ ۱۹۸۸ ء

د شیعه شراکت

شیعه کافر دی، که چا هم په څاروي کې له ځانه سره شریک کړ، قرباني یې نه صحیح کیږي [۲]

د شا لورې حلالول

د شا له لورې د څاروي حلالول منع دي.

کوم څاروی چې د شا له لورې حلال شي د عبد الله ابن عباس رضي الله عنه په نزد پاک نه دی. [۳]

(ښ)

ښېنګړي

د ښېنګړي خوړل صحیح دي، ځکه چې دا د حرامو شیانو څخه نه دی [۱]

په ښځه باندې قرباني واجب ده

که هوښیاره، بالغه او مقیمه ښځه د نصاب څښتنه وي، یا د هغې په ملکیت کې د اړتیا پرته دومره توکي وي چې د نصاب حد (دوه پنځوس نیمې تولې سپینو زرو) ته رسیږي؛ نو په هغې باندې قرباني

---

[۲]: د تفصیل لپاره د بینات خانګړې مجله د شیعه کانو شمېره وګورئ، احسن الفتاوی ج: ۷ ص: ۵۰۹.

[۳]: وَإِذَا ذَبَحَ الشَّاةَ مِنْ قِبَلِ الْقَفَا، فَإِنْ قَطَعَ الْأَكْثَرَ مِنْ هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ قَبْلَ أَنْ تَمُوتَ حَلَّتْ، وَإِنْ مَاتَتْ قَبْلَ قَطْعِ الْأَكْثَرِ مِنْ هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ لَا تَحِلُّ، وَيُكْرَهُ هٰذَا الْفِعْلُ؛ لِأَنَّهُ خِلَافُ السُّنَّةِ، وَفِيهِ زِيَادَةُ إِيلَامٍ. فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷، كتاب الذبائح، الباب الأول، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، كتاب الذبائح، ط: سعيد.

[۱]: (كره تحريما) وقيل تنزيها والأول أوجه (من الشاة سبع الحياء والخصية والغدة والمثانة والمرارة والدم المسفوح والذكر) (شامي ج: ۶ ص: ۷۴۹، مسائل شتى ط: سعيد.)

واجب ده.[۲]

د ښځې حلاله

ښېشکه د مسلمانې ښځې د لاس حلال شوی څاروی پاک دی، ددې غوښې خوړل حلال دي؛ [۳]خو دا چې ښځې په دې کار کې يو څه بې زړه دي، د زړه د کمزورتيا له امله چاره نه شي چلولی، ددې وجې د سختې اړتيا پرته دې دا کار ښځو نه نه پرېږدي.[۴]

ښادي (واده)

څينو د ښادۍ او څينو د قربانۍ نيت په يو څاروي کې وکړو، شرعاً په دې کې هيڅ کومه خبره نشته.

د مسنونې وليمې په نيت باندې د يو شريک قربانۍ هم نه خرابيږي.[۱]

---

[۲] : (وأما شرائط الوجوب) منها اليسار وهو ما يتعلق به وجوب صدقة الفطر دون ما يتعلق بـه وجوب الزكاة ، هندية ، كتاب الأضحية، ج: ۵ ص: ۲۹۲، ط: رشيدية، شـامي ج: ۶ ص: ۳۱۲، ط: سعيد، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۴، ط: سعيد.

[۳] : في الهندية : والمرأة المسلمة والكتابية في الذبح كالرجلِ، ج: ۵ ص: ۲۸۶، البحـر ج: ۸ ص: ۱۶۸، فتح القدير ج: ۸ ص: ۲۰۷، ط: رشيدية.

[۴] : فيه أيضاً : والحاصل أنْ كل ما فيه زيادة ألمٍ لايحتاج إليه في الزكاةِ مكروهٌ ، كـذا في الكـافي، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۸.

[۱] : وَلَوْ أَرَادُوا الْقُرْبَةَ – الْأُضْحِيَّةَ أَوْ غَيْرَهَا مِنْ الْقُرَبِ – أَجْزَأَهُمْ سَوَاءٌ كَانَتْ الْقُرْبَـةُ وَاجِبَـةً أَوْ تَطَوُّعًا... وَسَوَاءٌ اتَّفَقَتْ جِهَاتُ الْقُرْبَةِ أَوْ اخْتَلَفَتْ .. كَذا إذَا أَرَادَ أَحَدُهُمْ الْوَلِيمَـةَ – وَهِـيَ ضِيَافَةُ التَّزْوِيجِ – وَيَنْبَغِي أَنْ يَجُوزَ؛ لِأَنَّهَا إنَّمَا تُقَامُ شُكْرًا لِلَّهِ تَعَالَى – عَزَّ شَأْنُهُ – عَلَى نِعْمَةِ النِّكَاحِ وَقَدْ وَرَدَتْ السُّنَّةُ بِذَلِكَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – أَنَّهُ قَالَ «أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ» فَإِذَا قَصَدَ بِهَا الشُّكْرَ أَوْ إقَامَةَ السُّنَّةِ فَقَدْ أَرَادَ بِهَا التَّقَرُّبَ إلَى اللَّهِ – عَزَّ شَأْنُهُ – بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۷۱، ۷۲، فصلٌ في شرائط جواز إقامة الواجب. ط: سعيد، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، الباب الثامن فيما يتعلـق

ښکر

د کوم څاروي ښکر چې پيدايشي نه وي، يا وي خو مات شوى وي قرباني يې صحيح ده؛[۲] خو که ښکر يې له بېخه مات شوى وي بيا يې قرباني نه صحيح کيږي.[۳]

که د ښکر د پاسه خول يې لوېدلى وي بيا يې قرباني صحيح ده.[۴]

که ښکر يې داسې مات شوى وي چې اثر يې دماغو ته رسېدلى وي؛ نو قرباني کول يې صحيح نه دي.[۱]

(ص)

د غوښې دريمه صدقه کول

د غوښې دريمه يعنې (۱/۳) برخه صدقه کول مستحب دي، که د چا

بالشركة في الضحايا ، ط: رشيدية، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۷، ط: سعيد، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد.

[۲] : وَيَجُوزُ بِالْجَمَّاءِ الَّتِي لَا قَرْنَ لَهَا، وَكَذَا مَكْسُورَةُ الْقَرْنِ، كَذَا فِي الْكَافِي. فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳.

[۳] : وَإِنْ بَلَغَ الْكَسْرُ الْمُشَاشَ لَا يُجْزِيهِ، وَالْمُشَاشُ رُءُوسُ الْعِظَامِ مِثْلُ الرُّكْبَتَيْنِ وَالْمِرْفَقَيْنِ، كَذَا فِي الْبَدَائِعِ. فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب، ط: رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶، أما الذي يرجع إلى محل التضحية، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۴، ط: رشيدية.

[۴] : وَيَجُوزُ بِالْجَمَّاءِ هي الَّتِي لَا قَرْنَ لَهَا خلقةً ، وَكَذَا الْعَظْمَاءُ الَّتِي ذَهَبَ بَعْضُ قَرْنِهَا بِالْكَسْرِ أَوْ غَيْرِهِ، فَإِنْ بَلَغَ الْكَسْرُ إِلَى الْمُخِّ لَمْ يَجُزْ. شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۴، ط: رشيدية.

[۱] : وَإِنْ بَلَغَ الْكَسْرُ الْمُشَاشَ لَا يُجْزِيهِ، وَالْمُشَاشُ رُءُوسُ الْعِظَامِ مِثْلُ الرُّكْبَتَيْنِ وَالْمِرْفَقَيْنِ. فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، ط: رشيدية، الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳.

اولادونه ډېر وي ښه دا ده چې صدقه يې نه کړي، ټوله غوښه دې خپلو اولادونو لپاره وساتي.[۲]

صدقه فطر واجب ده، قرباني هم واجب ده

په چا باندې چې صدقه فطر ورکول واجب دي په هغه باندې د لوی اختر په ورځ قرباني هم واجب ده او که دومره مال ورسره نه وي چې صدقه فطر ترې وکړي؛ نو په هغه باندې قرباني هم واجب نه ده، که بيا هم قرباني وکړي؛ نو ثواب به ورته رسيږي.[۳]

په صدقه کولو سره قرباني نه ادا کيږي

په کوم سړي يا ښځې چې قرباني واجب وي. په هغه باندې ضروري ده چې د قربانۍ په درې ورځو کې څاروی حلال کړي، د قيمت په صدقه کولو يا کوم بل نېک کار کولو سره د قربانۍ ذمه واري نه ادا کيږي. په صدقې کولو سره به ورته د صدقې ثواب ورسيږي؛ خو د

---

(۲) : الأفضلُ أنْ يتصدق بثلث الأضحية ، فتاوى سراجية ، ص: ۳۱۵، باب ما يفعل بالأضحية بعد الذبح، والأفضل أنْ يتصدق بالثلث . (بدائع ج: ۵ ص: ۸۱، ط: سعيد. هنديـة ج: ۵ ص: ۳۰۰، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۸، وَالتَّصَدُّقُ أَفْضَلُ إلَّا أنْ يَكُونَ الرَّجُلُ ذَا عِيَالٍ وَغَيْرَ مُوَسَّعِ الْحَالِ فإنَّ الْأَفْضَلَ لَهُ حِينَئِذٍ أنْ يَدَعَهُ لِعِيَالِهِ وَيُوسِعَ بِهِ عَلَيْهِمْ. (بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۸۱، فصلٌ أما بيان ما يستحب قبل التضحية ، ط: سعيد ، أما التصدق باللحم، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۸، هنديـة ج: ۵ ص: ۳۰۰، الباب الخامس)

(۳) : في البحر: وَلَمْ تجبُ إلَّا بِملْكِ النِّصَابِ فَدَلَّ أنَّ وُجُوبَهَا بِالْقُدْرَةِ الْمُيَسِّرَةِ لأنَّ اشْتِرَاطَ النِّصَابِ لَا يُنَافِي وُجُوبَهَا بِالْمُمْكِنَةِ كَمَا فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ (البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴، ط: ايچ ، ايم ، سعيد، وفي تنوير الأبصار : وشرائطها: الإسلام والإقامة واليسار الذي يتعلق به) وجوب (صدقة الفطر ، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۲، ط: ايچ ، ايم ، سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲، ط: رشيدية.)

قرباني د پاتې کېدو ګناه به ورباندې پاتې وي.[۱]

(ظ)

ظاهري ناروغي

د کوم څاروي ناروغي چې څرګنده وي د هغه قرباني نه صحيح کيږي.[۲]

(ع)

عرفه

د عرفې ورځ يوه ده، د ذي الحجې نهم تاريخ د عرفې ورځ ده.[۳]

عضو تناسل

د حلال شوي څاروي عضو تناسل خوړل مکروه تحريمي دي او د ژوندي څاروي عضو تناسل خوړل حرام دي.[۱]

---

(۱): (وَمِنْهَا) أَنْ لَا يَقُومَ غَيْرُهَا مَقَامَهَا حَتَّى لَوْ تَصَدَّقَ بِعَيْنِ الشَّاةِ أَوْ قِيمَتِهَا فِي الْوَقْتِ لَا يُجْزِيهِ عَنْ الْأُضْحِيَّةِ؛ لِأَنَّ الْوُجُوبَ تَعَلَّقَ بِالْإِرَاقَةِ وَالْأَصْلُ أَنَّ الْوُجُوبَ إذَا تَعَلَّقَ بِفِعْلٍ مُعَيَّنٍ أَنَّهُ لَا يَقُومُ غَيْرُهُ مَقَامَهُ كَمَا فِي الصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ وَغَيْرِهِمَا، بدائع ج: ۵ ص: ۶۶، فصلٌ أما كيفية الوجوب، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۰.

(۲): لا تجوز التضحية بالمريضة البين مرضها ، الدر مع الر، كتاب الأضحية، ج: ۶ ص: ۳۲۳، ط: سعيد.

(۳): وفي البدائع : إلَّا أَنَّهُ لَمْ يَدْخُلْ فِيهَا اللَّيْلَةَ الْعَاشِرَةُ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ؛ لِأَنَّهُ اسْتَتْبَعَهَا النَّهَارُ الْمَاضِي وَهُوَ يَوْمُ عَرَفَةَ، بِدَلِيلِ أَنَّ مَنْ أَدْرَكَهَا فَقَدْ أَدْرَكَ الْحَجَّ، كَمَا لَوْ أَدْرَكَ النَّهَارَ وَهُوَ يَوْمُ عَرَفَةَ . ج: ۵ ص: ۷۵، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب. ط: سعيد.

(۱): (كره تحريما) وقيل تنزيها والأول أوجه (من الشاة سبع الحياء والخصية والغدة والمثانة والمرارة والدم المسفوح والذكر) للأثر الوارد في كراهة ذلك . (شامي ج: ۶ ص: ۷۴۹، مسائل شتى ط: سعيد.)

د عقیقه ګوونګي سره شراکت

په لوی څاروي کې د عقیقې په نیت ډېری کسان شریکېدای شي، په دې شرط چې ټولو شریکانو د عقیقې یا قربانۍ نیت کړی وي.[۲]

په لوی څاروي کې ځینې کسان د قربانۍ او ځینې د عقیقې په نیت شریکېدای شي.[۳]

په لوی څاروي کې د عقیقې په نیت د قربانۍ په حیوان کې شریکېدلو سره د هیچ چا قرباني نه خرابیږي.[۴]

عمر او غاښونه

د قربانۍ د څاروي د اخیستلو پرمهال ځینې خلک د څاروي غاښونه ګوري، که غاښونه یې وي؛ نو اخلي یې او که غاښونه یې نه وي بیا یې نه اخلي، دا په داسې حال کې چې په شریعت کې د غاښونه هیڅ اعتبار نشته بلکې عمر ته به یې کتل کیږي، ددې تفصیل "د څاروي د عمر" تر عنوان لاندې راځي.[۱]

د مفتي کفایت الله رحمه الله رایه دا ده چې د قربانۍ د څاروي عمرونه ټاکل شوي دي؛ خو دا چې زیاتره خلکو ته د عمر معلومات نه وي؛

---

[۲] : في الهندية : وَكَذَلِكَ إِنْ أَرَادَ بَعْضُهُمْ الْعَقِيقَةَ عَنْ وَلَدٍ وُلِدَ لَهُ، ج: ۵ ص: ۳۰۴، ط: رشيدية، كذا في الشامية ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، بدائع ج: ۵ ص: ۷۲.

[۳] : في الهندية : وَلَوْ أَرَادُوا الْقُرْبَةَ - الْأُضْحِيَّةَ أَوْ غَيْرَهَا مِنْ الْقُرَبِ - أَجْزَأَهُمْ سَوَاءٌ كَانَتْ الْقُرْبَةُ وَاجِبَةً أَوْ تَطَوُّعًا أَوْ وَجَبَ عَلَى الْبَعْضِ دُونَ الْبَعْضِ، ج: ۵ ص: ۳۰۴، فيه ايضاً ، وكـذلک إن أراد بعضهم العقيقة عن ولد . الخ... ج: ۵ ص: ۳۰۴.

[۴] : پورتنی حاله، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۶، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، بدائع ج: ۵ ص: ۷۲.

[۱] : في الهندية : إنّ الفقهاءَ قالوا: الجذعُ من الغنم ستة أشهر والثني ابنُ ستةٍ الخ.... ج: ۵ ص: ۲۹۷، ط: رشيدية ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۰، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب.

نو عالمانو د احتیاط او اسانتیا له وجې په دې باندې قول کړی دی چې د څاروي غاښونه دې وکتل شي، غاښونه داسې نښه ده چې په دې کې کم عمر څاروي نه راځي، بلکې د زیات عمر څاروي راتلل یقیني امکان لري او په دې کې هیڅ خبره نشته؛ نو د همدې له امله که د چا په کور کې په لومړي ذي الحجه یوه بزه پیدا شوه؛ نو د راتلونکي کال په لسمه د ذي الحجې به د هغې عمر یو کال او نهه ورځې شي، پس ددې څاروي قرباني صحیح ده. ځکه چې ددې څاروي یقینا یو کال اته ورځې یا نهه ورځې پوره شوي دي، اوس که ددې څاروي پاخه غاښونه نه وي راختلي بیا یې هم قرباني صحیح ده: خو دومره ده چې ددې نه هیڅوک دا حکم نه ورکوي چې د هر بې غاښه څاروي قرباني صحیح ده. که د عمر څخه پوره وي او که کم وي زما په اند صحیح خبره دا ده چې د "مسنة" نه مراد یو کلن او غاښونو والا دواړه کېداي شي؛ خو دا چې یو څاروی پوره یو کلن وي او د هغه عمر معلوم نه وي یا یې په عمر کې شک وي، تر څو پورې چې یې دواړه غاښونه نه وي راختلي، هغه ته یو کلن نه شو ویلی، ددې وجې عام حکم همدا ورکول پکار دی او زموږ په همدې باندې فتوی ده. (کفایت المفتي ټوک: ۸ مخ: ۲۱۷ ط: دار الاشاعت)

د څاروي عمر

د قرباني د څارویو لپاره عمرونه ټاکل شوي دي، که د یاد څارویو عمرونه له ټاکل شویو عمرونو لږ وي، قرباني کول یې صحیح نه دي.

وزه يو کلنه وي.[۱]

غوا، غويي، مېښه دوه کلنه وي.[۲]

اوښ پنځه کلن وي.[۳]

که ورى د شپږو مياشتو وي؛ خو دومره غوښن او چاغ وي چې په يو کلن وريو کې خوشې کړل شي، له هغوى سره يې توپير ونه شي، قرباني کول يې صحيح دي او که دغه څاروى له شپږو مياشتو د لږ عمر وي، که هر څومره غوښن او چاغ وي، قرباني کول يې صحيح نه دي. له يو کلنې څخه د لږ عمر څارويو قرباني کولو حکم يوازي په وريو کې دى.[۴]

که د مرغومي د يو کلن کېدو لپاره نيمه ورځ هم پاتې وي، قرباني

---

(۱) : وحول من الشاة، الدر مع الـرد ج: ۶ ص: ۳۲۲، هنديـة ج: ۵ ص: ۲۹۷، البـاب الخامس، بدائع ج: ۵ ص: ۷۰، فصلٌ أما محل إقامة الواجب، ط: سعيد، والثني من الضأن والمعز ابن سنة، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، ط: سعيد،

(۲) : ومن البقر ابن سنتين. (البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، بدائع ج: ۵ ص: ۷۰، وحولين من البقر والجاموس، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۲.)

(۳) : وهو ابن خمسٍ من الإبل. (الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۲، بدائع ج: ۵ ص: ۷۰، ومـن الإبل ابنُ خمس سنين، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، وفي البدائع تقـدير هـذه الأسنانِ بما ذكر لمنع النقصان لاالزيادة فلو ضحى بسنٍ أقل لا يجوز، ردالمحتار ج: ۶ ص: ۳۲۲، بدائع ج: ۵ ص: ۷۰. فصلٌ أما محل إقامة الواجب، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، الباب الخامس.)

(٤) : وقالوا: هذا إذا كَانَ الْجَذَعُ عَظِيمًا بِحَيْثُ لَوْ خُلِطَ بِالثَّنِيَّاتِ لَيَشْتَبِهُ عَلَى النَّاظِرِينَ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۵، كتاب الأضحية ط: رشيدية، وَالْجَذَعُ مِنْ الضَّأْنِ مَا تَمَّتْ لَهُ سِتَّةُ أَشْهُرٍ عِنْدَ الْفُقَهَاءِ البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، ش: سعيد، فَلَوْ صَغِيرَ الْجُثَّةِ لَا يَجُوزُ إلَّا أَنْ يَتِمَّ لَـهُ سَنَةٌ وَيَطْعَن فِي الثَّانِيَةِ. (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۲، ط: سعيد.)

کول يې صحيح نه دي.[۱]

که د کوم څاروي د عمر پوره کېدو ګومان غالب وي، قرباني کول يې صحيح دي، که کوم څاروی په کتلو د تاکل شوي عمر ښکارېده؛ خو دا معلومه وي چې عمر يې له تاکلي عمر څخه لږ دی، قرباني کول يې صحيح نه دي.[۲]

که کوم څاروی په کتلو د لږ عمر ښکارېده؛ خو دا معلومه وي چې عمر يې پوره دی، قرباني کول يې صحيح دي.[۳]

عيب لرونکی څاروی

د عيب لرونکي څاروي قرباني روا نه ده؛[۴] خو که د حلالې پرمهال د خوځېدو او پرېوتو له وجې زخمي شي بيا خير دی.[۱]

---

(۱): وفي البدائع: تقدير هذه الأسنان بما ذكر لمنع النقصان لا الزيادة، فلو ضحى بسن أقل لا يجوز، وبأكبر يجوز وهو أفضل. (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۲، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، بدائع ج: ۵ ص: ۷۹، فصل أما محل إقامة الواجب.)

(۲): (و) صح (الثني) فصاعدا من الثلاثة والثني (هو ابن خمس من الإبل، وحولين من البقر والجاموس، وحول من الشاة)، (الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۲، (قوله إن كان الخ ...) فلو صغير الجثة لا يجوز إلا أن يتم له سنة ويطعن في الثانية ... وفي البدائع: تقدير هذه الأسنان بما ذكر لمنع النقصان لا الزيادة، فلو ضحى بسن أقل لا يجوز، وبأكبر يجوز وهو أفضل. (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۲، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، الباب الخامس.)

(۳): فلو صغير الجثة لا يجوز إلا أن يتم له سنة ويطعن في الثانية (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۲، ط: سعيد.

(۴): في الهندية: وأما صفته فهو أن يكون سليما من العيوب الفاحشة، كذا في البدائع الخ... ج: ۵ ص: ۲۹۷، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۷۵، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳.

(۱): ولو قدم أضحية ليذبحها فاضطربت في المكان الذي يذبحها فيه فانكسرت رجلها ثم ذبحها على مكانها أجزاه الخ... هندية: ج ۵ ص: ۲۹۹، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۵.

عیب داره شي

که شتمن سړی د قرباني په نیت څاروی واخلي، هغه څاروی وروسته عیب داره شو؛ نو په شتمن سړي باندې ضروري ده چې بې عیبه څاروی قرباني کړي.[۲]

که غریب سړی د قرباني په نیت څاروی واخلي. بیا هغه څاروی عیب داره شي؛ نو د غریب سړي لپاره د دغه څاروي قرباني صحیح ده، د غریب لپاره بل څاروی اخیستل ضروري نه دي.[۳]

که کوم کس د قرباني لپاره بې عیبه څاروی واخیست؛ خو وروسته پکښې داسې عیب راووت چې د هغه قرباني نه صحیح کیده؛ نو که دا قرباني د نذر وي ددې په ځای د بې عیبه څاروي قرباني کول ضروري دي، برابره خبره ده چې قرباني کوونکی سړی شتمن وي او که غریب وي او که قرباني د نذر نه وي؛ نو په غریب باندې د همدې عیب داره څاروي قرباني کول صحیح دي او په امیر باندې د بل بې عیبه څاروي قرباني ضروري ده.[۱]

که حلالي ته د تیارولو پرمهال کوم عیب پکښې پیدا شي، د ښلګې

---

(۲) : (وَلَوْ) (اشْتَرَاهَا سَلِيمَةً ثُمَّ تَعَيَّبَتْ بِعَيْبٍ مَانِعٍ) كَمَا مَرَّ (فَعَلَيْهِ إقَامَةُ غَيْرِهَا مَقَامَهَا إنْ) كَانَ (غَنِيًّا، وَإِنْ) كَانَ (فَقِيرًا أَجْزَأَهُ ذَلِكَ) وَكَذَا لَوْ كَانَتْ مَعِيبَةً وَقْتَ الشِّرَاءِ لِعَدَمِ وُجُوبِهَا عَلَيْهِ بِخِلَافِ الْغَنِيِّ، شامي ج: ۶ ص: ۲۰۷، هندیة ج: ۵ ص: ۲۹۹، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب.

(۳) : أيضاً.

(۱) : وَلَوْ اشْتَرَى رَجُلٌ أُضْحِيَّةً وَهِيَ سَمِينَةٌ فَعَجِفَتْ عِنْدَهُ حَتَّى صَارَتْ بِحَيْثُ لَوْ اشْتَرَاهَا عَلَى هَذِهِ الْحَالَةِ لَمْ تُجْزِئْهُ إنْ كَانَ مُوسِرًا، وَإِنْ كَانَ مُعْسِرًا أَجْزَأَتْهُ إذْ لَا أُضْحِيَّةَ فِي ذِمَّتِهِ، فَإِنْ اشْتَرَاهَا لِلْأُضْحِيَّةِ فَقَدْ تَعَيَّنَتْ الشَّاةُ لِلْأُضْحِيَّةِ حَتَّى لَوْ كَانَ الْفَقِيرُ أَوْجَبَ عَلَى نَفْسِهِ أُضْحِيَّةً لَا تَجُوزُ هَذِهِ، الهندیة ج: ۵ ص: ۲۹۹، بدائع ج: ۷۶، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷.

په ډول: پښه يې خوږه شي يا يې سترګه زخمي شي؛ نو په دې کښې هيڅ خبره نه ده، ددې څاروي قرباني صحيح ده.[۲]

د عيسايي د لاس حلاله

د يهودو د لاس د حلالې تر عنوان لاندې يې وګورئ!

(غ)

غريب د قربانۍ کولو وروسته شتمن شو

کوم غريب چې په خپله خوښه قرباني وکړي، تر دې وروسته د قربانۍ په ورځو کې هغه شتمن شو، نو اوس په هغه باندې دويمه قرباني واجب ده.[۳]

غريب د قربانۍ په ورځو کې شتمن شو

که کوم غريب انسان د ذي الحجې په دولسم تاريخ د لمر ډوبېدو نه وړاندې شتمن شو؛ نو په هغه باندې قرباني واجب ده.[۱]

---

[۲] : وَلَوْ قَدَّمَ أُضْحِيَةً لِيَذْبَحَهَا فَاضْطَرَبَتْ فِي الْمَكَانِ الَّذِي يَذْبَحُهَا فِيهِ فَانْكَسَرَتْ رِجْلُهَا، ثُمَّ ذَبَحَهَا عَلَى مَكَانِهَا أَجْزَأَهُ، ج: ۵ ص: ۲۹۹، ط: رشيدية ، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۵، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، ط: سعيد.

[۳] : وَعَلَى هَذَا يَخْرُجُ مَا إِذَا لَمْ يَكُنْ أَهْلًا لِلْوُجُوبِ فِي أَوَّلِ الْوَقْتِ، ثُمَّ صَارَ أَهْلًا فِي آخِرِهِ، بِأَنْ كَانَ كَافِرًا أَوْ عَبْدًا أَوْ فَقِيرًا أَوْ مُسَافِرًا فِي أَوَّلِ الْوَقْتِ، ثُمَّ صَارَ أَهْلًا فِي آخِرِهِ فَإِنَّهُ يَجِبُ عَلَيْهِ... وَلَوْ ضَحَّى فِي أَوَّلِ الْوَقْتِ وَهُوَ فَقِيرٌ فَعَلَيْهِ أَنْ يُعِيدَ الْأُضْحِيَةَ وَهُوَ الصَّحِيحُ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۳، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴، بدائع ج: ۵ ص: ۶۵.

[۱] : وَلَا يُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ غَنِيًّا فِي جَمِيعِ الْوَقْتِ حَتَّى لَوْ كَانَ فَقِيرًا فِي أَوَّلِ الْوَقْتِ، ثُمَّ أَيْسَرَ فِي آخِرِهِ تَجِبُ عَلَيْهِ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲. ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۶۴، فصل أما شرائط الوجوب، ط: سعيد.

غوره عمل

عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ قَالَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا عَمِلَ ابنُ آدَمَ مِنْ عَمَلٍ يَوْمِ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ، وَإِنَّهُ لَيَأْتِي يَوْمَ القِيَامَةِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلَافِهَا، وَأَنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ مِنَ الأَرْضِ، فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا. (2)

ژباړه: د عایشې رضي الله عنها روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د ذي الحجې په لسمه الله تعالی ته د ادم علیه السلام په اولاد کې د قربانۍ کولو نه بل غوره عمل نشته، د قیامت په ورځ به د قربانۍ خاروی د خپلو ښکرونو، وېښتو او ښپنګرو سره ژوندی راپورته شي. د قربانۍ د خاروي وینه په ځمکه باندې د لوېدو وړاندې د الله تعالی د رضا او مقبولیت ځای ته ځان رسوي، نو اې د خدای بندګانو! د زړه په خوشحالۍ سره قربانۍ وکړئ!

غریب خاروی واخیست

کوم غریب سړی چې د قربانۍ لپاره خاروی واخلي؛ نو په هغه باندې د همدې خاروي قرباني کول واجب دي. [۳]

غریب د قربانۍ لپاره خاروی واخیست

کوم کس چې غریب وي په هغه باندې قرباني واجب نه ده او هغه د

---

[۲] : رواه الترمذي ج: ۱ ص: ۲۷۵، أبواب الأضاحي باب ما جاء في أفضل الأضحية، ط: سعيد، مشكاة المصابيح ص: ۱۲۸، الفصل الثاني، ط: قديمي كتب خانه.

[۳] : وفقير شراها لها لوجوبها عليه بذلك حتى يمتنع عليه بيعها (الدر المختار مع الرد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۱، وفي الشامية: لأنّ شراءه يجري مجرى الإيجاب وهو النذر بالتضحية عرفاً. ج: ۶ ص: ۳۲۱).

قرباني په نيت څاروی وپلورلو؛ نو د همدې څاروي قرباني په ده باندې واجب ده،[۱] که دده دغه څاروی مړ شي يا ورک شي: نو وجوب هم دده نه ساقط شو. په هغه باندې دويمه قرباني واجب نه ده.[۲] که غريب سړي د لومړي څاروي د ورکېدو وروسته دويم څاروی واخيست، بيا دويم هم ورته پيدا شو؛ نو په هغه باندې د دواړو څارويو قرباني کول واجب دي، ځکه چې غريب سړی د قرباني په نيت باندې څومره څاروي اخلي هغه ټول به قرباني کوي.[۳]

په ترازو باندې د غوښې وېش

که په غټ څاروي کې اوه کسان شريکان وي: نو غوښه دې په ترازو ووېشي، په اندازه او اټکل دې نه وېشي. کنه نو د ځينو برخه به زياته او د ځينو نورو به کمه شي او خبره به سود ته لاړه شي او دا ګناه ده؛[۴] خو که د غوښې سره يو خواته سر، پښې او څرمن وي او بل لور ته خالي غوښه وي؛ نو کوم لورې ته چې ياد شيان وي که

---

(۱): أيضاً.

(۲): والفقير لو سرق شاته ولم يشتر أخرى ليس عليه أخرى والغني يجب عليه أخرى لأنّ الوجوب على الفقير بالشراء والشراء يتناول حقه المعين فوجب التضحية به، فسقط والواجب هلاک المعين، خلاصة الفتاوىٰ، ج: ۴ ص: ۳۱۸، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵، ط: سعيد.

(۳): وَإِذَا اشْتَرَى الْغَنِيُّ أُضْحِيَةً فَضَلَّتْ فَاشْتَرَى أُخْرَى، ثُمَّ وجد الْأُولَى فِي أَيَّامِ النَّحْرِ كَانَ لَهُ أَنْ يُضَحِّيَ بِأَيَّتِهِمَا شَاءَ، وَلَوْ كَانَ مُعْسِرًا فَاشْتَرَى شَاةً وَأَوْجَبَهَا ثُمَّ وجد الْأُولَى قَالُوا: عَلَيْهِ أَنْ يُضَحِّيَ بِهِمَا، الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۴، ط: رشيدية، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۵، بدائع ج: ۵ ص: ۶۶، فصلٌ أما كيفية الوجوب، ط: سعيد.

(۴): وَيُقْسَمُ اللَّحْمُ وَزْنًا (قَوْلُهُ لَا جُزَافًا) لِأَنَّ الْقِسْمَةَ فِيهَا مَعْنَى الْمُبَادَلَةِ. وَلَوْ حَلَّلَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا قَالَ فِي الْبَدَائِعِ: أَمَّا عَدَمُ جَوَازِ الْقِسْمَةِ مُجَازَفَةً فَلِأَنَّ فِيهَا مَعْنَى التَّمْلِيكِ وَاللَّحْمُ مِنْ أَمْوَالِ الرِّبَا فَلَا يَجُوزُ تَمْلِيكُهُ مُجَازَفَةً. الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۱۷، بدائع ج: ۵ ص: ۶۷، فصلٌ أما كيفية الوجوب، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴، ط: سعيد.

غوښه پکښې هر څومره کمه وي بيا هم وېش صحيح دی.[۱]

که ټول شريکان يو ځای ژوند کوي او يو ځای خوراک کوي بيا په ترازو باندې وېشلو ته هيڅ اړتيا نشته.[۲]

که د قرباني ټول شريکان په دې باندې خوښ وي چې غوښه دې نه وېشي بلکې يو ځای دې پخه کړي يا دې صدقه کړي؛ نو دا جائز دي. وېش ضروري نه دی،[۳] که په دې شريکانو کې يو کس ووېل چې زه وېش غواړم بيا وېش ضروري دی.[۴]

په غټ څاروي کې د اوو کسانو شراکت صحيح دی، برابره خبره ده چې خپلوان يې وي او که پردي وي، په دېکښې هيڅ فرق نشته، که ورونه وي بيا د وېش اړتيا نشته، ټول دې يو ځای خوري.[۵]

غوښه وينځل

په حلاله طريقه د څاروي د ذبح کولو وروسته چې کومه غوښه جدا شي هغه پاکه ده، د پخولو نه وړاندې يې وينځل اړين نه دي، که

---

(۱) : إلا إذا ضم معه من الأكارع أو الجلد بأن يكون مع أحدهما بعض اللحم مع الأكارع ومع الآخر البعض مع البعض مع الجلد. الدر مع الرد ج: ۶ ص ۳۱۷، ۳۱۸، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴، ط: سعيد.

(۲)(۳) : حتى لو اشترى لنفسه ولزوجته وأولاده الكبار بدنة ولم يقسموها تجزيهم..... والظاهر أنها لا تشترط لأن المقصود منها الإراقة وقد حصلت، وحاصله أن المراد بيان شرط القسمة إن فعلت لا أنها شرط. رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۱۷، كتاب الأضحية، ط: سعيد.

(۴) : وفي فتاوى الخلاصة: تعلق القسمة على إرادتهم، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۱۷، ط: سعيد.

(۵) : ويقسم اللحم وزنا (قوله لا جزافا) لأن القسمة فيها معنى المبادلة، ولو حلل بعضهم بعضا قال في البدائع: أما عدم جواز القسمة مجازفة فلأن فيها معنى التمليك واللحم من أموال الربا فلا يجوز تمليكه مجازفة. الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۱۷، بدائع ج: ۵ ص: ۶۷، فصل أما كيفية الوجوب، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴، ط: سعيد.

ويې مينځي: نو منع هم نه دي، کوم صورت چې غوره کوي دده اختيار دی.[۱]

غوښه خيراتول لازم دي

که قرباني د نذر يا وصيت وي بيا يې ټوله غوښه په غريبانانو خيراتول اړين دي، د قربانۍ څښتن، د هغه اصول او فروع او شتمن خلک يې غوښه نه شي خوړلای، ددې نه پرته د نورو قربانيو غوښه خپله قرباني کوونکی، امام، خپلوان، غريبانان او شتمن خلک ټول خوړلی شي.[۲]

غوښه يې خرڅه کړه

کوم قرباني کوونکی چې د قربانۍ غوښه خرڅه کړي؛ نو د هغې قيمت صدقه کول لازم دي.[۱]

---

(۲) : فتاوی محمودية ج: ۲ ص: ۳۱۶، طحطاوي على مراقي الفلاح ج: ۱ ص: ۸۳، (وأما حكمها) فطهارة المذبوح وحل أكله من المأكول، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۶، وَالْحَاصِلُ أَنَّ الَّتِي لَا يُؤْكَلُ مِنْهَا هِيَ الْمَنْذُورَةُ ابْتِدَاءً وَالَّتِي وَجَبَ التَّصَدُّقُ بِعَيْنِهَا بَعْدَ أَيَّامِ النَّحْرِ وَالَّتِي ضَحَّى بِهَا عَنْ الْمَيِّتِ بِأَمْرِهِ عَلَى الْمُخْتَارِ ، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۷، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۶۲، كتاب التضحية، ط: سعيد.

(۲) : لِنَذْرٍ أَنْ يُضَحِّيَ وَلَمْ يُسَمِّ شَيْئًا، عَلَيْهِ شَاةٌ وَلَا يَأْكُلُ مِنْهَا، وَإِنْ أَكَلَ عَلَيْهِ قِيمَتُهَا، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۵، ط: رشيدية، إِنْ وَجَبَتْ بِالنَّذْرِ فَلَيْسَ لِصَاحِبِهَا أَنْ يَأْكُلَ مِنْهَا شَيْئًا، وَلَا أَنْ يُطْعِمَ غَيْرَهُ مِنْ الْأَغْنِيَاءِ سَوَاءٌ كَانَ النَّاذِرُ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا؛ لِأَنَّ سَبِيلَهَا التَّصَدُّقُ وَلَيْسَ لِلْمُتَصَدِّقِ أَنْ يَأْكُلَ صَدَقَتَهُ، وَلَا أَنْ يُطْعِمَ الْأَغْنِيَاءَ، شامي ج: ۶ ص: ۴۲۷، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، ط: رشيدية.

(۱) : واللَّحْمُ بِمَنْزِلَةِ الْجِلْدِ فِي الصَّحِيحِ حَتَّى لَا يَبِيعَهُ بِمَا لَا يُنْتَفَعُ بِهِ ...... وَلَوْ بَاعَهَا بِالدَّرَاهِمِ لِيَتَصَدَّقَ بِهَا جَازَ؛ لِأَنَّهُ قُرْبَةٌ كَالتَّصَدُّقِ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۱، الباب السادس. البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸.

غوره ځاروی

که شريکوال زياتره غريب او اړ وي؛ نو غوښن ځاروی ورته غوره دی، او که په شريکوالو کې اړمن لږ وي، د هغه ځاروي پېرل ورته غوره ده چې بيه يې لوړه او ښه غوښه ولري.[۲]

د ډېر غوښن او تازه ځاروي قرباني مستحبه ده، د يو غوښن او تازه ځاروي قرباني له دوو کمزورو ځارويو له قربانيو څخه غوره ده.[۳]

که په غوا او يا بل لوی ځاروي کې د اوو شريکوالو د يوې برخې بيه او غوښه د وزې د بيې او غوښې برابره وه؛ نو وزه پېرل غوره دي.[۴]

له مېږې څخه وزه غوره ده.[۱]

د نر د قرباني په پرتله ښځه غوره ده.[۲]

---

(۲) : فَإِنْ كَانَ سُبْعُ الْبَقَرَةِ أَكْثَرَ لَحْمًا فَهُوَ أَفْضَلُ، وَالْأَصْلُ فِي هَذَا إِذَا اسْتَوَيَا فِي اللَّحْمِ وَالْقِيمَةِ فَأَطْيَبُهُمَا لَحْمًا أَفْضَلُ، وَإِذَا اخْتَلَفَا فِيهِمَا فَالْفَاضِلُ أَوْلَى. (رد المحتار ، كتاب الأضحية ج: ۶ ص: ۳۲۲ ، ط: سعيد، الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۹، الباب الخامس ، ط: رشيدية) وَكَانَ الْأُسْتَاذُ يَقُولُ بِأَنَّ الشَّاةَ الْعَظِيمَةَ السَّمِينَةَ تُسَاوِي الْبَقَرَةَ قِيمَةً وَلَحْمًا أَفْضَلُ مِنَ الْبَقَرَةِ لِأَنَّ جَمِيعَ الشَّاةِ تَقَعُ فَرْضًا بِلَا خِلَافٍ. (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۲، كتاب الأضحية ط: سعيد)

(۳) : وَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ تَكُونَ الْأُضْحِيَّةُ أَسْمَنَهَا وَأَحْسَنَهَا وَأَعْظَمَهَا. (الفتاوى الهندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۲ ، بدائع ج: ۵ ص: ۸۰ ، اما الذي يرجع إلى الأضحية ، ط: سعيد مظاهر حق ج: ۲ ص: ۳۰۵ ط: دار الإشاعت.)

(۴) : الشَّاةُ أَفْضَلُ مِنْ سُبْعِ الْبَقَرَةِ إِذَا اسْتَوَيَا فِي الْقِيمَةِ وَاللَّحْمِ. (الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۲ ط: سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۹، الباب الخامس، ط: رشيدية)

(۱) : الْكَبْشُ والنعجة إذا استويا في القيمة واللحم فالكبش أفضل ، (فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، الباب الخامس ، ط: رشيدية ، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۲ ، ط: سعيد)

(۲) : أنَّ الأنثى أفضلُ من الذكر إذا استويا قيمةً ، الدر المختار مع الرد المحتار، ج: ۶ ص: ۳۲۲، هندية الباب الخامس، ج: ۵ ص: ۲۹۹.

که د کوم څاروي بيه لوړه وي، قرباني يې ښه ده. او که د دوو څاروو بيې سره يو وي او يو غوښن وي؛ نو د هغه څاروي قرباني ښه او غوره ده چې غوښن وي.[۳]

د غوا قرباني پرېښودل

د مسلمانانو سره نه ښايي چې د کافرانو سره داسې تړون لاسليک کړي چې په هغې سره د اسلام او مسلمانانو سپکاوئ کيږي، که چا هم داسې تړون لاسليک کړ؛ نو هغه ګنهګار شو او لويه ګناه يې وکړه، بلکې د کافرو د خوشحالولو لپاره داسې تړونونو کولو له امله انسان کافر کيږي، د بېلګې په ډول په هندوستان کې د غوا په نه قرباني کولو باندې د هندوانو سره رسمي تړون لاسليک کول.[۴]

غوښه

د قرباني غوښه خپله خوړل، شتمن او غريب ته ورکول، په لمر وچول او په يخچال کې ښودل ټول روا دي.[۱]

د نذر او وصيت د قرباني غوښې پرته د نورې قرباني غوښه په

(۳) : وَفِي الْعِتَابِيَّةِ: وَكَانَ الْأُسْتَاذُ يَقُولُ بِأَنَّ الشَّاةَ الْعَظِيمَةَ السَّمِينَةَ تُسَاوِي الْبَقَرَةَ قِيمَةً وَلَحْمًا أَفْضَلُ مِنَ الْبَقَرَةِ لِأَنَّ جَمِيعَ الشَّاةِ تَقَعُ فَرْضًا بِلَا خِلَافٍ . (رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۲ ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۹ ، وَالْأَصْلُ فِي هَذَا إِذَا اسْتَوَيَا فِي اللَّحْمِ وَالْقِيمَةِ فَأَطْيَبُهُمَا لَحْمًا أَفْضَلُ ، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۲ ، ط: سعيد . هندية ج: ۵ ص: ۲۹۹ ط: رشيدية).

(۴) : ولاتعاونوا على الإثم والعدوان ، (المائدة آيت: ۲)

(۱) : وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ أُضْحِيَّتِهِ وَيُطْعِمَ مِنْهَا غَيْرَهُ جَمِيعًا وَيَهَبُ مِنْهَا مَا شَاءَ لِلْغَنِيِّ وَالْفَقِيرِ وَالْمُسْلِمِ ...... فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، الباب الخامس، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸.

غريب او شتمن ټولو خوړلی شي.[۲]

د غوا قرباني

د غوا قرباني کول د قرآن[۳] او د حديثونو[۴] څخه ثابته ده او اوه کسان پکښې شريکېدلای شي.

که د غوا په قرباني کولو بنديز ولګيږي

په هندوستان او د هندوانو تر ولکې لاندې هېوادونو کې د غوا په قرباني کولو بنديز دی؛ نو د دغه ځای مېشت مسلمانان دې د غوا پر ځای بزه، مېږه، مېښه او اوښ قرباني کړي، ددې لپاره چې يوه فتنه جوړه نه شي؛ خو که بيا هم چا غوا قرباني کړه؛ نو قرباني يې صحيح او وجوب يې ادا شو.[۱]

---

[۲]: وَالْحَاصِلُ أَنَّ الَّتِي لَا يُؤْكَلُ مِنْهَا هِيَ الْمَنْذُورَةُ ابْتِدَاءً وَالَّتِي وَجَبَ التَّصَدُّقُ بِعَيْنِهَا بَعْدَ أَيَّامِ النَّحْرِ وَالَّتِي ضَحَّى بِهَا عَنْ الْمَيِّتِ بِأَمْرِهِ عَلَى الْمُخْتَارِ ، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۷، ط: سعيد، وَأَمَّا فِي الْأُضْحِيَّةِ الْمَنْذُورَةِ سَوَاءٌ كَانَتْ مِنْ الْغَنِيِّ أَوْ الْفَقِيرِ فَلَيْسَ لِصَاحِبِهَا أَنْ يَأْكُلَ وَلَا أَنْ يُؤْكِلَ الْغَنِيَّ، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، ط: رشيدية.

[۳]: قال تعالى : ومن الإبل اثنين ومن البقر اثنين. (الأنعام : ۱۴۴)

[۴]: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا، وَحَاضَتْ بِسَرِفَ، قَبْلَ أَنْ تَدْخُلَ مَكَّةَ، وَهِيَ تَبْكِي، فَقَالَ: «مَا لَكِ أَنُفِسْتِ؟» قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: «إِنَّ هَذَا أَمْرٌ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ، فَاقْضِي مَا يَقْضِي الحَاجُّ، غَيْرَ أَنْ لاَ تَطُوفِي بِالْبَيْتِ» فَلَمَّا كُنَّا بِمِنًى، أُتِيتُ بِلَحْمِ بَقَرٍ، فَقُلْتُ: مَا هَذَا؟ قَالُوا: ضَحَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَزْوَاجِهِ بِالْبَقَرِ، (بخاري شريف ج: ۲ ص: ۸۳۲، ط: قديمي) عَنْ جَابِرٍ قَالَ: نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحُدَيْبِيَةِ الْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ، وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ. ترمذي ج: ۱ ص: ۲۷۶، أبواب الأضاحي، باب في الإشتراک في الأضحية، ط: سعيد، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۷۰، فصل أما محل إقامة الواجب، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۴، تكملة فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۹، ط: رشيدية.

[۱]: والفتنة أشد من القتل، (البقرة آيت: ۱۹۱)

غويي

د غوايي قرباني كول صحيح دي، د غوا هم دغه حكم دى، دوه كال عمر يې شرط دى.[۲]

د غوښو خرڅولو په نيت شريكېدل

اوه كسانو په شريكه يو څاروى واخيست، بيا مالومه شوه چې يو پكښې د غوښې د خرڅولو نيت كړى ؤ؛ نو په داسې صورت كې دي يو كس دا برخه قرباني په روپو واخلي، د هغې وروسته دي قرباني وكړي، كنه نو د ټولو قرباني به خرابه شي، ځكه چې قرباني يوازې د الله تعالى د رضا لپاره كيږي.[۳]

د غوښې خوړلو په نيت قرباني كول

كوم كس چې د غوښې خوړلو په نيت قرباني وكړي، د ثواب په نيت يې ونكړي؛ نو د هغه قرباني نه صحيح كيږي، په داسې سړي باندې

---

(۲) : (أَمَّا جِنْسُهُ) : فَهُوَ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْأَجْنَاسِ الثَّلَاثَةِ: الْغَنَمِ أَوْ الْإِبِلِ أَوْ الْبَقَرِ، وَيَدْخُلُ فِي كُلِّ جِنْسٍ نَوْعُهُ، وَالذَّكَرُ وَالْأُنْثَى مِنْهُ، (هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۲ ، كتاب الأضحية ط: سعيد ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، كتاب الأضحية ط: سعيد ، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۹ ، فصل أما محل إقامة الواجب، ط: سعيد .

(۳) : إِذَا شَارَكَ الْمُتَقَرِّبُ مَنْ لَا يُرِيدُ الْقُرْبَةَ لَمْ تُجْزِ عَنْ الْقُرْبَةِ، وَلَوْ كَانَ أَحَدُ الشُّرَكَاءِ ذِمِّيًّا كِتَابِيًّا أَوْ غَيْرَ كِتَابِيٍّ وَهُوَ يُرِيدُ اللَّحْمَ...... لَمْ يُجْزِهِمْ عِنْدَنَا...... وَالْمُسْلِمُ لَوْ أَرَادَ اللَّحْمَ لَا يَجُوزُ عِنْدنا، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۷۲، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد، وقد علم أن الشرط قصد القربة من الكل، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد، وَإِنْ كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ صَبِيًّا أَوْ كَانَ شَرِيكُ السَّبْعِ مَنْ يُرِيدُ اللَّحْمَ ... لَا يَجُوزُ لِلْآخَرِينَ أَيْضًا ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، ط: رشيدية، الباب الثامن فيما يتعلق بالشركة في الضحايا.

ضروري ده چې د قربانۍ په ورځو کې يوه بله قربانۍ وکړي.[۱]
که د قربانۍ په اوه شريکانو کې يو کس د ثواب نيت نه ؤ کړی او نه يې د واجبې قربانۍ نيت کړی ؤ. بلکې يوازې د غوښې خوړلو په نيت يې قرباني وکړه، قرباني يې نه ده شوې، د خبرتيا سره- سره د داسې کس شريکولو له وجې د ټولو قرباني خرابه شوه، بيا به قرباني کوي.[۲]

د غوښې وېش

غوره دا ده چې د قربانۍ غوښه درې ځايه کړي، يوه برخه دې خپل کور ته کېږدي، دويمه برخه دې خپلوانو او ملګرو ته ولېږي او دريمه برخه دې غريبانو او اړمندو خلکو ته ورکړي: خو که د خپلې کورنۍ غړي يې زيات وي بيا کولای شي چې د ځان سره يې کېږدي، په دې کې هيڅ ګناه نشته.[۳]

د غلا شوي څاروي قرباني کول

که چا د قربانۍ لپاره څاروی وپېرې او وروسته ورته معلومه شوه چې دغه څاروی يې د غل څخه پېرلی دی، د دغه څاروي قرباني کول

---

(۱) : وَلَوْ كَانَ أَحَدُ الشُّرَكَاءِ ذِمِّيًّا كِتَابِيًّا أَوْ غَيْرَ كِتَابِيٍّ وَهُوَ يُرِيدُ اللَّحْمَ لَمْ يُجْزِهِمْ عِنْدَنَا وَالْمُسْلِمُ لَوْ أَرَادَ اللَّحْمَ لا يجوز عندنا، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، الباب الثامن، ط: رشيدية.

(۲) : إِذَا شَارَكَ الْمُتَقَرِّبُ مَنْ لَا يُرِيدُ الْقُرْبَةَ لَمْ تُجْزِ عَنِ الْقُرْبَةِ، وَإِنْ كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ صَبِيًّا ، أَوْ كَانَ شَرِيكُ السَّبْعِ مَنْ يُرِيدُ اللَّحْمَ ..... لَا يَجُوزُ لِلْآخَرِينَ أَيْضًا ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، الباب الثامن فيما يتعلق بالشركة ، ط: رشيدية.

(۳) : وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ أُضْحِيَّتِهِ وَيُطْعِمَ مِنْهَا غَيْرَهُ ، وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِالثُّلُثِ وَيَتَّخِذَ الثُّلُثَ ضِيَافَةً لِأَقْرِبَائِهِ وَأَصْدِقَائِهِ وَيَدَّخِرَ الثُّلُثَ، وَيُطْعِمَ الْغَنِيَّ وَالْفَقِيرَ جَمِيعًا، إِلَّا أَنْ يَكُونَ الرَّجُلُ ذَا عِيَالٍ وَغَيْرَ مُوَسَّعِ الْحَالِ فَإِنَّ الْأَفْضَلَ لَهُ حِينَئِذٍ أَنْ يَدَعَهُ لِعِيَالِهِ وَيُوَسِّعَ عَلَيْهِمْ بِهِ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰.

روا نه دي، بل څاروی دي وپېري او قرباني دي وکړي.(۱)

که د حلالولو وروسته ورته اصلي څښتن اجازه وکړي؛ نو د غوښې خوړل به یې حلال شي، کنه نو حرام به وي.(۲)

له وېشه وړاندې غوښه چاته ورکول

که د شریکوالو په اجازه له وېشه وړاندې چا ته غوښه ورکړل شي او په شریکوالو کې د چا قرباني نذر نه وي، څه ستونزه نه لري او که په شریکوالو کې د چا قرباني نذر وي او غوښه شتمن ته ورکړل شوې وي، قرباني یې کېږي؛ خو دا چې پر نذر کوونکي واجب دي چې خپله ټوله برخه فقیرانو ته ورکړي؛ نو له دې کبله دی باید د خپلې برخې بیه چې شتمن ته یې ورکړې ده، صدقه کړي.(۳)

غابنې

د کوم څاروي چې ټول غابښونه نه وي، قرباني کول یې صحیح نه دي او که د یو څاروي زیاتره غابښونه وي او لږ غورځېدلي وي، قرباني کول یې صحیح دي.(۳)

(۱) : لِأَنَّ التَّضْحِيَةَ قُرْبَةٌ وَلَا قُرْبَةَ فِي الذَّبْحِ بِمِلْكِ الْغَيْرِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ، وَعَلَى هَذَا يُخَرَّجُ مَا إِذَا اغْتَصَبَ شَاةَ إِنْسَانٍ فَضَحَّى بِهَا عَنْ نَفْسِهِ أَنَّهُ لَا تُجْزِيهِ لِعَدَمِ الْمِلْكِ وَلَا عَنْ صَاحِبِهَا لِعَدَمِ الْإِذْنِ ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶، أما الذي يرجع إلى محل التضحية ، ط: سعيد، كفايت المفتي ج: ۸ ص: ۱۹۷، دار الإشاعت.

(۲) : لَوْ اشْتَرَى شَاةً فَضَحَّى بِهَا ثُمَّ اسْتَحَقَّهَا رَجُلٌ، فَإِنْ أَجَازَ الْبَيْعَ جَازَ، وَإِنْ اسْتَرَدَّ الشَّاةَ لَمْ يَجُزْ، (هندية ج: ۵ ص: ۳۰۳، الباب السابع، ط: رشيدية ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۹، ط: سعيد)

(۳) : امداد الفتاوی ج: ۳ ص: ۵۴۹، ط: ادارة المعارف .

(۳) : (وَلَا) (بِالْهَتْمَاءِ) الَّتِي لَا أَسْنَانَ لَهَا، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۴، هندية: ۵ ص: ۲۹۸ الباب الخامس، بدائع ج: ۵ ص: ۷۵ اما الذي يرجع إلى محل التضحية، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص:

که کوم څاروي خپل ټاکلی عمر د بېلګې په توګه وزه او مېږې يو کال، غوا، غوايی او مېښې دوه کاله، اوښ او اوښې پنځه کاله پوره کړي وي او غاښونه يې نه وي راغلي قرباني کول يې صحيح دي، د څارويَ د قرباني کولو لپاره غاښونه شرط نه دي عمر شرط دی. (۱)

د کوم څاروي چې د عمر د ډېرېدو له کبله ټول غاښونه غورځېدلي وي؛ خو د واښو په خوړلو کې يې کومه ستونزه نه وه، قرباني کول يې صحيح دي او که په واښو خوړلو کې يې ستونزه وه، قرباني کول يې صحيح نه دي، د دغه څاروی لپاره بيا هغه حکم دی چې په لومړي پرګراف کې تېر شول. (۲)

(ف)

فساد جوړ شو

که په کوم ښار کې داسې فساد جوړ شو چې لمونځ کول پکښې سخت شو او خلکو د روڼ سهار (صبح صادق) نه وړاندې قرباني

۱۷۵، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۴، ويكفي بقاء الأكثر، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۴، بدائع ج: ۵ ص: ۷۵، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۴، ط: رشيدية.

(۱): أنَّ الْفُقَهَاءَ قَالُوا: اَلْجَذَعُ مِنَ الْغَنَمِ ابْنُ سِتَّةِ أَشْهُرٍ وَالثَّنِيُّ مِنْهُ ابْنُ سَنَةٍ، وَالْجَذَعُ مِنَ الْبَقَرِ ابْنُ سَنَةٍ وَالثَّنِيُّ ابْنُ سَنَتَيْنِ، وَالْجَذَعُ مِنَ الْإِبِلِ ابْنُ أَرْبَعِ سِنِيْنَ وَالثَّنِيُّ مِنْهَا ابْنُ خَمْسٍ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۰، فصلٌ أما محل إقامة الواجب ط: سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷ الباب الخامس، ط: رشيدية، وَالْمَعْز ابْنُ سَنَةٍ وَمِنَ الْبَقَرِ ابْنُ سَنَتَيْنِ وَمِنَ الْإِبِلِ ابْنُ خَمْسِ سَنَةٍ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۵، ط: رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۲.

(۲): وَأَمَّا الْهَتْمَاءُ وَهِيَ الَّتِي لَا أَسْنَانَ لَهَا فَإِنْ كَانَتْ تَرْعَى وَتَعْتَلِفُ جَازَتْ وَإِلَّا فَلَا، (هندية ج: ۵ ص: ۲۹۸، بدائع ج: ۵ ص: ۷۵، أما الذي يرجع إلىٰ محل التضحية، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۴، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۴، البحر ج: ۱۷۶، ط: سعيد.)

وکړه: نو قرباني يې صحيح ده.[۳]

(ق)

قرباني د ابراهيم عليه السلام يادګار دی

په شتمن سړي چې هر کال کومه قرباني واجب ده دا د ابراهيم عليه السلام يادګار دی، ددې وجې د قربانۍ د قيمت په صدقه کولو سره د قربانۍ ذمه واري نه ادا کيږي او نه د ابراهيم عليه السلام يادګار ژوندی کيږي.[۱]

په قربانۍ او صدقه کې توپير دی

د ابراهيم عليه السلام د کيسې نه مالومه شوه چې د قربانۍ اصل مقصد د الله تعالى ذات ته ځان وړاندې کول دي، دې سره په انسان کې د ځان قربانولو جذبه پيدا کيږي او دا خبره د قربانۍ د روح حيثيت لري،

---

[۳]: وَفِي الْوَاقِعَاتِ لَوْ أَنَّ بَلْدَةً وَقَعَتْ فِيهَا فِتْرَةٌ وَلَمْ يَبْقَ فِيهَا وَالٍ لِيُصَلِّيَ بِهِمْ صَلَاةَ الْعِيدِ فَضَحَّوْا بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ جَازَ وَهُوَ الْمُخْتَارُ، لِأَنَّ الْبَلْدَةَ صَارَتْ فِي حَقِّ هَذَا الْحُكْمِ كَالسَّوَادِ، وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى ، الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۵، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، بدائع ج: ۵ ص: ۷۴ فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، ط: سعيد.

[۱]: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ: قَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ [ص:٤٦٤] وَسَلَّمَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا هَذِهِ الْأَضَاحِيُّ؟ قَالَ: «سُنَّةُ أبيكم إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ» قَالُوا: فَمَا لَنَا فِيهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةٌ» . (رواه أحمد وابن ماجة، مشكاة المصابيح ص: ۱۲۹، قديمي كتب خانه ، أي: طَرِيقَتُهُ الَّتِي أُمِرْنَا بِاتِّبَاعِهَا. قَالَ تَعَالَى: }أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا{ [النحل: ۱۲۳] فَهِيَ مِنَ الشَّرَائِعِ الْقَدِيمَةِ الَّتِي قَرَّرْتُهَا، مرقاة المفاتيح ج: ۳ ص: ۳۱۴، باب الأضحية ، الفصلُ الثالث، ط: امدادية.) (وَأَمَّا) الَّذِي يَجِبُ عَلَى الْغَنِيِّ دُونَ الْفَقِيرِ فَمَا يَجِبُ مِنْ غَيْرِ نَذْرٍ وَلَا شِرَاءٍ لِلْأُضْحِيَّةِ بَلْ شُكْرًا لِنِعْمَةِ الْحَيَاةِ وَإِحْيَاءً لِمِيرَاثِ الْخَلِيلِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – حِينَ أَمَرَهُ اللَّهُ تَعَالَى عَزَّ اسْمُهُ بِذَبْحِ الْكَبْشِ فِي هَذِهِ الْأَيَّامِ فِدَاءً عَنْ وَلَدِهِ وَمَطِيَّةً عَلَى الصِّرَاطِ وَمَغْفِرَةً لِلذُّنُوبِ وَتَكْفِيرًا لِلْخَطَايَا ، الخ.. بدائع ج: ۵ ص: ۶۲، (فَتَجِبُ) التَّضْحِيَةُ: أَيْ إرَاقَةُ الدَّمِ مِنْ النَّعَمِ قَالَ فِي الْجَوْهَرَةِ: وَالدَّلِيلُ عَلَى أَنَّهَا الْإِرَاقَةُ لَوْ تَصَدَّقَ بِعَيْنِ الْحَيَوَانِ لَمْ يَجُزْ، وَالتَّصَدُّقُ بِلَحْمِهَا بَعْدَ الذَّبْحِ مُسْتَحَبٌّ وَلَيْسَ بِوَاجِبٍ اهـ (شامي ج: ۶ ص: ۳۱۳، بدائع ج: ۵ ص: ۶۶، فصلٌ أما كيفية الوجوب.)

ځکه چې د قرباني روح ځان ورکول دي او د صدقې روح مال ورکول دي.

بل توپير يې دا دی چې د صدقې لپاره تاکلې ورځ نشته او د قربانۍ لپاره ورځې تاکل شوي دي چې هغې ته ايام النحر او د عيد الاضحی ورځې وايي.[۱]

د قرضداري قرباني

کوم سړی چې پردی قرضداره وي، هغه دې د قرض ادا کولو فکر وکړي، قرباني دې نه کوي؛ خو که قرباني يې وکړه بيا هم ثواب ورته رسيږي.[۲]

قرباني مهم عبادت دی

قرباني مهم عبادت او د اسلام د شعائرو څخه دی، د جاهليت د دور څخه عبادت ګڼل کېدو؛ خو هغوی به د بتانو په نومونو قرباني کول، دغه راز تر ننه پورې ډېری مذهبونه شته چې د مذهبي رواجونو په نوم قرباني کوي، ځيني يې د بتانو په نوم کوي او ځينې يې د مسيح په نوم کوي.[۳]

قرباني تر درې ورځو پورې کيږي

قرباني د ذي الحجې د لسم تاريخ څخه د دولسم تاريخ د لمر ډوبېدو نه وړاندې- وړاندې صحيح کيږي، په ديارلسم تاريخ باندې قرباني

---

[۱]: د حکيم الاسلام خطبې ټوک: ۲ مخ: ۴۴۲، د ابراهيم خليل الله سنت. مجيديه کتابتون، ملتان.

[۲]: امداد المفتين ج: ۲ ص: ۶۸۵.

[۳]: دقرباني احکام او شائيد (مفتي محمد شفيع رحمه الله ص: ۳۴ ط: ادارة المعارف)

نه صحيح کېږي. [۴]

د قرباني څاروي خرڅول

د قرباني د څاروي اخيستلو وروسته خرڅول نامناسب کار دی: خو که بيا هم چا خرڅ کړ او بل کم قيمته څاروی يې واخيست؛ نو کومه ګټه چې يې کړې ده، د هغه ګټې صدقه کول ضروري دي. [۱]

د قرباني څاروی ورک شو

په کوم انسان چې قرباني واجب وي او هغه د قرباني لپاره څاروی واخيست، بيا هغه څاروی ورک شو: نو د هغه په ځای باندې بله قرباني واجب ده. [۲]

که د بل څاروي د قرباني کولو وروسته د قرباني په ورځو کې لومړی څاروی پيدا شي: نو د دغه څاروي قرباني کول واجب نه

---

(۴): قال مالكٌ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عبدَ اللهِ ابْنَ عَمْرٍو رضي الله عنه قال: الْأَضحى يَوْمَانِ بعد يَوْمِ الْأَضحى. وقال مالكٌ: أنه بلغه عن علي بن أبي طالب رضي الله عنه مثل ذلک، مؤطا امام مالک، ج: ۲ ص: ۴۹۷، ط: ميرمحمد کتب خانه، وفي شرح التنوير شاة او سبع بدنة فجر يوم النحر إلى آخر أيامه، وهي ثلاثة أفضلها أولها، الدر مع الرد، كتاب الأضاحي ج: ۶ ص: ۳۱۵، بدائع ج: ۵ ص: ۶۵، ۷۴، فصلٌ أما الذي يرجع إلى وقت التضحية، ط: سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۵، الباب الثالث في وقت الأضحية، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۳، كتاب الأضحية ط: سعيد.

(۱): وَلَوْ بَاعَ الْأُضْحِيَّةَ جَازَ وَيَشْتَرِي بِقِيمَتِهَا أُخْرَى وَيَتَصَدَّقُ بِفَضْلِ مَا بَيْنَ الْقِيمَتَيْنِ. هندية ج: ۵ ص: ۳۰۲، الباب السادس في بيان ما يستحب في الأضحية. ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵.

(۲): (قَوْلُهُ فعلى الْغَنِيِّ غَيْرُهَا لَا الْفَقِيرِ) أَيْ وَلَوْ كَانَتْ الْمُعَيَّنَةُ مَنْذُورَةً بِعَيْنِهَا لِمَا فِي الْبَدَائِعِ أَنَّ الْمَنْذُورَةَ لَوْ هَلَكَتْ أَوْ ضَاعَتْ تَسْقُطُ التَّضْحِيَةُ بِسَبَبِ النَّذْرِ، غَيْرَ أَنَّهُ إنْ كَانَ مُوسِرًا تَلْزَمُهُ أُخْرَى بِإِيجَابِ الشَّرْعِ ابْتِدَاءً لَا بِالنَّذْرِ، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۵، كتاب الأضحية، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۵، كتاب الأضحية، ط: سعيد.

دي؛ خو قرباني کول يې غوره دي.[۳]
که دا سړی غریب وي، په هغه باندې قرباني واجب نه وي او هغه د قربانۍ په نیت سره څاروی واخیست او هغه ورک شو، هغه بیا بل څاروی واخیست او قرباني یې کړ او د قربانۍ په ورځو کې ورک شوی څاروی هم پیدا شو؛ نو په دې ورځو کې د ورک شوي څاروي قرباني کول هم لازم دي، ځکه چې غریب سړی کله د قربانۍ په نیت څاروی واخلي هغه بیا د نذر په حکم کې وي او د نذر پوره کول واجب دي.[۱]

د قربانۍ څاروی ټاکل کیږي او که نه؟

که د قربانۍ څاروی مخکې وټاکل شي یا د اختر په ورځو کې د اخیستلو له وجې وټاکل شي، په دواړو صورتونو کې یې ټاکل صحیح دي؛ خو که د قربانۍ لپاره متعین کوونکی یا د قربانۍ په نیت اخیستونکی غریب وي؛ نو په هغه باندې ددغه څاروي قرباني کول واجب دي او که دی شتمن وي او د قربانۍ د ورځو نه وړاندې یې څاروی واخیست او د نذر په ډول یې د قربانۍ لپاره متعین کړو؛ نو په هغه باندې هم ددغه څاروي قرباني کول واجب دي او د نصاب له وجې به په هغه باندې بله قرباني واجب وي او که د نذر په

---

[۳] : وَإِذَا اشْتَرَى الْغَنِيُّ أُضْحِيَةً فَضَلَّتْ فَاشْتَرَى أُخْرَى، ثُمَّ وَجَدَ الْأُولَى فِي أَيَّامِ النَّحْرِ كَانَ لَهُ أَنْ يُضَحِّيَ بِأَيَّتِهِمَا شَاءَ، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۵، الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۴، ط: رشيدية ، فالأفضل أن يضحي بهما ، فإن ضحى بالأولى أجزأه ولا تلزمه التضحية بالأخرى ، بدائع ج: ۵ ص: ۶۶، ط: سعيد.

[۱] : وَلَوْ كَانَ مُعْسِرًا فَاشْتَرَى شَاةً وَأَوْجَبَهَا ثُمَّ وَجَدَ الْأُولَى قَالُوا: عَلَيْهِ أَنْ يُضَحِّيَ بِهِمَا، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۴، الباب الثاني، بدائع ج: ۵ ص: ۶۶، فصلٌ أما كيفية الوجوب، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵، ط: سعيد.

ډول يې ونه ټاکي؛ نو په هغه باندې يوه قرباني واجب ده او د همدې ځاروي د قرباني کولو له وجې يې غاړه خلاصيږي.(۲)

د قربانۍ حکم په خوب کې ورکول شوی دی

ابراهيم عليه السلام ته الله تعالى د قربانۍ حکم په خوب کې ورکړی ؤ، ددې راز دا ؤ چې د الله تعالى اصلي مقصد دده د زوی حلالول نه ؤ بلکې د پلار او زوی ازموينه اخيستل مطلب ؤ، ددې وجې په ښکاره الفاظو سره د حلالولو حکم نه دی شوی، بلکې په خوب کې ورته داسې وښودل شوه چې دی خپل زوی حلالوي، دغه وجه ده کله چې ده خپله کړنه ترسره کړه لکه څرنګه حکم چې ده ته په خوب کې شوی ؤ، په يو غيبي غږ سره دده د بري اعلان وشو.(۱)

د قربانۍ حکم عام دی

د ابراهيم عليه السلام په کړنو کې چې کومې کړنې د خاصو ځايونو سره تړلې وې هغه يوازې په حاجيانو باندې لازم شوي دي، کوم خلک چې دغو ځايونو ته ورسيږي هلته دغه کارونه ترسره کوي، د بېلګې په ډول: په منی کې درې شيطانان په شګو ويشتل، د صفا - مروه ترمنځ منډې او سعی ترسره کول او کومې کړنې چې ددې خاصو

(۲) : وَلَوْ نَذَرَ أَنْ يُضَحِّيَ شَاةً وَذَلِكَ فِي أَيَّامِ النَّحْرِ وَهُوَ مُوسِرٌ فَعَلَيْهِ أَنْ يُضَحِّيَ بِشَاتَيْنِ عِنْدَنَا شَاةٌ بِالنَّذْرِ وَشَاةٌ بِإِيجَابِ الشَّرْعِ ابْتِدَاءً إِلَّا إِذَا عَنَى بِهِ الْإِخْبَارَ عَنْ الْوَاجِبِ عَلَيْهِ فَلَا يَلْزَمُهُ إِلَّا وَاحِدَةٌ، وَلَوْ قَبْلَ أَيَّامِ النَّحْرِ لَزِمَهُ شَاتَانِ ، شامي ج: ۶ ص ۳۲۰، ۳۳۲، بدائع ج ۵ ص: ۶۳، فصل أما شرائط الوجوب، ط: سعيد، أما الذي يجب على الغني والفقير فالمنذور به ..... يستوي فيه الغني والفقير ..... (قوله ولو فقير)لأنَّ الفقيرَ إذا اشتراها له يلزمه التصدق بعينهما بلا نذرٍ ، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۰، ط: سعيدي.

(۱) د قربانۍ احکام او شاليد (مفتي محمد شفيع رحمه الله ص: ۱۸، ط: ادارة المعارف)

ځایونو سره نه وي تړلي هغه هر ځای ترسره کولای شي، لکه: د ښاروي قرباني کول، دغه حکم د ټولو شتمنو خلکو لپاره په هر ځای کې ترسره کول واجب او لازم دي، نبي کریم ﷺ، د هغه صحابه، تابعین او ټول امت، په کوم ځای کې چې وي په دې واجبو باندې عمل کوي، یوازې دا هم نه چې د اسلام یو واجب حکم دی او ترسره کوي یې بلکې د اسلام د شعائرو څخه ګڼل کیږي. وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُم مِّن شَعَائِرِ اللَّهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ (سورة الحج پ: ۱۷ آیت: ۳۶)[1]

د قربانۍ درس

هر کال د قربانۍ نه دا درس زده کیږي چې د انسان لپاره د الله تعالی د رضا په خاطر ځان او ټول مال قرباني کول اړین دي، کنه نو څوک به پوره مؤمن پاتې نه شي، د غلامۍ او بندګۍ حق به ادا نه شي.[2]

په بدل کې د قربانۍ غوښه ورکول

د خوراکي توکو نه پرته د بل شي په بدل کې د قربانۍ غوښه ورکول، یا خوځول یا یې قصاب ته ورکول یا یې کاریګر ته په مزدورۍ کې ورکول ناروا دي. که چا داسې وکړه هغه به یې په بدل کې همدومره قیمت صدقه کوي.[3]

---

[1]: د قربانۍ احکام او شالید (مفتي محمد شفیع رحمه الله ص: ۲۳، ط: ادارة المعارف)

[2]: د قربانۍ احکام او شالید (مفتي محمد شفیع رحمه الله ص: ۲۲، ط: ادارة المعارف)

[3]: [فُرُوعٌ] فِي الْقُنْيَةِ: اشْتَرَى بِلَحْمِهَا مَأْكُولًا فَأَكَلَهُ لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ التَّصَدُّقُ بِقِيمَتِهِ اسْتِحْسَانًا، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۸، ط: سعيد. وَلَا يَحِلُّ بَيْعُ شَحْمِهَا وَأَطْرَافِهَا وَرَأْسِهَا وَصُوفِهَا وَوَبَرِهَا وَشَعْرِهَا وَلَبَنِهَا الَّذِي يَحْلُبُهُ مِنْهَا بَعْدَ ذَبْحِهَا بِشَيْءٍ، لَا يُمْكِنُ الِانْتِفَاعُ بِهِ.... وَلَا أَنْ يُعْطِيَ أَجْرَ الْجَزَّارِ وَالذَّابِحِ مِنْهَا، فَإِنْ بَاعَ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ بِمَا ذَكَرْنَا نَفَذَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى، وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى -، لَا يَنْفُذُ وَيَتَصَدَّقُ بِثَمَنِهِ،

د قربانۍ غوښه په مزدور خوړل

د قربانۍ پخه غوښه په مزدور خوړل روا ده، ځکه چې د پخولو وروسته د قربانۍ په حکم کې نه وي.[۱]

د قربانۍ وخت

د قربانۍ وخت: د ذي الحجې د میاشتې لسم تاریخ د اختر د لمانځه وروسته د دولسمې ذي الحجې د لمر تر ډوبېدو بلکې ددې نه مخکې - مخکې وخت دی، په دیکښې داخل په کومه ورځ چې قرباني کوي قرباني به یې صحیح شي؛ خو د قربانۍ لپاره غوره وخت د اختر لومړۍ ورځ ده. بیا دویمه ورځ بیا دریمه ورځ[۲]

په لرې پرتو سیمو کې د قربانۍ وخت: (په کومو ځایونو کې چې د جمعې او اختر لمونځونه نه کېږي) د روڼ سهار (صبح صادق)

... وَاللَّحْمُ بِمَنْزِلَةِ الْجِلْدِ فِي الصَّحِيحِ حَتَّى لَا يَبِيعَهُ بِمَا لَا يُنْتَفَعُ بِهِ إِلَّا بَعْدَ الِاسْتِهْلَاكِ. وَلَوْ بَاعَهَا بِالدَّرَاهِمِ لِيَتَصَدَّقَ بِهَا جَازَ؛ لِأَنَّهُ قُرْبَةٌ كَالتَّصَدُّقِ، ، بدائع ج: ۵ ص: ۸۱، فصلٌ أما بيان ما يستحب قبل التضحية ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۱، ط: رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۹، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۷، ط: رشيدية البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، ط: سعيد.

(۱): وَإِذَا ذَبَحَهَا فِي وَقْتِهَا جَازَ لَهُ أَنْ يَحْلُبَ لَبَنَهَا... وَيَنْتَفِعُ بِهِ، لِأَنَّ الْقُرْبَةَ أُقِيمَتْ بِالذَّبْحِ، وَالِانْتِفَاعُ بَعْدَ إِقَامَةِ الْقُرْبَةِ مُطْلَقٌ كَالْأَكْلِ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۱، ط: رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۹، ط: سعيد. البحر ج: ۸ ص: ۱۷۹، ط: سعيد، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۷، ط: رشيدية.

(۲): وَقْتُ الْأُضْحِيَّةِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ الْعَاشِرُ وَالْحَادِي عَشَرَ وَالثَّانِي عَشَرَ، أَوَّلُهَا أَفْضَلُهَا وَآخِرُهَا أَدْوَنُهَا، وَيَجُوزُ فِي نَهَارِهَا وَلَيْلِهَا بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ إِلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِي عَشَرَ، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۲، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۶۵، فصلٌ أما وقت الوجوب، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۸.

وروسته قرباني روا ده.[۳]

په كومو ځايونو كې چې د جمعې او اخترونو لمونځ واجب دى هلته د اختر د لمونځ نه وړاندې قرباني ناروا ده، د لمانځه نه وروسته به قرباني كوي.[۱] كه چا د لمانځه نه وړاندې د قرباني ځاروى حلال كړو د هغې هيڅ اعتبار نشته، په هغه باندې د اختر د لمانځه وروسته دويمه قرباني واجب ده.[۲]

كوم ښاري يا د ابادى مېشت اوسېدونكى د قرباني ځاروى كلي ته لېږي؛ نو د هغه قرباني د اختر د لمانځه وړاندې صحيح ده، د حلالولو وروسته دي راوغواړي او غوښه دي ترې وخوري[۳]

د ذي الحجې د دولسم تاريخ د لمر ډوبېدو نه وړاندې قرباني صحيح ده، كه لمر ډوب شي بيا قرباني نه كېږي، بلكې صدقه

---

[۳] : وَالْوَقْتُ الْمُسْتَحَبُّ لِلتَّضْحِيَةِ فِي حَقِّ أَهْلِ السَّوَادِ بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۵، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۷۳، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۸، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵، ط: سعيد.

[۱] : وَالْوَقْتُ الْمُسْتَحَبُّ لِلتَّضْحِيَةِ فِي حَقِّ أَهْلِ أَهْلِ الْمِصْرِ بَعْدَ الْخُطْبَةِ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۵، ط: رشيدية، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۲، بدائع ج: ۵ ص: ۷۳، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۸.

[۲] : وَلَوْ ذَبَحَ وَالْإِمَامُ فِي خِلَالِ الصَّلَاةِ لَا يَجُوزُ وَكَذَا إِذَا ضَحَّى قَبْلَ أَنْ يَقْعُدَ قَدْرَ التَّشَهُّدِ، فتاوى هندية الباب الثالث في وقت الأضحية ، ج: ۵ ص: ۲۹۵، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۷۳، فصل أما شرائط جواز إقامة الواجب، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵.

[۳] : وَحِيلَةُ الْمِصْرِيِّ إِذَا أَرَادَ التَّعْجِيلَ أَنْ يَبْعَثَ بِهَا إِلَى خَارِجِ الْمِصْرِ فِي مَوْضِعٍ لِلْمُسَافِرِ أَنْ يَقْصُرَ فَيُضَحِّيَ فِيهِ كَمَا طَلَعَ الْفَجْرُ لِأَنَّ وَقْتَهَا مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۸، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۱، ط: رشيدية.

ورکول لازم دي.(۴)

د لسم نه تر دولسم تاریخ پورې د ورځې او شپې قرباني روا ده؛ خو د ورځې غوره او د شپې منع نه ده.(۱)

د پوره ښار په يو جومات يا عيدګاه کې د اختر لمونځ وشو؛ نو قرباني روا ده، خپله د قرباني کوونکي لپاره د اختر لمونځ ادا کول شرط نه دی.(۲)

که په څه وجه په لسمه د ذي الحجې د اختر لمونځ ونه شي؛ نو په دغه ورځ د زوال وروسته څاروی حلالول روا دي.(۳)

د قرباني کولو پرمهال چې کوم زيان پيدا شي

د قرباني کولو په وخت چې څاروي ته کوم زيان ورسيږي هغې ته

---

(۴): وَقْتُ الْأُضْحِيَةِ ثَلَاثَةُ أَيَّامِ الْعَاشِرُ وَالْحَادِيَ عَشَرَ وَالثَّانِيَ عَشَرَ .... بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ إلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ مِنْ الْيَوْمِ الثَّانِي عَشَرَ..... فَإِنْ أَخَّرَ يُسْتَحَبُّ أَنْ لَا يَأْكُلَ مِنْهُ، وَيَتَصَدَّقُ بِالْكُلِّ. فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۵ ، الباب الثالث، ط: رشيدية.

(۱): وَقْتُ الْأُضْحِيَةِ ثَلَاثَةُ أَيَّامِ الْعَاشِرُ وَالْحَادِيَ عَشَرَ وَالثَّانِيَ عَشَرَ، أَوَّلُهَا أَفْضَلُهَا وَآخِرُهَا أَدْوَنُهَا، وَيَجُوزُ فِي نَهَارِهَا وَلَيْلِهَا بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ إلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ مِنْ الْيَوْمِ الثَّانِي عَشَرَ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۵، الباب الثالث، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۶۵، فصل أما وقت الوجوب، شامي ج: ص: ۳۱۸، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۲، ط: رشيدية.

(۲): إذَا اسْتَخْلَفَ الْإِمَامُ مَنْ يُصَلِّي بِالضَّعَفَةِ فِي الْمَسْجِدِ الْجَامِعِ وَخَرَجَ بِنَفْسِهِ إلَى الْجَبَّانَةِ مَعَ الْأَقْوِيَاءِ فَضَحَّى رَجُلٌ بَعْدَ مَا انْصَرَفَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ أَهْلُ الْجَبَّانَةِ، الْقِيَاسُ أَنْ لَا تَجُوزَ وَفِي الِاسْتِحْسَانِ تَجُوزُ إنْ ضَحَّى بَعْدَ مَا فَرَغَ أَهْلُ الْجَبَّانَةِ قَبْلَ أَهْلِ الْمَسْجِدِ، قِيلَ فِي هَذِهِ الصُّورَةِ: يَجُوزُ فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۵، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۷۳، فصل أما شرائط جواز إقامة الواجب، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵.

(۳): إذَا تَرَكَ الصَّلَاةَ يَوْمَ النَّحْرِ بِعُذْرٍ أَوْ بِغَيْرِ عُذْرٍ لَا تَجُوزُ الْأُضْحِيَةُ حَتَّى تَزُولَ الشَّمْسُ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۵ ، الباب الثالث في وقت الأضحية ، ط: رشيدية.

اعتبار نشته، قرباني يې صحيح کيږي.[۴]

که د حلالې لپاره يې د قرباني حيوان څملولو او د چاړې چلولو نه وړاندې د څاروي سترګه خپله راووتل؛ نو د دغه څاروي قرباني صحيح ده. (عناية على فتح القدير، ټوک: ۸ مخ: ۴۳۵)[۱]

قرباني کوونکي په يو هېواد او څاروی په بل هېواد کې وي

که قرباني کوونکي په يو هېواد کې وي او د قربانۍ څاروی په بل هېواد کې وي؛ نو په دې صورت کې به څاروي او قرباني کوونکي دواړو ته اعتبار ورکول کيږي، هغه دا چې په کومه ورځ دواړو هېوادونو کې شريک اختر وي په هغه ورځ به څاروی قرباني کړي.[۲]

د بېلګې په ډول يو سړی په سعودي کې وي او غواړي د قربانۍ څاروی په پاکستان کې حلال کړي، دا چې زياتره وخت په پاکستان کې اختر د سعودي نه يوه ورځ وروسته وي؛ نو په دې صورت کې د شريکې ورځې اختر د سعودي د اختر دويمه او د پاکستان لومړۍ ورځ شريکې اختر دی. ددې وجې دې د پاکستان د اختر په لومړۍ

---

(۴) : ولو قدم أضحية ليذبحها فاضطربت في المكان الذي يذبحها فيه فانكسرت رجلها ثم ذبحها على مكانها أجزاه الخ... هندية : ج ۵ ص: ۲۹۹، ط: رشيدية ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۵، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، ط: سعيد.

(۱) : وَكَذَلِكَ إِنْ انْفَلَتَتْ عَنْهُ الْبَقَرَةُ فَأُصِيبَتْ عَيْنُهَا فَذَهَبَتْ، وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا تَجُوزَ.... وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّ هَذَا مِمَّا لَا يُمْكِنُ الِاحْتِرَازُ عَنْهُ لِأَنَّ الشَّاةَ تَضْطَرِبُ فَتَلْحَقُهَا الْعُيُوبُ مِنْ اضْطِرَابِهَا، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۹، الباب الخامس، في بيان محل إقامة الواجب، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶.

(۲) : وَرُوِيَ عَنْهُمَا أَيْضًا أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا كَانَ فِي مِصْرٍ وَأَهْلُهُ فِي مِصْرٍ آخَرَ فَكَتَبَ إِلَيْهِمْ لِيُضَحُّوا عَنْهُ، فَإِنَّهُ يُعْتَبَرُ مَكَانُ التَّضْحِيَةِ فَيَنْبَغِي أَنْ يُضَحُّوا عَنْهُ بَعْدَ فَرَاغِ الْإِمَامِ مِنْ صَلَاتِهِ فِي الْمِصْرِ الَّذِي يُضَحَّى عَنْهُ فِيهِ، وَعَنْ أَبِي الْحَسَنِ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ حَتَّى يُصَلِّيَ فِي الْمِصْرَيْنِ جَمِيعًا. هندية ج: ۵ ص: ۲۹۶، الباب الرابع فيما يتعلق بالمكان والزمان، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۷۴، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب.

يا دويمه ورځ غاروي حلال کړي، کنه نو قرباني به يې صحيح نه وي. د بېلګې په ډول: پاکستان کې يې په نهمه د ذي الحجې يا دولسمه د ذي الحجې غاروي حلال کړ؛ نو په سعودي کې د مېشت سړي قرباني نه صحيح کېږي.

قرباني کوونکی د قرباني کولو نه وړاندې ومړ

که د قرباني په ورځو کې د غاروي د حلالولو نه وړاندې قرباني کوونکی مړ شو، نو قرباني ترې ساقط شوه، په شرط د دې چې سړی شتمن وي غريب نه وي؛ [1]خو دا چې که وارثان يې بالغ وي او ټول په خپله خوښه د مړي له لورې قرباني کوي؛ نو دا هم غوره ده.[2]

که غريب د قرباني په نيت غاروی واخلي او د غاروي د حلالولو نه وړاندې مړ شي؛ نو قرباني به خامخا کوي، په وارثانو باندې د هغې حلالول ضروري دي.[3]

---

(۱): وَلَوْ مَاتَ الْمُوسِرُ فِي أَيَّامِ النَّحْرِ قَبْلَ أَنْ يُضَحِّيَ سَقَطَتْ عَنْهُ الْأُضْحِيَّةُ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۳، كتاب الأضحية، بدائع ج: ۵ ص: ۶۵، فصلٌ أما كيفية الوجوب، ط: سعيد. وَلَوْ كَانَ مُوسِرًا فِي أَيَّامِ النَّحْرِ فَلَمْ يُضَحِّ حَتَّى مَاتَ قَبْلَ مُضِيِّ أَيَّامِ النَّحْرِ سَقَطَتْ عَنْهُ الْأُضْحِيَّةُ حَتَّى لَا يَجِبَ عَلَيْهِ الْإِيصَاءُ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، الباب الرابع، ط: رشيدية.

(۲): (وَإِنْ) (مَاتَ أَحَدُ السَّبْعَةِ) الْمُشْتَرِكِينَ فِي الْبَدَنَةِ (وَقَالَ الْوَرَثَةُ اذْبَحُوا عَنْهُ وَعَنْكُمْ) (صَحَّ) عَنْ الْكُلِّ اسْتِحْسَانًا لِقَصْدِ الْقُرْبَةِ مِنْ الْكُلِّ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد، وَقَالَ (الْوَرَثَةُ) أَيْ الْكِبَارُ مِنْهُمْ نِهَايَةٌ هَذَا وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ. قَالَ فِي الْبَدَائِعِ لِأَنَّ الْمَوْتَ لَا يَمْنَعُ التَّقَرُّبَ عَنْ الْمَيِّتِ بِدَلِيلِ أَنَّهُ يَجُوزُ أَنْ يُتَصَدَّقَ عَنْهُ وَيُحَجَّ عَنْهُ، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۷۲، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب.

(۳): أَنَّ الشِّرَاءَ مِنْ الْفَقِيرِ لِلْأُضْحِيَّةِ بِمَنْزِلَةِ النَّذْرِ، بدائع ج: ۵ ص: ۶۶، فصلٌ أما كيفية الوجوب، ط: سعيد، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۵، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۵، الباب الثامن.

د قرباني کوونکي لپاره غوره عمل

څوک چې د قربانۍ کولو اراده لري د هغه لپاره مستحب ده چې د ذي الحجې د میاشتې د پیل نه د خپل بدن د کوم غړي، نوک او وېښتو صفايي ونه کړي، ځکه چې قرباني کوونکی د خپل ځان فدیه په قربانۍ سره ورکوي، د قربانۍ د څاروي هر جزء د قرباني کوونکي د هر جزء بدل دی، د جسم کومه برخه د رحمت د نازلېدو پرمهال د قربانۍ د رحمت نه د بې برخې کېدو په معنا سره ده، ددې وجې رسول الله ﷺ دغه یاد حکم کړی دی؛ خو د ځلوېښتو ورځو نه د زیاتې مودې په صورت کې نوکان او وېښتان پاکول لازم دي.[1]

قرباني په چا باندې واجب ده؟

قرباني په هر هغه هوښیار، بالغ او مقیم ښځې او نارینه باندې واجب ده چې د نصاب څښتن وي، یا هغه د دومره زیاتي مال څښتنه وي چې قیمت یې دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو سره سمون خوري. یعني اوه نیمې تولې سره زر یا دوه پنځوس نیمې تولې سپین زر یا

---

[1] : وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ وَأَرَادَ بَعْضُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَمَسَّ مِنْ شَعْرِهِ وَبَشَرِهِ شَيْئًا» وَفِي رِوَايَةٍ «فَلَا يَأْخُذَنَّ شَعْرًا وَلَا يَقْلِمَنَّ ظُفُرًا» وَفِي رِوَايَةٍ «مَنْ رَأَى هِلَالَ ذِي الْحِجَّةِ وَأَرَادَ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَأْخُذْ مِنْ شَعْرِهِ وَلَا مِنْ أَظْفَارِهِ» . رَوَاهُ مُسلم ، رواه النسائي، ج: ۲ ص: ۲۰۱؛ ط: قديمي كتب خانه ، مشكاة المصابيح ص: ۱۲۷، ط: قديمي كتب خانه، وَظَاهِرُ كَلَامِ شُرَّاحِ الْحَدِيثِ مِنَ الْحَنَفِيَّةِ أَنَّهُ يُسْتَحَبُّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ... وَالْأَوْلَى أَنْ يُقَالَ: الْمُضَحِّي يَرَى نَفْسَهُ مُسْتَوْجِبَةً لِلْعِقَابِ وَهُوَ الْقَتْلُ، وَلَمْ يُؤْذَنْ فِيهِ فَفَدَاهَا بِالْأُضْحِيَّةِ، وَصَارَ كُلُّ جُزْءٍ مِنْهَا فِدَاءً كُلِّ جُزْءٍ مِنْهُ، فَلِذَلِكَ نُهِيَ عَنْ مَسِّ الشَّعْرِ وَالْبَشَرِ ; لِئَلَّا يُفْقَدَ مِنْ ذَلِكَ قِسْطٌ مَا عِنْدَ تَنَزُّلِ الرَّحْمَةِ، وَفَيَضَانِ النُّورِ الْإِلَهِيِّ، لِيَتِمَّ لَهُ الْفَضَائِلُ، وَيَتَنَزَّهَ عَنِ النَّقَائِصِ. (مرقاة المفاتيح باب الأضحية ، ج: ۳ ص: ۳۰۶، ط: امدادية.)

ددې د قيمت په برابر روپۍ وي، يا د اوسېدونكي كور پرته زياتي كور او ځمكې وي يا د اړتيا پرته د كور توكي وي يا د تجارت مال وي چې قيمت يې دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو ته رسيږي: نو په هغه باندې يوه برخه قرباني كول واجب دي.[۲]

د قربانۍ د وجوب لپاره د نصاب په مال او روپو باندې د پوره كال تېرېدل او تجارتي كېدل شرط نه دي، د ذي الحجې د دولسم تاريخ د لمر ډوبېدو نه وړاندې چې څوک د نصاب څښتن شي په هغه باندې قرباني واجب ده.[۱]

د قربانۍ په اخيرنۍ ورځ كې چې څوک د نصاب څښتن شي، يا د اړتيا پرته د مال څښتن شي: نو په هغه باندې قرباني واجب ده.[۲]

د چا سره چې د اړتيا پرته زياتي كور وي، برابره خبره ده چې د تجارت لپاره وي او كه نه وي، د اړتيا پرته زياتي موټر وي؛ نو دا سړی د قربانۍ په حق كې د نصاب څښتن دی او په هغه باندې

---

(۲) : وَشَرَائِطُهَا) أَيْ شَرَائِطُ وُجُوبِهَا. الْإِسْلَامُ وَالْإِقَامَةُ وَالْيَسَارُ الَّذِي يَتَعَلَّقُ بِهِ) وُجُوبُ (صَدَقَةِ الْفِطْرِ) وَلَمْ يَذْكُرْ الْحُرِّيَّةَ صَرِيحًا لِعِلْمِهَا مِنْ قَوْلِهِ وَالْيَسَارُ، وَلَا الْعَقْلَ وَالْبُلُوغَ لِمَا فِيهَا مِنْ الْخِلَافِ ... وَالْمَرْأَةُ مُوسِرَةٌ بِالْمُعَجَّلِ لَوْ الزَّوْجُ مَلِيًّا وَبِالْمُؤَجَّلِ لَا. بِأَنْ مَلَكَ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ أَوْ عَرَضًا يُسَاوِيهَا غَيْرَ مَسْكَنِهِ وَثِيَابِ اللُّبْسِ أَوْ مَتَاعٍ يَحْتَاجُهُ إلَى أَنْ يَذْبَحَ الْأُضْحِيَّةَ وَلَوْ لَهُ عَقَارٌ يَسْتَغِلُّهُ فَقِيلَ تَلْزَمُ لَوْ قِيمَتُهُ نِصَابًا، وَقِيلَ لَوْ يَدْخُلُ مِنْهُ قُوتُ سَنَةٍ تَلْزَمُ، وَقِيلَ قُوتُ شَهْرٍ، فَمَتَى فَضَلَ نِصَابٌ تَلْزَمُهُ. وَلَوْ الْعَقَارُ وَقْفًا، فَإِنْ وَجَبَ لَهُ فِي أَيَّامِهَا نِصَابٌ تَلْزَمُ، وَصَاحِبُ الثِّيَابِ الْأَرْبَعَةِ لَوْ سَاوَى الرَّابِعُ نِصَابًا غَنِيٌّ وَثَلَاثَةٌ فَلَا، رد المختار ج: ۶ ص: ۳۱۲، كتاب الأضحية ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲، كتاب الأضحية، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۶۴، فصلٌ أما شرائط الوجوب، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴.

(۱) : وَلَا يُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ غَنِيًّا فِي جَمِيعِ الْوَقْتِ حَتَّى لَوْ كَانَ فَقِيرًا فِي أَوَّلِ الْوَقْتِ ثُمَّ أَيْسَرَ فِي آخِرِهِ يَجِبُ عَلَيْهِ ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲، الباب الأول، ط: رشيدية ، بدائع ج: ۵ ص: ۶۵، ط: سعيد.

(۲) : أَنَّ الْأُضْحِيَّةَ لَهَا وَقْتٌ مُقَدَّرٌ كَالصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ وَالْعِبْرَةُ لِلْوُجُوبِ فِي آخِرِهِ كَمَا يَأْتِي، فَمَنْ كَانَ غَنِيًّا آخِرَهُ تَلْزَمُهُ، رد المختار ج: ۶ ص: ۳۱۵. ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۶۵، ط: سعيد.

قرباني واجب ده.[۳]
د تجارت کوم توکي چې هم وي؛ خو چې د دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو ته يې قيمت رسيږي په هغه باندې قرباني واجب ده.[۱]

د قربانۍ حقيقت

په اصل کې خو د قربانۍ حقيقت دا دی چې بنده د الله تعالی په وړاندې خپل ځان وړاندې کوي، خو الله تعالی ته دا خوښه نه شوه، ځکه الله تعالی دا حکم وکړ چې: تاسو څاروي حلال کړئ! بيا تاسو داسې وګڼئ لکه تاسو چې خپله قرباني شوئ!![۲]

د قربانۍ قضاء

که د قربانۍ ورځې تيرې شي، د بې خبرۍ يا نا پوهۍ له امله قرباني پاتې شي؛ نو په غريبانانو باندې د قربانۍ قيمت صدقه کول واجب دي؛ خو د قربانۍ په درې ورځو کې د څاروي د قيمت په صدقه کولو سره د قربانۍ وجوب نه ادا کيږي بلکې دغه سړی به ګنهګار وي، ځکه چې قرباني ځانته عبادت دی، لکه په لمونځ کولو سره چې روژه نه ادا کيږي او په روژې نيولو سره لمونځ نه ادا کيږي، د زکوة په ورکولو سره حج نه ادا کيږي، دغه راز په صدقې کولو سره قرباني

---

(۲) (۳) : وأما شرائط الذكاة منها أن يكونَ مسلماً ..... فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۵، كتاب الذبائح، الباب الأول في ركنه وشرائطه، ط: رشيدية، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۲۹۶، كتاب الذبائح.

(۴) : احسن الفتاوى ج: ۷ ص: ۵۱۰، كتاب الأضحية والعقيقة، ط: سعيد.

(۵) : (أَمَّا جِنْسُهُ) : فَهُوَ أَنْ يَكُونَ مِنْ الْأَجْنَاسِ الثَّلَاثَةِ: الْغَنَمِ أَوْ الْإِبِلِ أَوْ الْبَقَرِ، وَيَدْخُلُ فِي كُلِّ جِنْسٍ نَوْعُهُ، وَالذَّكَرُ وَالْأُنْثَى مِنْهُ، وقيلَ: وَالْمَعْزُ نَوْعٌ مِنْ الْغَنَمِ. (هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، الباب الخامس، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۲ ، كتاب الأضحية ط: سعيد ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، كتاب الأضحية ط: سعيد ، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۹ ، فصل أما محل إقامة الواجب، ط: سعيد)

راکاږل[۱] او د څاروي د څملولو وروسته په حلاله کې ځنډ کول مکروه دي.[۲]

د څاروي د حلالولو وړاندې وږې او تږې ساتل مکروه دي.[۳]

د څاروي د حلالولو لپاره غوره او اسانه طريقه خپلول پکار ده، بې ځايه سختي کول مکروه ده.[۴]

په چپ لور مخ پر قبله بايد څملول شي، د دې خلاف کول مکروه دي.[۵]

په پخه چاړه حلالول مکروه دي.[۶]

د څاروي په وړاندې چاړه تېره کول مکروه دي.[۷]

د څاروي د څملولو وروسته چاړه تېره کول مکروه دي.[۸]

يو څاروی د بل څاروي په وړاندې حلالول مکروه دي.[۹]

دغه راز په سختۍ سره د څاروي حلالول چې سر يې جدا شي يا د

---

(۱): ويكره جرها برجلها إلى المذبح، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷، ط: رشيدية، بـدائع ج: ۵ ص: ۶۰.

(۲): الحاصل أن كل ما فيه زيادة ألم لا يحتاج إليه في الذكاة مكروه، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۸، ط: رشيدية، الدر مع الرد ج: ۲ ص: ۲۹۶، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، ط: سعيد.

(۳): أيضاً.

(۴): أيضاً.

(۵): وإذا ذبحها بغير توجه القبلة حلت ولكن يكره، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۸، ط: رشيدية، بدائع ج: ۵ ص: ۶۰.

(۶): ويكره بغير الحديد وبالكليل من الحديد، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷، ط: رشيدية.

(۷): ويكره أن يحد الشفرة بين يديه، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷، ط: رشيدية، بدائع الصـنائع ج: ۵ ص: ۶۰، ط: سعيد.

(۸): ويكره أن يضجعها ويحد الشفرة بين يديها، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷، ط: رشيدية، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۰، ط: سعيد.

(۹): (قوله وكل تعذيب بلا فائدة) منه ذبح واحدة بحضرة أخرى، طحطاوي على الـدر ج: ۴ ص: ۱۵۲، كتاب الذبائح، شامي ج: ۶ ص: ۲۹۶، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۸.

حرام مغز هډوکي ته چاړه ښکته شي دا هم مکروه دي.[۲]
د غاړې د پورتنۍ برخې نه حلاله پيلول مکروه دي.[۳]
د حلالې وروسته د ځناروي د يخېدو وړاندې سر پرې کول يا څرمن ويستل دواړه مکروه دي.[۴]

مزدور

که مزدور د نصاب څښتن وي؛ نو په هغه باندې قرباني واجب ده، د حکومتي او عوامي مزدورۍ حکم يو دی.

که مزدور د نصاب څښتن نه وي، کومه تنخا چې ورته ورکول کيږي هغه يې د مياشتې خرچه وي. يا زياتي روپۍ ورته پاتې کيږي؛ خو د نصاب حد ته نه رسيږي، بيا په هغه باندې زکات او قرباني نه کيږي.[۱]

---

[۲] : (وَكُرِهَ النَّخعُ وَقَطْعُ الرَّأْسِ وَالذَّبْحُ مِنَ الْقَفَاء) النَّخعُ هُوَ أَنْ يَصِلَ النُّخاعَ وَهُوَ خَيْطٌ أَبْيَضُ فِي جَوْفِ عَظْمِ الرَّقَبَةِ وَفِي قَطْعِ الرَّأْسِ زِيَادَةُ تَعْذِيبٍ فَيُكْرَهُ ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، ط: سعيد، بـــدائع ج: ۵ ص: ۶۰.

[۳] : وَكُرِهَ الذبح مِنَ الْقَفَاءِ وف] اللابح من القفا زيادة ألم فيكرهُ ، البحـــر ج: ۸ ص: ۱۷۰، ط: سعيد.

[۴] : ويكره أن يَكْسِرَ رَقَبَتَهَا قَبْلَ أَنْ تَسْكُنَ مِنَ الاضْطِرَاب وَيُكْرَهُ أَنْ يَسْلُخَ قَبْلَ أَنْ يَبْرُدَ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۰، كتاب الذبائح، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۶۰، ط: سعيد، وكره كل تعـــذيب بـــلا فائدة مثل (قطع الرأس والسلخ قبل أن تبرد) أى تسكن عن الإضطراب،) الدر مع الـــرد ج: ۶ ص: ۲۹۶.

[۱] : وشرائطها: الإسلام والإقامة واليسار الخ.... شامي ج: ۶ ص: ۳۱۲، كتاب الأضـــحية، ط: ايج ، ايم ، سعيد، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲، كتاب الأضحية ، الباب الأول في تفسيرها ، بدائع ج: ۵ ص: ۶۳، فصلٌ في شرائط الوجوب، ط: سعيد، تكملة فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۵، كتاب الأضحية ط: رشيدية.

مېرمن

که مېرمنه بډایه او د نصاب څښتنه وي، یا د ضرورت پرته دومره مال ولري چې قرباني ورباندې واجبېدلای شي؛ نو پر مېرمنې د قربانۍ کول لازم دي، پر مېړه د مېرمنې لخوا د قربانۍ کول اړین نه دي.[۲]

که د مېرمنې په اجازه مېړه د مېرمنې لخوا قرباني کوي، د مېرمنې لخوا قرباني صحیح کېږي، او که مېړه یې نه کوي، په مېرمنې یې قرباني لازمه ده.[۳]

د مېړه قرباني د مېرمنې لخوا یا د مېړه لخوا د مېرمنې قرباني یوه بل ته بښنه نه کوي، هریو به بېله بېله قرباني کوي.[۴]

د مسلمان په لاس حلاله

څرنګه چې د "بسم الله الله اکبر" په ویلو سره څاروی حلالېږي، همدارنګه که یو بې لمانځه مسلمان د څاروي پر غاړه په ولاړه چاړه

---

(۲) : وَشَرَائِطُهَا: الْإِسْلَامُ وَالْإِقَامَةُ وَالْيَسَارُ الَّذِي يَتَعَلَّقُ بِهِ) وُجُوبُ (صَدَقَةِ الْفِطْرِ) (لَا الذُّكُورَةُ فَتَجِبُ عَلَى الْأُنْثَى)، (قَوْلُهُ وَالْيَسَارُ إلَخْ) بِأَنْ مَلَكَ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ أَوْ عَرَضًا يُسَاوِيهَا غَيْرَ مَسْكَنِهِ.... يَحْتَاجُهُ إلَى أَنْ يَذْبَحَ الْأُضْحِيَّةَ . (شامي ج: ۶ ص: ۳۱۲ ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۳، ط: سعيد)

(۳) : وليسَ على الرجل أنْ يضحي عنْ أولاده الكبار وامرءته إلا باذنه . (فتاوى هنديــة ج:.۵ ص: ۲۹۳، الباب الأول ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۵ ، بــدائع ج:.۵ ص: ۶۷ ، فصلٌ أما كيفية الوجوب.)

(۴) : تجب على حر مسلمٍ موسرٍ مقيمٍ عنْ نفسه....شاة او سبع بدنة فجر يوم النحر . (البحر ج: ۸ ص: ۱۷۳، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۲ ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲، كتاب الأضحية، الباب الأول .)

کېږدي او د ښاروي رګونه پرې کړي، حلال (ذبحه) شوی ښاروی حلال دي.[۱]

مېنچې پخول

د اختر په ورځ مېنچې پخول روا دي؛ خو لازمول يې ناروا دي.

د مردار خور ښاروي قرباني

د مردار خور ښاروي قرباني د بندولو (تړلو) نه وړاندې روا نه ده؛ خو که د قرباني کولو نه يې څو ورځې وړاندې وتړي، واښه او بوس ورکړي چې د مرادريو څخه لرې وي؛ نو د هغه ښاروي قرباني کول روا دي. که اوښ وي هغه به څلوېښت ورځې تړي، غوا، مېښه او غويی به شل ورځې تړي، بزه او ګډه به لس ورځې تړي- واښه او بوس به ورکوي.[۲]

په مېړه (خاوند) باندې ښځې ته قرباني کول ضروري نه دي

د ښځې له لورې په مېړه باندې قرباني کول لازمي نه دي؛ خو د ښځې د اجازې وروسته قرباني کولای شي.[۱]

(۱) : (وَالذَّبْحُ قَطْعُ الْأَوْدَاجِ)... (وَحَلَّ ذَبِيحَةُ مُسْلِمٍ وَكِتَابِيٍّ) وذكر الحلواني أنّ المستحب أنْ يقولَ : بسم الله الله اكبر ثلاثاً . البحر ج: ۸ ص: ۱۶۷، ۱۶۹، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۵، ۲۸۸.

(۲) : وَلَا تجُوزُ الْجَلَّالَةُ وَهِيَ الَّتِي تَأْكُلُ الْعَذِرَةَ وَلَا تَأْكُلُ غَيْرَهَا، فَإِنْ كَانَتْ الْجَلَّالَةُ إبِلًا تُمْسَكُ أَرْبَعِينَ يَوْمًا حَتَّى يَطِيبَ لَحْمُهَا وَالْبَقَرُ يُمْسَكُ عِشْرِينَ يَوْمًا وَالْغَنَمُ عَشَرَةَ أَيَّامٍ . فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۸، ط: رشيدية ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۵، بدائع ج: ۵ ص: ۴۵، فصلٌ أما بيان شرط حل الأكل، ط: سعيد.

(۱) : وَلَوْ ضَحَّى بِبَدَنَةٍ عَنْ نَفْسِهِ وَعُرْسِهِ وَأَوْلَادِهِ لَيْسَ هَذَا فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَقَالَ الْحَسَنُ بْنُ زِيَادٍ فِي كِتَابِ الْأُضْحِيَّةِ: إنْ كَانَ أَوْلَادُهُ صِغَارًا جَازَ عَنْهُ وَعَنْهُمْ جَمِيعًا فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ - رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى -، وَإِنْ كَانُوا كِبَارًا إنْ فَعَلَ بِأَمْرِهِمْ جَازَ عَنْ الْكُلِّ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ

په منی کې د قربانۍ کولو ثواب زيات دی

د قربانۍ پيل د منی څخه شوی دی، ددې وجې په منی کې د قربانۍ کولو ثواب د نورو ځايونو نه زيات دی، ددې وجې رسول الله ﷺ د حج په ورځو کې سل اوښان قرباني کړه، دري شپېته يې خپله حلال کړه او نور يې علي رضي الله عنه ته وسپارل، دا ډېرې قربانۍ يې د لوی فضيلت له وجې کړې دي [٢] او په عام وخت کې نبي کريم ﷺ خپله دوه قربانۍ کړې دي. [٣]

مهر او قرباني

کومه ښځه چې غريبه وي: خو په خاوند باندې يې مهر (مؤجل) د نصاب نه زيات وي؛ خو تر اوسه پورې ښځې ته نه وي ورکول شوی؛

رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى، وَإِنْ فَعَلَ بِغَيْرِ أَمْرِهِمْ أَوْ بِغَيْرِ أَمْرِ بَعْضِهِمْ لَا تَجُوزُ عَنْهُ وَلَا عَنْهُمْ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا؛ هندية ج: ٥ ص: ٣٠٢، الباب السابع في التضحية عن الغير، ط: رشيدية ، وليس على الرجل أن يضحي عن أولاده الكبار وامرءته إلا بإذنه ، هندية ج: ٥ ص: ٢٩٣، ط: رشيدية، شامي ج: ٦ ص: ٣١٥، ط: سعيد.

(٢) : وَالدَّلِيلُ عَلَيْهِ مَا رُوِيَ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – سَاقَ مِائَةَ بَدَنَةٍ فَنَحَرَ مِنْهَا نَيِّفًا وَسِتِّينَ بِيَدِهِ الشَّرِيفَةِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – ثُمَّ أَعْطَى الْمُدْيَةَ سَيِّدَنَا عَلِيًّا – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – فَنَحَرَ الْبَاقِينَ» ، بدائع الصنائع ج: ٥ ص: ٧٩، فصلٌ أما بيان مايستحب قبل التضحية، ط: سعيد، البحر الرائق ج: ٨ ص: ١٧٩، ط: سعيد.

(٣) : وَقَدْ صَحَّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – «كَانَ يُضَحِّي كُلَّ سَنَةٍ بِشَاتَيْنِ ، فتاوى هندية ج: ٥ ص: ٢٩٥، بدائع ج: ٥ ص: ٧٩، ط: سعيد، عَنْ أَنَسِ بن مالكٍ قَالَ: «ضَحَّى رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ أَمْلَحَيْنِ ، ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ، وَسَمَّى وَكَبَّرَ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا» (مشكاة المصابيح ص: ١٢٨، الفصل الثاني، ط: قديمي كتب خانه، رواه أبو داؤد ج: ٢ ص: ٣٠، باب ما يستحب من الضحايا، والترمذي ج: ١ ص: ٢٧٥، باب في الأضحية بكبشين.)

نو ښځه به ددې وجې غريبه ګڼل کيږي او قرباني پرې واجبه نه ده.[۱] که د ښځې مهر (معجل) وي او هغه د نصاب په برابر يا د نصاب نه زيات وي؛ نو قرباني پرې واجبه ده او په دې ښځه باندې يوه برخه قرباني کول واجب دي.[۲]

د مړي له لورې قرباني کول

د مړي له لورې قرباني کول روا دي، مړي ته به يې ثواب رسيږي، علي رضي الله عنه به يوه قرباني د خپل طرف نه کول او بله به يې د نبي کريم ﷺ له لورې کول.[۳]

د مړي له لورې د قربانۍ کولو دوه طريقې دي:[۴]

(الف): ..... د مړي له لورې دې يوه برخه قرباني کړي.

(ب):.... قرباني کوونکی دې د واجبې قربانۍ پرته يوه بله قرباني

---

(۱): والمرأة بالمؤجل لا، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۱۲، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴، ط: سعيد، وفي الهندية: واما المؤجل الذي سمي بالفارسية (كابين) فالمرأة لاتعتبر موسرة بذلك وبالإجماع، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲.

(۲): والمرأة موسرة بالمعجل لو الزوج مليا، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۱۲، ط: سعيد، وفي الهندية: والمرأة تعتبر موسرة بالمهر إذا كان الزوج مليا في المعجل الذي يقال له بالفارسية (دست پيمان) هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲.

(۳): قال في البدائع: إنَّ الموت لا يمنع التقرب عن الميت بدَليلِ أنَّهُ يَجُوزُ أنْ يُتَصدَّقَ عَنْهُ ويُحَجُّ عَنْهُ) شامي ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد..... فدلَّ أنَّ الميتَ يجوزُ أنْ يتقربَ عنهُ فإذا ذبح عنه صار نصيبه للقربة، بدئع ج: ۵ ص: ۷۲، ط: سعيد، وَعَنْ حَنَشٍ قَالَ: رَأَيْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يُضَحِّي بِكَبْشَيْنِ فَقُلْتُ لَهُ: مَا هَذَا؟ فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصَانِي أَنْ أُضَحِّيَ عَنْهُ فَأَنَا أُضَحِّي عنهُ، رواهُ أبو داؤد ج: ۲ ص: ۲۹، ط: حقانية، والترمذي ج: ۱ ص: ۲۷۵، باب في الأضحية بكبشين، ط: سعيد، مشكاة المصابيح ص: ۱۲۸، الفصل الثاني، ط: قديمي كتب خانه.)

(۴): قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: يَدُلُّ عَلَى أنَّ التَّضحِيَةَ تَجُوزُ عَمَّنْ مَاتَ. مرقاة المفاتيح ج: ۳ ص: ۳۰۹، باب الأضحية، ط: امدادية، ملتان.

وکړي او دهغې ثواب دي مړي ته وبښي.[۱]

د مړي له لورې قرباني

د مړي له لورې د قربانۍ کولو دوه صورتونه دي: (۱): که مړي وصيت کړی وي؛ نو د غوښې صدقه کول ضروري دي، شتمنو خلکو لپاره د غوښې خوړل ناروا دي.

که مړي د قربانۍ کولو وصيت نه وي کړی بلکې وارثان په خپله خوښه قرباني ورته کوي، بيا ددې غوښه شتمن او غريب ټول خوړلی شي. ټوله غوښه صدقه کول لازم نه دي، څومره چې غواړي هغه دي صدقه کړي او څومره چې غواړي له ځانه سره يې کېښودلای شي.[۲]

د مړي له لورې څنګه قرباني وشي؟

د کوم مړي له لورې چې قرباني کوي يوه برخه به ورته ضرور اخلي، يوه برخه د يو مړي نه د زياتو لپاره نه صحيح کيږي؛ خو دا چې څوک د ځان له لورې نفلي قرباني وکړي او ثواب يې د ډېرو مړو ته ببښي هم صحيح دي. لکه نبي کريم ﷺ چې د يوې قربانۍ ثواب خپل ټول امت ته ببښلی دی. هر هغه څوک چې وس لري بايد خپلو مړو ته قرباني ورکړي، ځکه چې مړو ته هم ګټه رسيږي او قرباني ته هم ثواب وي.[۱]

---

[۱]: وإنْ كَانَ أحَدُ الشُرَكَاء مِمَّنْ يُضَحِّي عَنْ مَيِّتٍ جَازَ. بدائع ج: ۵ ص: ۷۲، فصلٌ أما شـرائط جواز إقامة الواجب، ط: سعيد.

[۲]: (قوله وعن ميت) أي لَوْ ضحى عَنْ مَيِّتٍ وَارِثُهُ بِأَمْرِه أَلْزَمَهُ بِالتَّصَدُّقِ بِهَا وَعَدَمِ الْأَكْلِ مِنْهَا، وَإِنْ تبرع بها عنه له الْأَكْلُ لِأَنَّهُ يَقَعُ على مِلْكِ الذَّابِحِ وَالثَّوَابُ لِلْمَيِّتِ، شـامي ج: ۶ ص: ۳۲۷، ۳۳۵، قبيل كتاب الحظر والإباحة ، ط: سعيد.

[۱]: عَنْ جابِرٍ قَالَ: ذبح النَّبيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الذَّبْحِ كَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ أَمْلَحَيْنِ موجئين...... ذبح بيده وقال: «بِسْمِ الله وَاللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُمَّ هذَا عَنِّي وَعَمَّنْ لَمْ يُضَحِّ من أمتي» مشكاة المصابيح ص:

د مړي لپاره صدقه کول غوره ده او که قرباني؟

د قربانۍ په ورځو کې مړي ته د ثواب رسولو په خاطر د صدقه کولو ځخه قرباني غوره ده، ځکه چې په صدقه او خيرات کې يوازې روپۍ خرچه کيږي او په قربانۍ کې د روپو سره- سره فدا (قرباني) هم پکښې راځي، ددې وجې قرباني غوره ده.[۲]

(ن)

نحر

په اوښ کې نحر سنت دی او نحر د سينې پورته نږدې برخه، يا د غاړې لاندينۍ برخه کې نيزه يا چاړه وهل او رګونه شکول دي.[۳]

۱۲۸، باب في الأضحية ، وفي رواية: اللهُمَّ تقبَّلْ مِن مُحمَّد، وآلِ مُحمَّد، وَمِن أمَّة مُحمَّد، ثُمَّ ضَحَّى بِهِ» رواه مسلم، مشكاة المصابيح ص: ۱۲۷، ط: قديمي كتب خانه، بدائع ج: ۵ ص: ۷۲، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب.

(۲) : شِرَاءُ الْأُضْحِيَةِ بِعَشَرَةٍ أَوْلَى مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِأَلْفٍ، لأَنَّ القربةَ التي تحصل بإراقة الدم لاتحصل بالصدقة، خلاصة الفتاوى ج: ۴ ص: ۳۲۰، كتاب الأضحية.

(۳) : وَالنَّحْرُ فَرْيُ الْأَوْدَاجِ وَمَحَلُّهُ آخِرُ الْحَلْقِ، وَلَوْ نُحِرَ مَا يُذْبَحُ وَذُبِحَ مَا يُنْحَرُ يَحِلُّ لِوُجُودِ فَرْيِ الْأَوْدَاجِ وَلَكِنَّهُ يُكْرَهُ؛ لِأَنَّ السُّنَّةَ فِي الْإِبِلِ النَّحْرُ وَفِي غَيْرِهَا الذَّبْحُ، أَلَا تَرَى أَنَّ اللَّهَ تَعَالَى ذَكَرَ فِي الْإِبِلِ النَّحْرَ وَفِي الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ الذَّبْحَ فَقَالَ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى }فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ{ [الكوثر: ۲] قِيلَ فِي التَّأْوِيلِ أَيْ: انْحَرْ الْجَزُورَ، وَقَالَ اللَّهُ عَزَّ شَأْنُهُ }إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً{ [البقرة: ٦٧] وَقَالَ تَعَالَى {وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ} بدائع ج: ۵ ص: ۴۱. فصلٌ أما بيان شرط حل الأكل في الحيوان، أَنَّ أَصْحَابَ النَّبِيِّ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - وَرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ كَانُوا يَنْحَرُونَ الْإِبِلَ قِيَامًا مَعْقُولَةَ الْيَدِ الْيُسْرَى ، الخ... بدائع ج: ۵ ص: ۴۱، وَالْأَفْضَلُ فِي الْإِبِلِ النَّحْرُ لِخُلُوِّ لَبَّتِهَا عَنْ اللَّحْمِ وَاجْتِمَاعِ اللَّحْمِ فِيمَا سِوَاهُ مِنْ خَلْفِهَا، بدائع ج. ۵ ص: ۴۱، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۷، كتاب الذبائح، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۱، شامي ج: ۶ ص: ۳۰۳، كتاب الذبائح.

نوک

د قرباني کوونکي لپاره مستحب دا ده چې ښاروي د اختر د لمانځه وروسته حلال کړي او نوکان دي بیا پرې کړي او قرباني نه کوونکي خلک دي د قرباني کوونکو سره د مشابهت له وجې د قرباني د حلالې وروسته نوکونه پرې کړي؛ نو د ثواب څخه به بې برخې پاتې نه شي.[1]

په بل هېواد کې قرباني کول

که څوک بل هېواد ته د قرباني لپاره پیسې ولیږي او هلته قرباني کوي: نو کولی یې شي: خو دومره ده چې د قرباني ورځ به په دواړو هېوادونو کې یوه وي، که په دواړو هېوادونو کې د قرباني ورځ شریکه نه وي بیا یې قرباني نه کیږي، د بېلګې په ډول: په سعودي کې د پاکستان د حساب سره سم یوه ورځ وړاندې اختر پیل کیږي او په پاکستان کې یوه ورځ وروسته؛ نو د سعودي د اوسېدونکي لپاره په پاکستان کې د اختر په لومړي او دویمه ورځ قرباني صحیح

---

(۱): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ وَأَرَادَ بَعْضُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَمَسَّ مِنْ شَعْرِهِ وَبَشَرِهِ شَيْئًا» وَفِي رِوَايَةٍ «فَلَا يَأْخُذَنَّ شَعْرًا وَلَا يَقْلِمَنَّ ظُفُرًا» وَفِي رِوَايَةٍ «مَنْ رَأَى هِلَالَ ذِي الْحِجَّةِ وَأَرَادَ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَأْخُذْ مِنْ شَعْرِهِ وَلَا مِنْ أَظْفَارِهِ» . رَوَاهُ مُسلم ، رواه النسائي، ج. ۲ ص: ۲۰۱، ط: قديمي كتب خانه، مشكاة المصابيح ص: ۱۲۷، ط: قديمي كتب خانه، وَظَاهِرُ كَلَامِ شُرَّاحِ الْحَدِيثِ مِنَ الْحَنَفِيَّةِ أَنَّهُ يُسْتَحَبُّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَالْأَوْلَى أَنْ يُقَالَ: الْمُضَحِّي يرى نَفْسَهُ مُسْتَوْجِبَةً لِلْعِقَابِ وَهُوَ الْقَتْلُ، وَلَمْ يُؤْذَنْ فِيهِ فَفَدَاهَا بِالْأُضْحِيَّةِ، وَصَارَ كُلُّ جُزْءٍ مِنْهَا فِدَاءً كُلِّ جُزْءٍ مِنْهُ، فَلِذَلِكَ نُهِيَ عَنْ مَسِّ الشَّعْرِ وَالْبَشَرِ ؛ لِئَلَّا يُفْقَدَ مِنْ ذَلِكَ قِسْطٌ مَا عِنْدَ تَنَزُّلِ الرَّحْمَةِ، وَفَيَضَانِ النُّورِ الْإِلَهِيِّ، لِيَتِمَّ لَهُ الْفَضَائِلُ، وَيَتَنَزَّهَ عَنِ النَّقَائِصِ. مرقاة المفاتيح باب الأضحية ج: ۳ ص: ۳۰۶، ط: امدادية.

ده؛ خو درېيمه ورځ يې قرباني نه صحيح کېږي، ځکه چې په پاکستان کې د اختر درېيمه ورځ په سعودي کې د اختر ورځې ختمې وي، دغه راز که د پاکستان مېشتي خلک غواړي چې په سعودي کې قرباني وکړي؛ نو د سعودي د اختر په لومړي ورځ يې نه شي کولای، ځکه چې د پاکستان مېشتي خلکو لپاره د سعودي د اختر لومړۍ ورځ دلته اختر نه وي. پکار ده چې د اختر په دويمه او درېيمه ورځ هلته قرباني وکړي. (۱)

د نوکانو او وېښتو کمول

که څوک قرباني کوي مستحب دا دي چې د قربانۍ له حلالولو وروسته نوکان او وېښته کم کړي، هغه چا چې قرباني نه وي کړې، پر هغه مستحب نه دي، که هغه د قرباني کوونکي سره د ورته والي په موخه د قربانيو له حلالولو وروسته نوکان او وېښته کم کړي، شونې ده چې ثواب ترلاسه کړي. (۲)

---

(۱) : قال في البدائع : لَأَنَّ الذَّبح هُوَ الْقُرْبَةُ فَيُعْتَبَرُ مَكَانُ فِعْلِهَا لَا مَكَانُ الْمَفْعُولِ عَنْـهُ. وَإِنْ كَانَ الرَّجُلُ فِي مِصْرٍ وَأَهْلُهُ فِي مِصْرٍ آخَرَ فَكَتَبَ إِلَيْهِمْ أَنْ يُضَحُّوا عَنْهُ رُوِيَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ اعْتَبَرَ مَكَانَ الذَّبِيحَةِ فَقَالَ: يَنْبَغِي لَهُمْ أَنْ لَا يُضَحُّوا عَنْهُ حَتَّى يُصَلِّيَ الْإِمَامُ الَّذِي فِيهِ أَهْلُـهُ، وَإِنْ ضَحَّوْا عَنْهُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ لَمْ يُجْزِهِ، وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ. (بـدائع ج: ۵ ص: ۷۴، ط: سـعيد، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۶، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵، (فتجب التضحية .... (فجر) نصب علـى الظرفية (يوم النحر إلىٰ آخر أيامه) (قوله نصب على الظرفية) أىْ لقوله تجب ، وهذا بيان لأول وقتها مطلقاً للمصري والقروي، الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۱۳، ۴۱۶.

(۲) : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ وَأَرَادَ بَعْضُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَمَسَّ مِنْ شَعْرِهِ وَبَشَرِهِ شَيْئًا. وَفِي رِوَايَةٍ «فَلَا يَأْخُذَنَّ شَعْرًا وَلَا يَقْلِمَنَّ ظُفُرًا» وَفِي رِوَايَةٍ «مَنْ رَأَى هِلَالَ ذِي الْحِجَّةِ وَأَرَادَ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَأْخُذْ مِنْ شَعْرِهِ وَلَا مِنْ أَظْفَـارِهِ» . (ترمـذي ج: ۱ ص: ۲۷۸، ط: سعيد،) قال الإمام الملا علي قاري تحت هذا الحديث فظهر كلام شراح الحديث من الحنفية

نابالغ

که نابالغ ماشوم او ماشومه شتمن وي او د نصاب خښتنان وي، په هغوی باندې قرباني واجب نه ده او په ولي باندې هم د نابالغه ماشومانو له لورې قرباني کول روا نه دي؛ خو که د خپل مال نه د نابالغو لپاره قرباني کوي؛ نو کولای یې شي او ثواب به ورته ورسیږي.(۱)

د ړانده د لاس حلاله

د ښاروي د حلالوالي لپاره دا شرط نه دی چې حلالوونکی به سترګور (بینا) وي. د مسلمان ړوند د لاس حلال شوی ښاروی پاک دی او غوښه خوړل یې هم روا دي؛ خو د بینا د لاس حلاله غوره ده، ددې لپاره چې د حلالې زیان او پوره کول په اسانۍ سره مالوم کړای شي.(۲)

د نابالغه بچیانو له لورې قرباني کول

په شتمن پلار باندې د نابالغو بچیانو له لورې قرباني واجب نه.

أنه يستحب عند أبي حنيفة ......: قَالَ التُّورِبِشْتِيُّ: ذَهَبَ بَعْضُهُمْ إِلَى أَنَّ النَّهْيَ عَنْهُمَا لِلتَّشَبُّهِ بِحُجَّاجِ بَيْتِ اللَّهِ الْحَرَامِ الْمُحْرِمِينَ. مرقاة المفاتيح ج: ۳ ص: ۳۰۶، كتاب الأضحية ، ط: امدادية.

(۱): (وَيُضَحِّي عَنْ وَلَدِهِ الصَّغِيرِ مِنْ مَالِهِ) صَحَّحَهُ فِي الْهِدَايَةِ (وَقِيلَ لَا) صَحَّحَهُ فِي الْكَافِي. قَالَ: وَلَيْسَ لِلْأَبِ أَنْ يَفْعَلَهُ مِنْ مَالِ طِفْلِهِ، وَرَجَّحَهُ ابْنُ الشِّحْنَةِ. قُلْت: وَهُوَ الْمُعْتَمَدُ لِمَا فِي مَتْنِ مَوَاهِبِ الرَّحْمَنِ مِنْ أَنَّهُ أَصَحُّ مَا يُفْتَى بِهِ. وَعَلَّلَهُ فِي الْبُرْهَانِ بِأَنَّهُ إنْ كَانَ الْمَقْصُودُ الْإِتْلَافَ فَالْأَبُ لَا يَمْلِكُهُ فِي مَالِ وَلَدِهِ كَالْعِتْقِ أَوْ التَّصَدُّقِ بِاللَّحْمِ فَمَالُ الصَّبِيِّ لَا يَحْتَمِلُ صَدَقَةَ التَّطَوُّعِ، وَعَزَاهُ لِلْمَبْسُوطِ فَلْيُحْفَظْ. الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۱۶، وج: ۶ ص: ۳۳۵، ط: سعيد.

(۲): وشرط كون الذابح مسلماً .... (شامي ج: ۶ ص: ۲۹۶، بدائع ج: ۵ ص: ۴۵، هندية ج: ۵ ص: ۲۸۵، ط: رشيدية)

بلکې مستحب ده، که قرباني کوي؛ خو ثواب به ورته ورسيږي او که نه يې کوي؛ نو نه ګنهګاره کيږي.[۳]

نذر منل

کوم کس چې د قرباني نذر ومني، په هغه باندې قرباني واجب ده، برابره خبره ده چې قرباني کوونکی شتمن وي او که غريب د دواړو حکم يو دی.[۱]

که شتمن سړی قرباني نذر کړي؛ نو هغه به دوه قرباني کوي. يوه د نذر له وجې او بله د نصاب له وجې.[۲]

د نابالغ د لاس حلاله

که نابالغه ماشوم د حلالې چل زده وي او "بسم الله الله اکبر" ويلی شي

---

(۳): وفي الولد الصغير عن أبي حنيفة روايتان: في ظاهر الرواية يستحب ولايجب بخلاف صدقة الفطر، فتاوى قاضي خان على هامش الهندية، كتاب الأضحية، فصلٌ في صفة الأضحية و وقت وجوبها، ج: ۳ ص: ۳۴۵، ط: ماجدية ، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۳، شرائط الوجوب، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۴، فصلٌ أما شرائط الوجوب، تكملة فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۸، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۵، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴.

(۱): قال في البدائع: أمَّا الَّذي يجبُ على الْغنيِّ وَالْفقيرِ فَالْمَنْذُورُ به، بأنْ قالَ للّٰه عليَّ أنْ أضحِّيَ شاةً أوْ بدنةً لِتلزَمَ بالنّذر كسائر الْقُرَب وَالْوُجُوبُ بالنّذر يستوي فيه الْغنيُّ وَالْفقيرُ اهـ رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۰، ط: سعيد، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۱، كتاب التضحية ، ط: سعيد.

(۲): قال في الْبدائع: لوْ نذرَ أنْ يُضحّيَ شاةً، وَذلكَ في أيّام النّحرِ، وَهُوَ مُوسرٌ فعليْه أنْ يُضحّيَ بشاتين عندنا شاةٌ للنّذر وشاةٌ بإيجاب الشّرْع ابتداءً رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۰، ط: سعيد، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۳، كتاب التضحية ، ط: سعيد.

او هغه ښاروی حلال کړي؛ نو ښاروی حلال او غوښه يې پاکه ده.[۳]

د نوم بدلولو وروسته قرباني كول

ځيني خلک هر کال په بدلو نومونو باندې قرباني کوي. کله يې په خپل نوم کوي، کله يې د پلار په نوم کوي او کله يې د خپلې ښځې په نوم کوي دا صورت صحيح نه دی. که قرباني کوونکی د نصاب څښتن وي: نو د خپل طرف نه دې قرباني وکړي. که په خپل نوم يې نه قرباني کوي او په پردي نوم يې کوي: نو د قربانۍ وجوب به همداسې وربانديې پاتې وي، په پردي نوم قربانۍ کولو سره خپله غاړه نه خلاصيږي.[۱]

د نذر شوي قربانۍ غوښه

د نذر قربانۍ ټوله غوښه غريبانانو او مسکينانو ته ورکول واجب دي. د شتمنو خلکو لپاره د نذر د غوښې خوړل ناروا دي. نذر

[۳]: ...... (فحل ذبيحتهما، ولو) الذابح (مجنونا أو امرأة أو صبيا يعقل التسمية والذبح) ويقدر ، في الجوهرة: لا تؤكل ذبيحة الصبي الذي لا يعقل والمجنون والسكران الذي لا يعقل اهـ الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۲۹۷

[۱]: فتجب التضحية على حر مسلم مقيم موسر يسار الفطرة عن نفسه لا عن طفله. الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۱۵، ط: سعيد. وجميع ما ذكرنا من الشروط يستوي فيها الرجل والمرأة؛ لأن (شرائط الوجوب) : منها اليسار وهو ما يتعلق به وجوب صدقة الفطر ، كتاب الأضحية، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۲، ط: رشيدية. ددې وجې که سړی د نصاب څښتن وي او په خپل ځای ميرمنې ته قرباني ورکوي؛ نو په ده باندې خپله قرباني پاتې ده. ومنها أنها تقضى إذا فاتت عن وقتها، ثم قضاؤها قد يكون بالتصدق بعين الشاة حية، وقد يكون بالتصدق بقيمة الشاة، هندية ج: ۵ ص: ۲۹۴، ط: رشيدية.

کوونکی خپله او د هغه اصول- فروع یې نه شي خوړلای.(۲)

تنبیه

په کوم څاروي باندې چې په ځمکه باندې د ځملاستلو او پرېوتلو له وجې زخم پیدا شوی وي د هغه قرباني صحیح ده؛ خو غوره دا ده چې د داسې څاروي قرباني ونه کړي.(۱)

د قربانۍ نصاب

"قرباني په چا باندې واجب ده؟" ددې عنوان لاندې یې وګورئ!

نیت

د قربانۍ د صحیح کېدو لپاره د قربانۍ د څاروي د اخیستلو پرمهال د قربانۍ نیت کول او یا د څاروي د حلالولو پرمهال د قربانۍ نیت اړین دی، که نیت یې نه وي کړی بیا قرباني نه کیږي.(۲)
د قربانۍ په نیت یې څاروی واخیست: خو د څاروي د حلالولو

(۲) : (وَيَأْكُلُ مِنْ لَحْمِ الْأُضْحِيَّةِ ... هَذَا فِي الْأُضْحِيَّةِ الْوَاجِبَةِ وَالسُّنَّةِ سَوَاءٌ إذَا لَمْ تَكُنْ وَاجِبَةً بِالنَّذْرِ، وَإِنْ وَجَبَتْ بِهِ فَلَا يَأْكُلُ مِنْهَا شَيْئًا وَلَا يُطْعِمُ غَنِيًّا سَوَاءٌ كَانَ النَّاذِرُ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا لِأَنَّ سَبِيلَهَا التَّصَدُّقُ، وَالْحَاصِلُ أَنَّ الَّتِي لَا يُؤْكَلُ مِنْهَا هِيَ الْمَنْذُورَةُ ابْتِدَاءً ، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۷، ط: سعيد، وفي الهندية : وَأَمَّا فِي الْأُضْحِيَّةِ الْمَنْذُورَةِ سَوَاءٌ كَانَتْ مِنْ الْغَنِيِّ أَوْ الْفَقِيرِ فَلَيْسَ لِصَاحِبِهَا أَنْ يَأْكُلَ وَلَا أَنْ يُؤَكِّلَ الْغَنِيَّ، فتاوى هنديه ج: ۵ ص: ۳۰۰، الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب، ط: رشيدية.

(۱) : كُلُّ عَيْبٍ يُزِيلُ الْمَنْفَعَةَ عَلَى الْكَمَالِ أَوْ الْجَمَالَ عَلَى الْكَمَالِ يَمْنَعُ الْأُضْحِيَّةَ، وَمَا لَا يَكُونُ بِهَذِهِ الصِّفَةِ لَا يَمْنَعُ،څرګنده ده چې دا زخم پوره ګټه نه ختموي، ځکه یې قرباني صحیح کیږي. فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۹، ط: رشيدية، وفي الشامية: والمستحب أن يكون سليما عن العيوب الظاهرة، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۳، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۷۵، ط: سعيد.

(۲) : إذَا اشْتَرَى شَاةً يَنْوِي بِهَا الْأُضْحِيَّةَ. وَعَنْ مُحَمَّدٍ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – فِي الْمُنْتَقَى: إذَا اشْتَرَى شَاةً لِيُضَحِّيَ بِهَا وَأَضْمَرَ نِيَّةَ التَّضْحِيَةِ عِنْدَ الشِّرَاءِ تَصِيرُ أُضْحِيَّةً كَمَا نَوَى. فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۴، ط: رشيدية.

پر مهال ترې نيت هېر شو ؛ نو قرباني يې صحيح ده.[۳]

نيت صحيح نه دی

که د قربانۍ په څاروي کې يو شريک هم د ثواب نيت ونه کړو ، نه يې د واجبې قربانۍ نيت وکړ، بلکې د غوښې خوړلو يا يې د واده او بلنې په اړه نيت وکړو ؛ نو قرباني به يې صحيح نه وي او د ټولو قرباني به خرابه شي.[۱]

نيت مختلف وي

د قربانۍ په څاروي کې ځينو شريکو کسانو د نفل قربانۍ نيت وکړو، ځا د واجبې قربانۍ نيت وکړو. يا ځا د قربانۍ نيت وکړو او ځا د عقيقې نيت وکړو ؛ نو قرباني يې صحيح ده، ځکه چې ټولو د ثواب په نيت څاروي کې برخه اخيستې وه.[۲]

---

[۳] : ذَبحَ الْمُشْتَرَاةَ لَهَا بِلَا نِيَّةِ الْأُضْحِيَّةِ جَازَتْ اكْتِفَاءً بِالنِّيَّةِ عِنْدَ الشِّرَاءِ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۴، ط: رشيدية، الباب الثاني في وجوب الأضحية بالنذر.

[۱] : وَإِنْ كَانَ كُلُّ واحِدٍ مِنْهُمْ صَبِيًّا أَوْ كَانَ شَرِيكُ السَّبْعِ مَنْ يُرِيدُ اللَّحْمَ ..... لَا يَجُوزُ لِلْآخَرِينَ ..... وَالْمُسْلِمُ لَوْ أَرَادَ اللَّحْمَ لَا يَجُوزُ عِنْدَنَا، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، ط: رشيدية، وهكذا في البدائع ج: ۵ ص: ۷۲، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، ط: سعيد، ورد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، ط: سعيد.

[۲] : قَدْ عُلِمَ أَنَّ الشَّرْطَ قَصْدُ الْقُرْبَةِ مِنَ الْكُلِّ، وَشَمِلَ مَا لَوْ كَانَ أَحَدُهُمْ مُرِيدًا لِلْأُضْحِيَّةِ عَنْ عَامِهِ وَأَصْحَابُهُ عَنِ الْمَاضِي تَجُوزُ الْأُضْحِيَّةُ عَنْهُ وَنِيَّةُ أَصْحَابِهِ بَاطِلَةٌ وَصَارُوا مُتَطَوِّعِينَ..... وَشَمِلَ مَا لَوْ كَانَتْ الْقُرْبَةُ وَاجِبَةً عَلَى الْكُلِّ أَوْ الْبَعْضِ اتَّفَقَتْ جِهَاتُهَا أَوْ لَا: كَأُضْحِيَّةٍ وَإِحْصَارٍ..... لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنَ الْكُلِّ الْقُرْبَةُ، وَكَذَا لَوْ أَرَادَ بَعْضُهُمْ الْعَقِيقَةَ عَنْ وَلَدٍ قَدْ وُلِدَ لَهُ مِنْ قَبْلُ لِأَنَّ ذَلِكَ جِهَةُ التَّقَرُّبِ بِالشُّكْرِ عَلَى نِعْمَةِ الْوَلَدِ ... فَقَدْ أَرَادَ الْقُرْبَةَ. رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، الباب الثامن فيما يتعلق بالشركة في الضحايا، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۷، وفي البدائع: أَنَّ الْجِهَاتِ - وَإِنْ اخْتَلَفَتْ صُورَةً - فَهِيَ فِي الْمَعْنَى وَاحِدٌ؛ لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنَ الْكُلِّ التَّقَرُّبُ إِلَى اللَّهِ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۲، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، ط: سعيد.

د حلالولو پر مهال نیت هېر شي

که چا د قرباني په نیت څاروی پېرلی وي؛ خو د حلالولو پر مهال یې د قرباني نیت له یاده ووت، قرباني یې صحیح ده، بلې قرباني کولو ته یې اړتیا نشته.(۲)

(و)

وړوند

د وړوند څاروي قرباني نه صحیح کېږي.(۱)

وېښته

د قرباني کوونکي لپاره مستحب دي چې د ذوالحجې میاشتې له لیدلو تر قرباني حلالولو پورې وېښته او نوکان وانخلي، د قرباني د څاروي له حلالولو وروسته دي وېښتان

(۲): ذبح المشتراة لها بلا نية الأضحية جازت اكتفاء بالنية عند الشراء اهـ. الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۴، ط: رشيدية.

(۱) ولاتجوز العمياء والعوراء البين عورها ، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷ ، البحر ج: ۸ ص: ۷۶ ، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۳ ، ط: رشيدية ، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳ ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۵ ، أما الذي - مع إلى محل التضحية .

کم او یا وخریږي، که چا قرباني نه وي کړې، که هغه همداسې وکړي، شونې ده چې له ثوابه بې برخې نه شي.[۲]

د کوم څاروي وېښته چې پرې کړل شوي وي، قرباني يې صحيح ده.[۳]

د قربانۍ په نيت د څاروي له پېرلو وروسته د هغه وېښته پرېکول روا نه دي[۴] او که چا پرې کړي وي؛ نو د وېښتو بيه صدقه کول ورباندې واجب دي.[۱]

د واجبې او نفلي قربانۍ شراکت

د واجبې او نفلي قربانۍ کوونکي ټول په يو غټ څاروي کې

---

(۲) عن أم سلمة، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: من رأى هلال ذي الحجة، وأراد أن يضحي، فلا يأخذن من شعره، ولا من أظفاره. ترمذي ج: ۱ ص: ۲۷۸، ط: سعيد، و.مسئلة حديث الباب مستحبة والغرض التشاكل بالحجاج. العرف الشذي ج: ۱ص: ۲۷۸، ط: سعيد، عن عبد الله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «أمرت بيوم الأضحى عيدا جعله الله لهذه الأمة». قال له رجل: يا رسول الله أرأيت إن لم أجد إلا منيحة أنثى أفأضحي بها؟ قال: «لا ولكن تأخذ من شعرك وأظفارك وتقص من شاربك وتحلق عانتك فذلك تمام أضحيتك عند الله». رواه أبو داود والنسائي، مرقاة المفاتيح ج: ۳ ص: ۳۱۶، كتاب الأضحية، ط: امدادية.

(۳) وكذا تجزئ المجزورة، وهي التي جز صوفها، كذا في فتاوى قاضيخان، فتاوى هندية، ج: ۵ ص: ۲۹۸، الباب الخامس، ط: رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۵، بدائع ج: ۵ ص: ۷۸، ط: سعيد.

(۴) ولو اشترى شاة للأضحية فيكره أن يحلبها أو يجز صوفها فينتفع به لأنه عينها للقربة فلا يحل له الانتفاع بجزء من أجزائها قبل إقامة القربة فيها، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۰، الباب السادس، ط: رشيدية.

(۱) ولو جز صوفها يتصدق به، ولا ينتفع به، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۳۰۱، الباب السادس، بدائع ج: ۵ ص: ۷۸، فصل أما بيان ما يستحب قبل التضحية، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۹

شريکېدلای شي.[۲]

په وزن باندې د ځاروي خرڅول

په کومو ځايونو کې چې په وزن او تول سره ځاروي خرڅيږي، هلته د وزن په حساب باندې ځاروي خرڅول روا دي، ځکه چې په دېکښې ډېر کم خلک تاواني کيږي او بې تجربې خلک د زيان نه ساتل کيږي.[۳]

وصيت

چا چې د قرباني لپاره وصيت کړی وي او خپل مال يې هم پرېښودلی وي: نو ددې وصيت له مخې په ولي يا وصي باندې د وصيت پوره کولو په خاطر قرباني کول واجب ده.[۴]

په چا چې قرباني واجب وي او قرباني ونه کړي؛ نو په هغه باندې د قرباني لپاره وصيت کول لازم دي، که وصيت يې وکړ او مړ شو؛ نو په وارثانو باندې د هغه له لورې قرباني کول واجب دي، که وصيت يې نه وي کړی؛ نو د هغه له لورې قرباني نه ده واجبه، که څوک د هغه له لورې قرباني کوي هغه به نفلي ګڼل کيږي، په دې سره د

---

(۲): وَلَوْ أَرَادُوا الْقُرْبَةَ – الْأُضْحِيَّةَ أَوْ غَيْرَهَا مِنْ الْقُرَبِ – أَجْزَأَهُمْ سَوَاءٌ كَانَتْ الْقُرْبَةُ وَاجِبَةً أَوْ تَطَوُّعًا أَوْ وَجَبَ عَلَى الْبَعْضِ دُونَ الْبَعْضِ، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۷۱ ، ط: سعيد، فصل أما شرائط جواز إقامة الواجب.

(۳): احسن الفتاوى ج: ۶ ص: ۴۹۷، كتاب البيوع، ط: سعيد.

(۴): وَلَوْ أَوْصَى بِأَنْ يَشْتَرِيَ بَقَرَةً بِجَمِيعِ مَالِهِ وَيُضَحِّيَ بِهَا عَنْهُ فَمَاتَ وَلَمْ تُجِزْ الْوَرَثَةُ فَالْوَصِيَّةُ جَائِزَةٌ بِالثُّلُثِ بِلَا خِلَافٍ، وَيَشْتَرِي بِالثُّلُثِ شَاةً وَيُضَحِّي بِهَا عَنْهُ، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۶، الباب التاسع في المتفرقات، ط: رشيدية، ولو أوصىٰ أن يضحي عنه في عام من ثلث ماله جاز، فتاوى بزازية على هامش الهندية ج: ۶ ص: ۲۹۵، ط: رشيدية.

واجبې قربانۍ حکم نه ساقطیږي؛ خو مړي ته به د نفلي قربانۍ ثواب رسیږي.[۱]

هغه څوک چې په خپل مال کې د قربانۍ وصیت وکړي او مړ شي؛ نو ددې قربانۍ ټوله غوښه غریبانانو ته ورکول واجب دي، په شتمنو خلکو باندې ددې قربانۍ غوښه خوړل ناروا ده.[۲]

د وکیل سره د زیاتي شوي رڼپو حکم

هغه څوک چې په وکالت باندې د خلکو د قربانۍ ذمه داري اخلي، په هغه باندې ضروري ده چې د هر کس یوازې حساب له ځانه سره وساتي. د چا رڼپی چې زیاتي شي د هغو ورکول ضروري دي

که وکیل د قربانۍ کولو په بدل کې مزدوري غواړي؛ نو غوښتلی یې شي؛ خو مزدوري به د حلالولو د وخت نه وړاندې تاکي.[۱]

---

(۱): ومن ضحى عن الميت يصنع كما يصنع في أضحيته نفسه من التصدق والأكل والأجر للميت والملك للذابح، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد، فتاوى خانية على هامش الهندية ج: ۶ ص: ۲۹۵، ط: رشيدية، قال في البدائع : إنَّ الموت لا يمنع التقرب عن الميت بدَليلِ أَنَّهُ يَجُوزُ أَنْ يُتَصَدَّقَ عَنْهُ وَيُحَجُّ عَنْهُ وَقَدْ صَحَّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ضَحَّى بِكَبْشَيْنِ أَحَدُهُمَا عَنْ نَفْسِهِ وَالْآخَرُ عَمَّنْ لَا يَذْبَحُ مِنْ أُمَّتِهِ .... فَدَلَّ أَنَّ الْمَيِّتَ يَجُوزُ أَنْ يُتَقَرَّبَ عَنْهُ فَإِذَا ذُبِحَ عَنْهُ صَارَ نَصِيبُهُ لِلْقُرْبَةِ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۲، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، ط: سعيد، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد.)

(۲): وَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ إنْ بِأَمْرِ الْمَيِّتِ لَا يَأْكُلُ مِنْهَا وَإِلَّا يَأْكُلُ رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۶، ط: سعيد، والحاصل ان التي لايؤكل منها هي المنذورة إبتداءً ..... والتي ضحى بها عن الميت بأمره على المختار ، . شامي ج: ۶ ص: ۳۲۷، ط: سعيد، فتاوى بزازية على هامش الهندية ج: ۶ ص ۲۹۰، السابع في التضحية عن الغير ط: رشيدية.

(۱): فتاوى رحيمة ج: ۱۰ ص: ۴۵، ط: دار الإشاعت، كتاب الأضحية.

د پخولو لپاره وېښته سوځول

د څاروي د پښو او سر وېښته سوځول او د پوستکي سره يې پخول روا دي.[۲]

وکيل جوړول

په قرباني کې وکيل او ځای ناستی ټاکل روا دي

که يو سړي بل څوک د قرباني کولو وکيل او نائب جوړ کړو؛ نو د څاروي په اخيستلو او حلالولو کې د وکيل او ځای ناستي نيت پوره دی، وکيل او نائب دي د اصل له لورې د قرباني کولو په نيت حلاله وکړي.[۳]

وکيل جوړېدل-

په قرباني کې وکالت صحيح دی، دا چې يو کس د بل لپاره نائب او وکيل جوړ شي قرباني يې کولای شي، برابره خبره ده چې دواړه په يو هېواد کې وي او که په بېلو- بېلو هېوادونو کې وي، په حکم کې يې هيڅ توپير نه راځي.[۱]

---

(۲) : وَفِي الْخَانِيَةِ: الرَّأْسُ وَالْأَكَارِعُ لَحْمٌ فِي يَمِينِ الْأَكْلِقْلْتِ: وَلَعَلَّ وَجْهَهُ أَنَّ الرَّأْسَ وَالْأَكَارِعَ مُشْتَمِلَةٌ عَلَى اللَّحْمِ وَغَيْرِهِ. (رد المحتار ج: ۳ ص: ۷۷۳، مطلب في اعتبار العرف العملي، ط: سعيد؛ كفاية المفتي ج: ۵ ص: ۲۶۳.)

(۳) : وفي الكبرى : مصْرِيٌّ وَكَّلَ وَكِيلًا بِأَنْ يَضْحِيَ شَاةً لَهُ وَخَرَجَ إِلَى السَّوَادِ فَأَخْرَجَ الْوَكِيلُ الْأُضْحِيَةَ إِلَى مَوْضِعٍ لَا يَعُدُّ مِنَ الْمِصْرِ فَذَبَحَهَا هُنَاكَ فَلَوْ كَانَ الْمُوَكِّلُ فِي السَّوَادِ جَازَتْ أُضْحِيَّتُهُ عَنْهُ، فتاوی هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، الباب الرابع، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۸، ط: سعيد.

(۱) : مصْرِيٌّ وَكَّلَ وَكِيلًا بِأَنْ يَذْبَحَ شَاةً لَهُ وَخَرَجَ إِلَى السَّوَادِ فَأَخْرَجَ الْوَكِيلُ الْأُضْحِيَةَ إِلَى مَوْضِعٍ لَا يُعَدُّ مِنَ الْمِصْرِ فَذَبَحَهَا هُنَاكَ فَلَوْ كَانَ الْمُوَكِّلُ فِي السَّوَادِ جَازَتْ أُضْحِيَّتُهُ عَنْهُ، فتاوی هندية ج: ۵ ص:

د بېلګې په ډول: د کراچۍ مېشتی کولای شي چې په لاهور کې د قربانۍ کولو لپاره خاڼته وکیل ونیسي، یا دغه راز د سعودي مېشتی کولای شي چې په افغانستان یا بل هېواد پاکستان کې د قربانۍ لپاره وکیل ونیسي.

وزه

د وزې قرباني کول روا دي [۲] چې د یو کال وي، یو کلن توب یې شرط دی. [۳]

وزه یو کس قرباني کولای شي

یوه وزه یو کس قرباني کولای شي یعنې په یوه وزه کې یوه برخه وي. که په یوه وزه کې د قربانۍ په نیت دوه کسان شریکان شول، د دواړو قرباني نه صحیح کېږي. [۱]

۲۹۷، الباب الرابع، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۱۸، ط: سعيد.

(۲) : (أَمَّا جِنْسُهُ) : فَهُوَ أَنْ يَكُونَ مِنْ الْأَجْنَاسِ الثَّلَاثَةِ: الْغَنَمُ أَوْ الْإِبِلُ أَوْ الْبَقَرُ فِي كُلِّ جِنْسٍ نَوْعُهُ، وَالذَّكَرُ وَالْأُنْثَى مِنْهُ ، وقيل أيضاً والمعزُ نوعٌ من الغنم ، (الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۷ الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۲ ، كتاب الأضحية ، ط: سعيد، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۷ ، كتاب الأضحية، ط: سعيد، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۹ ، فصل في محل إقامة الواجب، ط: سعيد.)

(۳) : وأما سنُّه فقد ذَكَرَ الْقُدُورِيُّ – رَحِمَهُ اللَّهُ – أَنَّ الْفُقَهَاءَ قَالُوا: الْجَذَعُ مِنْ الْغَنَمِ ابْنُ سِتَّةِ أَشْهُرٍ وَالثَّنِيُّ مِنْهُ ابْنُ سَنَةٍ، وَتَقْدِيرُ هَذِهِ الْأَسْنَانِ بِمَا قُلْنَا لِمَنْعِ النُّقْصَانِ لَا لِمَنْعِ الزِّيَادَةِ؛ حَتَّى لَوْ ضَحَّى بِأَقَلَّ مِنْ ذَلِكَ سِنًّا لَا يَجُوزُ ، (الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۷ الباب الخامس ، رد المحتار ج: ۶ ص: ۳۲۱ ، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۷ بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۶۹ ، فصل أما محل إقامة الواجب)

(۱) : فَلَا تَجُوزُ الشَّاةُ وَالْمَعْزُ إلَّا عَنْ وَاحِدٍ، وَإِنْ كَانَتْ عَظِيمَةً سَمِينَةً. (الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۷ الباب الخامس ، ط: ماجدية، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۴ كتاب الأضحية، ط: سعيد ، بدائع

د قرباني په څاروي کې د واده لپاره شريکېدل

که چا د قرباني په څاروي کې د واده د دعوت لپاره يوه برخه ونيول؛ نو قرباني يې نه صحيح کيږي بلکې يوه بله برخه به قرباني کوي. (۲)

په څاروي کې ونډې

په لوی څاروي کې لکه غوا، غويی، مېښه، اوښ او اوښه يعني نارينه او ښځينه کې يې تر اوو کسانو ونډه اخيستلای شي، د اوو شريکوالو ونډه بايد يو برابر وي او د ټولو نيت بايد قرباني او يا عقيقه وي، که د چا ونډه له اوومې لږ وي، يا شريکوال اته وو قرباني يې نه صحيح کيږي. په قرباني کې د ځان ښودنې او غوښې نيت بايد نه وي. (۳)

الصنائع ج: ۵ ص: ۷۰، كتاب التضحية، فصل أما محل إقامة الواجب، تكملة فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۹، كتال الأضحية، ط: رشيدية)

(۲): أَمَّا الَّذِي يَرْجِعُ إِلَى مَنْ عَلَيْهِ التَّضْحِيَةُ فَمِنْهَا نِيَّةُ الْأُضْحِيَّةِ لَا تُجْزِي الْأُضْحِيَّةُ بِدُونِهَا؛ لِأَنَّ الذَّبْحَ قَدْ يَكُونُ لِلَّحْمِ وَقَدْ يَكُونُ لِلْقُرْبَةِ وَالْفِعْلُ لَا يَقَعُ قُرْبَةً بِدُونِ النِّيَّةِ؛ قَالَ النَّبِيُّ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «لَا عَمَلَ لِمَنْ لَا نِيَّةَ لَهُ» (بدائع ج: ۵ ص: ۷۱، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، ط: سعيد.)

(۳): عَنْ جَابِرٍ – رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ – قَالَ «نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – الْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ»... وَلَا يَجُوزُ عَنْ ثَمَانِيَةٍ لِعَدَمِ النَّقْلِ فِيهِ وَكَذَا إذَا كَانَ نَصِيبُ أَحَدِهِمْ أَقَلَّ مِنْ سُبُعٍ بَدَنَةٍ لَا يَجُوزُ عَنْ الْكُلِّ لِأَنَّهُ بَعْضُهُ إذَا خَرَجَ عَنْ كَوْنِهِ قُرْبَةً خَرَجَ كُلُّهُ. البحر ج: ۸ ص: ۱۷۴، ط: سعيد، بدائع ج: ۵ ص: ۷۰، فصلٌ أما محل إقامة الواجب، ط: سعيد، وَكَذَا قَصْدُ اللَّحْمِ مِنْ الْمُسْلِمِ يُنَافِيهَا، وَإِذَا لَمْ يَقَعْ الْبَعْضُ قُرْبَةً خَرَجَ الْكُلُّ مِنْ أَنْ يَكُونَ قُرْبَةً لِأَنَّ الْإِرَاقَةَ لَا تَتَجَزَّأُ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، ط: سعيد، وَإِذَا كَانَ الشُّرَكَاءُ فِي الْبَدَنَةِ أَوْ الْبَقَرَةِ ثَمَانِيَةً لَمْ يُجْزِهِمْ؛ لِأَنَّ نَصِيبَ أَحَدِهِمْ أَقَلُّ مِنْ السُّبُعِ، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۵. الباب الثامن، بدائع ج: ۵ ص: ۷۱، ط: سعيد، (وَإِنْ) (كَانَ شَرِيكُ السِّتَّةِ نَصْرَانِيًّا أَوْ مُرِيدًا اللَّحْمَ) (لَمْ يُجْزِ عَنْ وَاحِدٍ) مِنْهُمْ لِأَنَّ الْإِرَاقَةَ لَا تَتَجَزَّأُ هِدَايَةٌ لِمَا مَرَّ أَيْ مِنْ أَنَّ بَعْضَهَا لَمْ يَقَعْ قُرْبَةً، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۶، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۸، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۵، ط: رشيدية، هندية ج: ۵ ص: ۳۰۴، الباب الثامن، ط: رشيدية،

وازده

د قربانۍ د څاروي وازده پلورل صحيح نه دي، که بيا هم چا وپلورل د پلورل شوي وازدې بيه صدقه کول لازم دي.[۱]
له ټوليزې قربانۍ کوونکو ادارو سره ډېرې وازدې جمع کېږي؛ نو د قرباني کوونکو په اجازه دي وازده وپلوري او د پلورل شوي وازدې بيه دي ور (مستحق) خلکو ته ورکړي.

(۵)

د هوسۍ قرباني

هوسۍ پاکه ده او د غوښې خوړل يې روا دي: خو دا چې دوی وحشي څاروي دي او د وحشي څاروي قرباني نه کيږي، ددې وجې د هوسۍ قرباني نه کيږي. د خلکو سره د عادت کېدو او نه عادت کېدو له وجې په حکم کې هيڅ توپير نه راځي.[۲]

وَمِنْهَا أَنْ لَا يُشَارِكَ الْمُضَحِّيَ – فِيمَا يَحْتَمِلُ الشَّرِكَةَ – مَنْ لَا يُرِيدُ الْقُرْبَةَ رَأْسًا، فَإِنْ شَارَكَ لَمْ يَجُزْ عَنْ الْأُضْحِيَّةِ، بدائع ج: ۵ ص: ۷۱، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب ، ط: سعيد.

(۱) : وَلَا يَحِلُّ بَيْعُ شَحْمِهَا وَأَطْرَافِهَا ..... فَإِنْ بَاعَ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ نَفَذَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ.

وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ لَا يَنْفُذُ لِمَا ذَكَرْنَا فِيمَا قَبْلَ الذَّبْحِ وَيَتَصَدَّقُ بِثَمَنِهِ. (هندية ج: ۵ ص: ۳۰۱، الباب السادس، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۸۱، فصلٌ أما بيان ما يستحب قبل التضحية و عندها أما التصدق باللحم. البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۸، كتاب الأضحية ، ط: سعيد.)

(۲) : ولا يجوز في الأضاحي شيئ من الوحش، الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، كتاب الأضحية ، باب الخامس، وان ضحى بظبية وحشية أنست وببقرة وحشية أنست لم تجز، الهندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، كتاب الأضحية، باب الخامس، بدائع الصنائع ج: ۶ ص: ۶۹، فصلٌ أما في محل إقامة الواجب، البحر الرائق ج: ۸ ص: ۱۷۷، ط: سعيد، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۲، ط: سعيد.

په بل هېواد کې قرباني کول

که څوک بل هېواد ته د قربانۍ لپاره پیسې ولیږي او هلته قرباني کوي؛ نو کولی یې شي؛ خو دومره ده چې د قربانۍ ورځ به په دواړو هېوادونو کې یوه وي، که په دواړو هېوادونو کې د قربانۍ ورځ شریکه نه وي بیا یې قرباني نه کیږي، د بېلګې په ډول: په سعودي کې د پاکستان د حساب سره سم یوه ورځ وړاندې اختر پیل کیږي او په پاکستان کې یوه ورځ وروسته؛ نو د سعودي د اوسېدونکي لپاره په پاکستان کې د اختر په لومړي او دویمه ورځ قرباني صحیح ده؛ خو دریمه ورځ یې قرباني نه صحیح کیږي، ځکه چې په پاکستان کې د اختر دریمه ورځ په سعودي کې د اختر ورځې ختمې شوي وي، دغه راز که د پاکستان مېشتي خلک غواړي چې په سعودي کې قرباني وکړي؛ نو د سعودي د اختر په لومړي ورځ یې نه شي کولای، ځکه چې د پاکستان مېشتي خلکو لپاره د سعودي د اختر لومړۍ ورځ دلته اختر نه وي، پکار ده چې د اختر په دویمه او دریمه ورځ هلته قرباني وکړي. (۱)

(ی)

(۱) : قالَ فِي البدائع : لِأَنَّ الذَّبْحَ هُوَ الْقُرْبَةُ فَيُعْتَبَرُ مَكَانُ فِعْلِهَا لَا مَكَانُ الْمَفْعُولِ عَنْــهُ. وَإِنْ كَانَ الرَّجُلُ فِي مِصْرٍ وَأَهْلُهُ فِي مِصْرٍ آخَرَ فَكَتَبَ إِلَيْهِمْ أَنْ يُضَحُّوا عَنْهُ رُوِيَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ اعْتَبَرَ مَكَانَ الذَّبِيحَةِ فَقَالَ: يَنْبَغِي لَهُمْ أَنْ لَا يُضَحُّوا عَنْهُ حَتَّى يُصَلِّيَ الْإِمَامُ الَّذِي فِيهِ أَهْلُــهُ، وَإِنْ ضَحَّوْا عَنْهُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ لَمْ يُجْزِهِ، وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ. (بــدائع ج: ۵ ص: ۷۴. ط: ســعید، هندیة ج: ۵ ص: ۲۹۶، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۵، (فتجب التضحیة .... (فجر) نصب علــی الظرفیة (یوم النحر إلیٰ آخر أیامه) (قوله نصب علی الظرفیة) أیٔ لقوله تجب ، وهذا بیان لأول وقتها مطلقاً للمصري والقروي. الدر مع الرد ج: ۶ ص: ۳۱۳، ۴۱۶.

يو سترګی

په يوه سترګه ړوند څاروي قرباني نه صحيح کيږي.[۱]

د يهودو د لاس حلاله

کوم يهود او نصارى چې خپل مذهب، پيغمبر او اسماني کتابونه مني، د لمر او ستورو عبادت نه کوي او څاروي هم د الله تعالى په نوم حلالوي؛ نو د داسې يهودو او نصارى وو د لاس حلال شوى څاروى حلال دى او غوښه خوړل يې روا دي[۲]

خو د اوسني دور يهود او نصارى بې دينه، دهريه، د لمر او ستورو عبادت کوونکي خلک دي. يوازې په نوم اهل کتاب پاتې دي. د مذهب سره يې هيڅ اړيکه نشته، بلکې د دوى د ويناوو څخه مالوميږي چې هغوى د مذهب نه بيخي بې خبره دي؛ نو داسې يهودو او نصاراوو ته "اهل کتاب" ويل هم صحيح نه دي، د دوى د لاس حلال شوى څاروى هم حلال نه دى، ددې وجې د پاک او حلال شي په شتون کې بايد خلک ناپاکو شيانو ته تګ ونه کړي. بلکې د دوى د لاس د حلالوونکي شيانو څخه په مکمل ډول ډډه وکړي؛

---

(۱): ولا تجزئ العمياء والعوراء وهي ذاهبة إحدى العينين بكمالها، (المحيط البرهاني، الفصل الخامس، فيما يجوز من الضحايا و مالا يجوز، ج: ۸ ص: ۴۶۶، المجلس العلمي إدارة القرآن، بدائع الصنائع ج: ۵ ص: ۷۵، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب. البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳).

(۲): وطعام الذين أوتوا الكتاب حلٌ لكم (سورة المائدة آيت: ۵)

(۱) د نصاراوو د حلالې همدا حکم دی.

په يوولسم يا دولسم د ذي الحجې باندې د اختر لمونځ وشو

که د سخت طوفان، باران يا امنيتي خنډونو له امله د اختر لمونځ د لسمې ذي الحجې څخه پاتې شي، په يوولسمه يا دولسمه د ذي الحجې ادا شي؛ نو د اختر د لمانځه وړاندې هم د قرباني څاروي حلالول روا دي. (2)

ستاسو د دعاګانو په هيله: محمد يعقوب (نائل، حقاني)

۲۰۱٦ء/٤/۱۱/ موافق: ۱٤۳۸هـ/صفر/۳/

---

(۱) : روى ابن الجوزي بسنده عن على رضى الله عنه قال لا تأكلوا من ذبايح نصارى بنى تغلب فانهم لم يتمسكوا من النصرانية بشئ الا شربهم الخمر ورواه الشافعي رحمه الله بسند صحيح عنه، (التفسير المظهري ج: ۳ ص: ۳۴، سورة المائدة، آيت : ۵)

(۲) : إذا تَرَكَ الصَّلَاةَ يَوْمَ النَّحْرِ بِعُذْرٍ أَوْ بِغَيْرِ عُذْرٍ لَا تَجُوزُ الْأُضْحِيَّةُ حَتَّى تَزُولَ الشَّمْسُ وَتَجُوزُ الْأُضْحِيَّةُ فِي الْغَدِ وَبَعْدَ الْغَدِ قَبْلَ الصَّلَاةِ؛ لِأَنَّهُ فَاتَ وَقْتُ الصَّلَاةِ بِزَوَالِ الشَّمْسِ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ وَالصَّلَاةُ فِي الْغَدِ تَقَعُ قَضَاءً، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۵، الباب الثالث في وقت الأضحية، ط: رشيدية.

